# (٤)

# قطعات
# او
# متفرقات

# څلورَم ټوک

## قطعات او متفرقات

جگي جگي نفسه ډېر در پسي ولاړم
ته هم څه خو اوس په ما پسي روان شه

چه دِ وې هغه خواږه و تا در کړه
دَ تروو دَ ترخو هم مزه چشان شه

ډېر مي ستا په رضا خوب تر څاښته کړي
اوس راضي له ما په خوب کښ تر اذان شه

زه څلوېښت کاله لتا سَرَه کافر وم
ته له ما سَرَه څو ورځي مسلمان شه

حميده مي دِ بدل به ذميمه کړل
څه فساد دِ په ما وکړ کور دِ وران شه

په هرور دِ لکه سپي و دَرَولم
له دې تگه پويه منعه يَو زمان شه

په يوه خاطر مي زر انديښني ټولي
دا همه شوميت دَ تا دَي ورک دِ ځان شه

پيمانې دِ دَ هوا ځما په لاس کړې
واړه باد پرې پيمايم سوړ دِ دکان شه

کله ما وته وَيل مال و ملک کړې
چه عزت په مال و ملک کښ دي پوهان شه

هر چه پلار نيکه دِ کړي هغه کار کړه
دَ ناموس دَ ننگ پکار کښ نامي ځوان شه

کله ما وته ويل د خان او مير کړې
چه ورځه له خان او ميره همزبان شه

که دروغ دَي که رشتيا ورته ئې وايه
مسخره غنُدِي د ده سَرَه خندان شه

کله ما وته وَيل کړې چه خدمت کړه
پخدمت کښ دلنشين دَ شاهجهان شه

حق ناحق خونونه کړه دا مسلمانو
پهر شان ئې خوارَوه باندي حريزان شه

کله ما وته وَيل کړې هر څه پرېږده
په جمال دَ ښو محبوبو نگران شه

په هر لوري درته کښېنوه پخنگ کښ
بهره مند ئې له صحبته په هر شان شه

کله ما وته په ياد تازي تُرکي کړې
چه دَ ښکار په هوا سپور په عراقيان شه

په صحرا ئې زغلوه هوا هوس کړه
دَ بازونو ښکار کوَه غره پڅان شه

کله ما ورته وَيل دَ گل ولاي کړې
چه باني دَ عمارت باغ و بستان شه

که په مزدکه په بېگار ځايونه ساز کړه
په کښ ناست اوسه صاحب دَ ښه مکان شه

کله ما وته وَيل زري جامې کړې
چه زريني جامې آغونده رخشان شه

په حشمت دَ زلوچو دَ پاسه کښېنه
په دغه کار کښ يا فرعون يا هامان شه

مطربان دِ سرودونه درته کاندي
ته يې خوښ پصوت او غاړه په الحان شه

کله ما وته وَيل کړې شعر ښه دي
سخندانو سَرَه کښېنه سخندان شه

دا شماره ډېره مجمل دَه چه مي ووېِ
مفصل ئې ته پخپله ترجمان شه

هر چه ته و ما ته وايې هغه کار کړم
ولي کوم په کښ حاصل دي خود گويان شه

زه چه ستا په رضا درومم سود مي کُوم دي
چه به ستا په رصا درومي سود ئې زيان شه

آواره دِ په خوښي دَ اماره کړم
له دې هسي بده خويه لېږ پښېمان شه

چه دا هسي بېحسابه فرمايش کړې
پدا هسي فرمايش څه خو نادان شه

وازه کړې دِ دَ آز دَ حرص خوله ده
ستا مي مات دا قناعت په سنگ دندان شه

دَ غفلت په گهواره کښ فراغت کړې
خداي پرېکړلي دِ د گهوارې رېسمان شه

ستا لښکرو مي پزړه ده ميشته کړې
دا لښکر دِ په تېره توره طوفان شه

که قدم په نفس کښېږدې اې خوشحاله
نور ته هاله دَ دې دوو کونو سلطان شه

په هيڅ رنگ به دَ عالم له خولې خلاص نشې
که په خوي کښ له فرښتو شې برابر

په خواني کښ که تقويٰ کړې دا به وائې
له هَوَسه وَووت خاوري ئې په سر

په پيري کښ که هَوَس کړې دا به وائې
چه په سپينه ږېره څه کا گيدي خر

له خبرُو که خوله ونيسې خاموش شې
نوم به زر کښېږدې پتا دَ غوبل ستور

که خوله پرانزې هر چا ته دا به وائې
چه گړېږي ماغزه نلَري دَ سر

که له خلق گوښه گير شې دا به وائې
چه ځان روغ په خلق نه ويني مگر

که هر چا لَره ور درومې دا به وائې
چه سبا په بېگاه گرزي ور په ور

که دنيا ډېره گټې پځان ئې نخورې
دَ شوم نوم به پتا کښېږدي خپل پسر

که په هر چا لوسته کړې دَ خپلو زرو
دا به وائي چه د غلا ئې دِي دا زر

که توانگر شې د قارون په نام باله شې
بې شعور کم بخت باله شِي نا تونگر

که ښې ښې خبري وکړې پځواب کښ
وائي څه حرامزاده دي لنډور

که ځواب و چا ته نه وَرکړې سرکوز کړې
وائي هيڅ ندَي غولولَي بې هنر

که په توره مړَني شې گڼهَ وې ئې
ليوني جاهل دِ بولي هم ابتر

که له جنگه په ستنه اوسې وار گورې
وائي ځان ساتِي نامرد دي نه زړه ور

که زربفت ميلک آغوندې تکليف کړې
وائي دا دَ ښځو خوي دئ نه دَ نر

که ساده جامې آغوندې درته وائي
چه دَ شوم او دَ ممسک دي هسي چر

که سفر دَ هر ديار کړې درته وايي
چه حرص ئې گرزوي په هره لير

که په کور کښېنې هيڅ لوري وته نه ځې
وائي کښيناست پخپل کور لکه دختر

که لونډ ګرزې واده ته هَوَس نکړې　　بیا دِ بولي حیز نامرد مُرده ذکر
که واده وکړې بیا دا درباندي وائي　　آزاده ښه نه وُ شو په بلا سر
دا څه زر دا هسې رنګ ملامت نور شته　　که ئې کښم درته به ساز کړم یو دفتر
خداي لا هم ځنې خلاص ندي که ئې ګورې　　چه ترسا ئې دَ عیسي بولي پدر
زه او ته دَ چا په یاد په څه شمار یُو　　دَ عالم له خولې خلاص نه وُ پیغامبر
نیت له هر چا سَرَه ښه لَره خوشحاله
په هر کار کښ دَ سړي دئ نیت رهبر

چه صرفه کاندِي په سر　　یا صرفه کاندِي په زر
نه به خان نه به سلطان شي　　نه به خپل کاندي کشور
چه په ځان مَرَني نه وي　　مړنتوب نکا لښکر
یا تخت دَي یا تخته ده　　دَ شاهانو ځاي مقر
که ئې ګورې ژوندون دئ　　په جهان تر مرګ بتر

قسمت څو چاري را وکړې　　نندارہ دَ درست جهان شوم
نه ګناه نه مي تقصیر وُ　　دَ بادشاه په بند زندان شوم
عالمګیر چه په تخت کښیناست　　له قرانَ په قران شوم
له بګرامه پښې تَړَلي　　هندوستان لَره روان شوم
په دهلي په رنتهبور کښ　　درې څلور کاله حیران شوم
په آګره کښ مي پښې وا شوې　　بیا نوکر دَ بد سلطان شوم
دَ شجاع په شور ور شر کښ　　خپل وطن وته روان شوم
زړه مي درست سَرَه داغ داغ دئ　　په تلاښ ئې دَ درمان شوم
لنګرکوټ مغلو ساز کړ　　زه په ننګه دَ افغان شوم
که یوسف وُ که مندړ وُ　　زه دَ دواړو نګهبان شوم
دَ ایمل فتور اغاز شو　　دَ مهمندو همعنان شوم
د مغلو مي بلا شوه　　غر په غر په کوهستان شوم
خپل اولس مي مغلي شو　　نا امید له خاندان شوم
شوم بهرام مي دَ ځان غم شو　　زه هم غم دَ ده د ځان شوم
پخو کاله دا شورش وُ　　په ملکونو سرګردان شوم

که اولس مي بېگانه وي
په هر کام به زه کامران شوم
سَمَه سوات په یوسفزئي
دَ هر چا کَره مهمان شوم
فضولي را کړله نشي
څو همت په هسي شان شوم
په ټوله دَ یوسفزئي
مظفر په هر میدان شوم
بیا مي سوات سمي ته شا کړه
پخپل غره پخپل مکان شوم
نا خلف مي مخالف شو
زه دَ ده پکار حیران شوم
په شامت دَ ده تر اوسه
درته څه وایم څه شان شوم
په گنُبت چه خټک ومړل
یا چه زه زخمي پڅان شوم
یا چه راغلم چوتري ته
شاهزاده لره روان شوم
یا چه ناست په نطارمېور وم
دَ هر کام به په ارمان شوم
چوتري دي څو بولاق دي
نندارچي ئې دَ زبان شوم
که مي زور لکه دَ فیل دئ
و هر چا وته تاتوان شوم
د همه شامت دَ ده دئ
چه محتاج دَ آب و نان شوم
که مي خپل دئ که پردي دئ
زه له واړه په افغان شوم
و هر چا وته لښکر یم
ناخلف وته کاروان شوم
دَي لښکر را پسي بیائي
زه له ده نه گریزان شوم
ناخلف را پسي سر دئ
زه په کوه په بیابان شوم
چه کوکب مي یاري نکا
پدا څه که کوکب دان شوم
چه مي کار شو له نادانو
که هوښیار وم هم نادان شوم
چه مي بد زوول له ځانه
خود پخود بلا دَ ځان شوم
دا څه چرغ څه ئې گردش دئ
گول په چارو د آسمان شوم
زر څلور اویا هجرت وُ
هغه کال چه بندیوان شوم
اوس زر نوي کال دَ هجرت دئ
چه باني د دې بیان شوم
هغه زه هغه مي زړه دئ
په کالونو که کلان شوم
که مي بخت که مي لښکر دئ
لا پخته په امتحان شوم
څو د به دَئ هسي گردش کا
چه په کام دَ دښمنان شوم
که مي آړوي له هوډه
نه یم مرد که ترې ترحان شوم
واړه وشول شپاړس کاله
چه پدا طور پرېشان شوم
په آته شپېته کښې زه یم
پسرلي تېر شو پخزان شوم

دا هم هيڅ که پدا عمر — دَ آسمان په سود و زيان شوم
زيان ئې هم راته آسان دئ — چه له سودَ ئې پښيمان شوم
ځواني لاړه پيري راغله — برمنډ گل دَ گلستان شوم
که مي غاښ نشته پخوله کښ — مست هاتي يم بې دندان شوم
لکه نمر په وخت دَ عصر — په هر کار هسي ناتوان شوم
اوس نور غم را سَرَه نشته — خو په غم د عابدخان شوم
څو چه کام دَ ده دَ زړه دئ — که مامران شي زه کامران شوم
که مي دا مقصود حاصل شي
گڼه سر دَ سَرَه ځوان شوم

که پادشاه دَ درست جهان شي په تخت گښيني — ترس به کا دَ پادشاهي له زوال نه
که لوئي دَ سکندر وه خو بيا هيڅ شوه — که قصه شي دَ يوسف له ښه جمال نه
څو سکندره څو يوسف نه درته ياد کا — که خبر واخلې له نمره له هلال نه
که جمشيد وُ که کسري وُ که خسرو وُ — واړه وکړله وداع له ملک و مال نه
دَ شاهانو کپرئ دئ خاوري ندي — چه پراته دِي وکړه سوال له هر سفال نه
دا قحبه که په رنگ ښه ده خوي ئې گوره — جدائي ورځني ښه ده دَ وصال نه
که لقمان که افلاطون وُ واړه تېر شول — چه ئې داد ورکړ دَ عقل قيل و قال نه
هر کمال سَرَه زوال عاقلان ويني — ځکه تښتي دَ دنيا له هر کمال نه
دَ دنيا عيشونه واړه درگذر دي — غواړه عيش دَ عقبيٰ دَ زوالجلال نه
عاقلان که دَ دنيا په حال خبر شي — ژر به غواړي خپل خلاصي د دې جنجال نه
که طوعًا ده که کرهًا پدا هفتاد کښ — ما رخصت وکړ دَ ملک مال منال نه
دَ ايمانه سَرَه مرگ عظيم نعمت دئ — خدايه دا نعمت اوس ژر ورکړه خوشحال نه
که خوشحال به پدنيا لرې څو کاله — سکه بهرام به ته تېر نکړې تر سېږ کال نه
بد قرين لکه دوږخ دَئ پدنيا کښ — ما ئې خلاص کړه له عذابه له وبال نه
هر سړی که په دنيا کښ ژوندي گرزي — خلاص به نه وي دَ دنيا دَ ملک و مال نه
په حيات صورت هر گوره ډېر ضرور شي — لاس وکښنه دَ دنيا دَ ملک و مال نه
هر ساعت پما يَو حال دئ چه تېرېږي — چه جدا يم له اطفاله له عيال نه
خپل پردي مي څوک و نه ليدل رښتيني
چه خبر شوم دَ وگړي دَ احوال نه

یَو هسي ستوري وَخوت پدا بده زمانه | چه گز ئې دَ لمبه غنُدِي تر خوله څي زبانه
عالم وائي چه نخښه دَ وبا دئ يا د قحط | زه دا وايم چه نه دَ قيامت ده نښانه
قيامت دا هسي رنگ نه وِي نور څه وي | چه زوي ئې بادشاهي کاپلار ئې ناست بنديخانه
دا کال مي پحساب کښ پوره عين غين هې[1] ؤ | پخپله به پرې پوه شي چه سړی وي فرزانه

دَ عالم په جفا هيڅ خبر دار نه وم | نيک و بد و ما ته دواړه وفا دار وو
لکه کوڼ سړی په ډېرو نارو آروي | دا يُو اوس دَ نيک و بد و جفا آر وو
چه مي گل گڼل همه واړه اغزي وو | چه دارو مي گڼل کل واړه پرهار وو
چه هميش به ئې څما په سر دعا کړه | چه مي وليدل همه واړه مکار وو
بيوفا يارانو واړو راته شا کړه | ښه چه واړه لما ولاړل په څه کار وو
په زرگونو کښ مي يو سَړی بيا نموند | چه ئې ما سَرَه ياري کړه بيا کنار وو
که دَ عمر بقا نشته ساعت نيژدې دي | څوک دِ هيڅ ښادي و نکا خود به وار وو
سلم و تور غنُدِي فلک هسي پرې نښول | ډېر نا اهل دَ کردار له لاسه خوار وو
چه کفران ئې دَ نعمت کاوه ليدل مي | فضيحت رسوا په خلق خوار زار وو
دې روزگار دَ هغو واړو کار تمام کړ | څوک چه ما حواله کړي په روزگار وو
آرويدل مي په غلط غلط حکمونه | روستائي قاضي دوه مله سَرَه په دار وو
هيڅ حکيم به ئې دَ رنځ علاج و نکا | دَ هر چا چه خپل خويونه لړم مار وو
چه مي مله گڼل په دواړو جهانونو | هم هغه لما پدا جهان ويزار وو
ما ډېر وليدَل دَ بام په سر ختلي | بيا دَ بام له سره کښته نگونسار وو

ياوه سړی هغه دئ | چه ئې عينِ نه وي په واک
صحبت په هفته بويه | که هر څو يې قوت ناک
وجود لکه مايه دئ | دا اُوبه ئې دي اوتاک[2]
څو غوړ وِي هونبره بل وي | څراغ بې غوړو وي هلاک
له ځوانو صحبت ښه دئ | له زړو دِ نشي ژواک
چه تېر شي تر پنځوسو | ډېر دخول دِ گنې باک

---

١. ١٠٧٥.
٢. ادراک.

صحبت دِ کا په مني — يا په حوت يا په ويساک
په باغ کښې صحبت ښه دئ — چه بلبلي کا بلغاک
چه دا هوسناکي کا — تل دِ کا گرم خوراک
په عطر کښې دِ اوسي — ښه مهين دِ کا پوشاک
تودې اُوبه دِ تل وي — چه په غسل کا ځان پاک
دخول دَ حيض بد دَي — يا پر مي شي يا سوزاک
له پاکي دِ صحبت کا — دَ ناپاکي په سر خاک
که خورې فلاسفه[1] خوره — هم ئې باه شته هم امساک

دَ ما مشران زويه — چه ئې کار شو امتحان
اشرف خان هم کار فرما دئ — هم کار کُن دئ هم کاردان
سدو په کار پوهيږي — که کار کُن ندي په ځان
يحيیٰ وَکار ته زغلي — کار ويران کا په زمان
عابد خان په کار کامل دئ — کار فرما دئ په ښه شان
خالد خان پکار و بار کښې — کله ښه کله نادان
ښه زوي دَ بابا دل[2] دئ — تل دِ ژوي پجهان
په باز چه نظر وکړې — په کښې شته دَ مردئ شان
که خداي ئې راته پرېږدي — ذوالفقار دئ صدر خان
بهرام هم کار فرما دئ — هم کار کُن دئ زړه پرېشان
دا نور چه غټ واړه دي — واړه ښه کړه پاک سجان
پوره په اَويه راغلم — چه مي وُوې دا بيان
زر دو نوي دَ هجرت دي — گوره څه وکا آسمان

سره وَرغلل دوه غرونه — يَو مغل دويم پښتون
رنځ شدت ئې هسي نه دئ — چه څوک صاف کا خپل لړمون
خدايه ته دانا بينا يې — هم بېچون هم بېچگون

---

۱. يعني معجون فلاسفه.

۲. محشي ورته ليکي چه مطلب عبدالقادر دئ، چه دَ خان يَو اديب او شاعر زوي دي.

ته حکیم یې پرې پوهیږې | زه پرې نه پوهیږَم چون
واړه ستا په حکم کیږِي | که ګندهون دَي که شلوون
دا غمونه ته توانیږې | که له ملکه شي بیرون
که بیرون نشي له ملکه | غم لرې پکښې زرغون
که رودونه پار پرار وو | سږ دَ وینو دي جیحون

په هر حال شکر بایده دئ
تبه ښه ده نه طاعون

دَ خوشحال خټک دَ حال پوښتنه څه کړې | په درون کښې ئې ګرومونه دي ځګر
له وجوده ئې یو هسي څیز پیدا شو | چه په خوي تر خرس و خوګه دي بتر
په دروغ په بې شرمي په بد قولي کښې | یا جهود دئ یا ترسا دئ یا کافر
په خست په بخل لا بده بلا دئ | یو درم په پېرزو نکا نه په پدر
خو یکلخته دَ خپل ځان په شیرازي دئ | شیرازي ئې پکار نه ده دَ پسر
په خست ئې څو زرګونه سره ټول کړه | لا هم هسي ور پسې دي ګیدي خر
که دَ پلار خوني ئې مري پدوه روپیه | هغه دوه روپۍ به ځار نکا تر سر
دي په مثل لکه تروړي زري پوست شول | ګوره څوک به ئې له تنه کا بدر
په وسواس په نامردي په وهم وبره | لا په زړه به وِي کیدږ تر ده زړه ور
پلار نیکه ته ئې نه خوي دئ نه ئې رنګ دئ | درست په خوي په بوي پیدا دئ دَ مادر
دَ مور پلار نیکه ئې واړه پدر کُش وو | دَ چارپایو دَ ددانو په سِیَر
دَ هر چیز رجوع وَاصل وته کیږي | په فرزند کښې زیات دَ مور کیږي اثر

پنجشنبه مي وار پرې ساز شه | څه جمعه څه پنجشنبه
یکشنبه ته ئې پرې مړده | که ته مومې ګنج شنبه

ارتینې پمثال ګل دئ | ګل تازه ښه دئ خوشحاله
تر شل کاله تازه ګل ده | بده نه ده تر دېرش کاله
چه تر دېرش کاله زیاتیږي | پرېواته ئې دِئ له خیاله
چه دَ سر وېښته ئې سپین شي | نور ئې څه له خط و خاله
که درست ځان زرو زېور کا | سود ئې کوم دَئ له جماله

زوړ چه ښه جمال ته ګوري / بیا ئې ځوان شِي له وصاله

چه مرګ شته په دنیا کښ / ښادي نشته په جهان
دَ خیال مېرمني جونه / دَ دماغ ځښتن ځوانان
چه راشي هسي درومي / لکه ګل دَ ګلستان
تله دي له جهانه / په افسوس او په ارمان
موږ لَکه لاله یُو / پدا لږ عمر خندان
شمع ته نظر کړه / چه په څو ژاړي خپل ځان
بار تړه خوشحاله / دَ جرس آروې فغان

سخاوت او شجاعت سَره زیبا دي / بهادر به خالي نه وي له سخا
بهادر څخه چه خوي دَ سخا نه وِي / خرس او خوګ غُندِي ئې وګڼې دانا
خرس او خوګ که هَرَه ورَځ کاندي خونونه / خرس او خوګ څه مَړَني نه شو پدا
په سرېو سر آسان دئ زر پرې ګران دئ / سر ښندِي دَ زرُو نکاندِي عطا
هغه هسي سر چه غوږ ور سَرَه نه وي / سر دَ خره دَي چه هیڅ نلَري بها
مېرنتوب دَ دانایانو په ښه رنګ دئ / نادانان دَ کشتن نلَرِي پروا
ځوانمردي په سر ښندل په زر ښندل ده / که ځوانمرد یې راوړه خوي دَ مرتضا
نه به مال دَ چا نقصان په ورکَول شي / نه به وَمرِي چه دَ چا نه وِي قضا
نامردانو ته دا دواړه توکه ګران دي / ځوانمردان دِي پدا دواړه بې همتا
مه په حلق کښ دَ مزري دَ مار پرېوزه / مه ممسک شه مه مسرف زده کړه لما
ځوانمردان تر سر دَ ننګ دَ پاره تیر شِي / ترو سکه مال په کوم حساب دي د دنیا

مصلحت لکه تېپک دَي / ستا مراد لکه نخجیر
که د ښه ګذار پکار وِي / تر اول ئې کړه ښه ځیر
په ګذار کښ هَول مکړه / په خپل ځان اوسه خبیر
نور ماشه کړه باندي کوزه / لر و بر مکړه نظیر
زه خوشحال ختک ضامن یم / که خطا دِ شِي یَو تیر
چه دَ مرګ اسباب پوره شو / هم دغه ګڼه تقدیر

شیطان په مثل باد دئ　　ځوک به خلاص نه وي له باده
سړي دَئ لکه بوټي　　دا دنیا مي لار دَ باد ده
چه بیخ دَ وُني ټینګ وي　　غم ئې هیڅ نه وِي له باده
چه بیخ ئې بر سېرن وي　　خلاص به نه وِي له فساده
علم ځو دَ سړی ډېر دئ　　عطائي وي له اوستاده
که دا وُني دِي که بوټي　　واړه ټینګ دِي له بنیاده

سبړکال چه دَ عواص[1] دي　　په هر لور دِي تبجن ډېر
دَ مرګ تبي یَو ځېر دي　　دَ ژوندُون تبي بل ځیر
تر میاشتي تبجن ورشي　　لا تر مایشتي تېر و بېر
بخت ناک په دوه هفتې شي　　تر فاني جهانه تېر
ژوندي وُ درویشت کاله　　زلمي توب شو باندي زلېر
ځو ښه کښلي مخوُنه　　دِي تر تورو خاورو زېر
په رنګ دَ چنبې ګل و　　چه ترې تېل شي دَ اجمېر
په خوبي لکه ملک و　　په تقوي په طاعت ډېر
دَ پلار په زړه ئې مرګ دئ　　لکه زخم دَ شمشېر
یو څه دَ بلا غم دئ　　چه آسمان کړ را برسېر
که ډېر وُ نور غمونه　　پدا غم شول واړه هېر
ارمان چه په دیدن ئې　　مین نه شول واړه سېر
غلیم ئې که بادشاه وي　　پلار ئې کړي باندِي پېر
چه وړ به ئې له ورونو　　نه وُکار دَ شر زه شېر
دَ خداي سَرَه جنګ نشي　　که هر ځوک وِي ځوک دلېر

نیژدې راغي ساعت　　چه په خاورُو شي صورت
بند په بند به سَرَه بېل شِي　　تر مرداري فضیحت
چمجي به پرې خُټکېږي　　یا به هسي شِي لت پت
صفت دَ صدف مکړه　　دَ ګوهر کَوَه صفت

---

۱. ۱۰۹۷.

گوهر هغه گوهر دَي
چه يگانه دَي په قيمت

لکه مست هاتي زنځير کا ترمي ترمي — چه په خوب کښې ور ښکاره شِي هندوستان
زه هم هسي تر تقوي تر زهد تېر شم — چه را ياد شِي دَ شرابو حريفان
ساقي نن دَ ميو جام راکړه وَ ما ته — څه شيخي دَه پدا هسي گلستان
په طاعت به تر جنتَه څوک ور نشي — څو پرې فضل وکرم نه وِي دَ سجان

دا طالع څما څه اوس ندَي ځائي دَي — چه په چا باندِي مين شم دماغي شي
چه ترې مينه پُېُوم هونبره اېلي کا — چه پرې مينه ښکاره وم هونبره ياغي شي
هغه زړه به فراغت آرام په څو کا — چه دَ کښليو دَ جمال په خال داغي شي
په هجران ئې په سنگيږ ميشته د ما وي — په وصال دَ مهوشانو زړه باغي شي

غم په زړه کښې بد غليم دئ — څو توانېږي خواره وه يې
يا تېره توره را واخله — خوچه وِي همواره وه يې
يا غمخوار چرته پيدا کړه — ورته کښېنه ښکاره وه يې
يا فرياد فرياد فرياد کړه — ژاړه تار پتاره وه يې
يا خوشحال غُندِي زړه راوړه — ځاي ئې کړه انباره وه يې

يو بيان به درته وايم که ئې آروې — څما دا خبري نه دِي دروغجني
دَغلجيو جونه سپيۍ سَره يَو ځاي خوري — همگي واړه بد پوښي دِي سپېرني
دَ شيرزادو جونه بازي دَ سپين غره دي — په شنواريو کښې هم شته پکي پمني
فيروز خيلي اکا خيلي دَ صفت دي — نوري ځيبري خربېشۍ دِي چمجني
د مغل د پښتانه دمه پرې کېږِي — دَ کوهاټ بنگښي مشه سترگ بېښي
په بنگښ کښې بهه خيلي بدي نه دي — نوري واړي خودنمائي دِي بيازمني
د توريو د ځائيو جوني ښې دي — بلا وا چه دِي له څيلمَي لوړ زني
که جدراڼي که وزيري که سارنکي — دا خو واړه نه سرۍ دِي نه جني
دَ هندکيو پحساب دي عيسي خيلي — دَ سنبلو جونه څه خو سر پيزني
دولت خيلي لوهاڼۍ دِي لوي چاري — نوري واړه پوونده دِي غوشيَني

دَ شستکیو جونه سالي پښتنې دِي — خو په ژبه په پوشاک دي برسېرني
دَ ابدالو جونه واړه کډ بني دي — که ترينې دِي دَ پښين دِي دَ ستايني
دَ دَوَړُو جونه واړه لکه باغ دي — کښيده پکښ ملیِ دي دَ ستني
د خټکو جونه واړه غوبني دي — خو يوائې اکوړخېلي دِي مېرمني
دَ مهمندو جونه سرې لکه ايماغ دي — کټه سري ورې سترگې پوزې پلني
په خيليو کښ سکنۍ پيدا کېږي — هغه هم بدي بخيلي سر کودني
دَ اوزیِ جونه چينگې خولې حيراني — دَ واده په ورَځ ودېږي سر خيرني
څو صفت دَ ککيانيو جونو زه کړم — واه واه واه دا ککيانې په يار مَينَي
مهمن زي جونه واړه لکه خرې دي — دَ سړيو په شان روغې ځنې ځني
چه په خويشکيو روهانيو باندې راشې — دا خو واړه د بغرې دِي دَ مېچني
بانده وړي پر مليِ بېچاره دي — نه دَ خواښي دَ ځواب دي نه دَ بني
د لازاکو جونه پټ سپاهيان پربباسي — چه په قهر غصه راشي قهرجني
چه په ملک دَ هزاره ترين مرين دي — د سنکړي جونه داغ کښېږدي په يني
په مندړو کښ خال خال چيري پيدا شي — نوري واړه کېډَوري دي پړس بني
دَ بونير دَ جونو نوم پخوله واخله — دود آلو دِي غوړياليِ زيړ بخنې
اکوزۍ جونه واړه لکه باغ دِي — مولي زيِ پکښ شته دَ چندنې وني
په آړهنگ پړهنگ کښ هم شته اتمان خيلي — دَ سړيو په جامې جامې ريمني
دَ صافيو جوني صافي په صورت دي — ولي ډېري په روزگار کښ دي خچني
خوگيانيِ واړه خوکي دَ صحرا دي — په نغري ناستي ډوډیِ وهي پلَني
په جهان تر لغمانيو نوري نشته
گنده بوي گنده بغلي مچ بيزني

په جهان کښ دَ زړه غوره دي درې توکه — يو بل هم ورسره شته دَي څلورم
يو ښه حسن بل ښه ځاي دريم ئې بوي دي — بيا سړې اوبه چه زړه شي پرې خورم

يا دا درې توکه ځما له دله واخله — يا ئې زر و ما ته راکړه لاس په لاس
اول ښه کُښلې محبوبه چه ئې گورم — دويم باز دَ مهورې دريم ښه آس

بې صبري که ډېره ځله
دا دَ بله مخه نه شي
زار ژړا مانې ډېر ځله
واړه مینه ده بیتله

ته له خپله لوریه ښه اوسه خوشحاله
که و مښکو ته څوک ووائي چه هیڅ دي
نور دِ سل رنگه خبري ما ته وائي
لاس په لاس به مښک خپل بوي ورته نمائي

چه مرې خو هسي ومره
مه مار شه مه لړم شه
چه څوک ټاپ در پسي وکا
چه پمرگ دِ څوک زړه ښه کا

یَو چه ډېر خوري سوگندونه
آشنائي ور سرَه مکړه
بل چه ډېر کاندِي پورُونه
دا بې پته دِي خویونه

چه مَین په وسله نه وي
لاس دِ سرَه کا سترگي توري
مرد دِ نه وائي خپل ځان ته
ځان دِ وجوړوي ځوان ته

مستظهر په عفو شوي
دا کار دَ مردي نه دئ
بیا پر خاش دَ انتقام
پرې پوهېږي خاص و عام

مسلمان وَیل رب رب کا
هر یوه وته چه گوري
دَ خوشحال خټک تسبیح دي
هندو وائي چه رام رام
دواړه بولي دَ خداي نام
زنار نشي و السلام

که بادشاه شي په تخت کښیني
که حشمت دولت ئې نه وِي
هم گداي گڼه طامع
هم بادشاه گڼه قانع

مخزن دَ درویزه دَ میان نور شیخي پیري
دا درې توکه ډېر قدر ډېر غزت لري په سوات کښ
الثَالث بالخیر دَ حمزه خاني میري
و خداي وته ښکاره دي وَیل نشي په ځیري

ځما له غېږه ترب لې    خو چه وکړه بېړي ور
دَ مور تر کُس دِ تېر شي    يار چه نوينه زړه ور

دَ زړه غلا په زړه کښې غم ده    لا په تېره دَ سردار
هر سردار چه پزړه غل شي    ځان رسوا کا خلق خوار

که نظر وکړم په کاڼي    سوي زړه به ترې اخراج کړم
ته تر کاڼی لا بتر يې    کم دليله څه علاج کړم

يَو صحت بل عقل دواړه    ته په دا کښې خوبي غواړه
چه دا دواړه توکه نه وي    نوره هَرَه خوبي ولاړه

يا هر گز مکړه له هيچا سَرَه بده    که ئې وکړې نه تر تلو تر ابده
چه دَ چا سَرَه دِ کار دَ نېکۍ وکړه    نور نېکي ور سَرَه تل بويه سرمده

که هندو دَ مسلمان سَرَه رفيق شي    په رښتيا کښې ئې روزگار په ښه طريق شي
په دروغ کښې مؤمنان سَرَه زيست نکا    چه دروغ ئې مکرر سَرَه تحقيق شي

کم دليل په سترگو ړُوند شه    لکه ړوند وِي په دوو سترگو
باز په کور کښې کښېنولي    گرزِي ښکار کاندي په چرگو

ځلبلاند در پسي زه يم    که ته نه بې ځلبلانده
څو به ما په ماڼي وژنې    پلَو ليرِي که وخانده

چه مړه دِي په وفا کښې    دَ هغو تر گور ځارېږه
ژوندي چه بې وفا دي    ته دعا کړه چه خوارېږه

چي مي وليده په سترگو    نور مي زړه ور پسي ولاړ
صحيح چه دَ زړه شهر    هم دا سترگي کا اوجاړ

لکه زه وينم په سترګو | لکه زه تړم په پند
نه بتر تر شانه بين يم | نه زبون تر ژاله بند

عقل زور صورت ښه دي | چه ياري مومي له بخته
چه له بخته ياري نه وي | اور ورولګه دَ وخته

شپېږ اوه مياشتي په هند په خراسان | چرته ونشه په سم په غره باران
دَ اوبو دَ وښو ډېر کمامت وشو | ځاي پځاي شول دَ غلې نرخونه ګران
چه باران په جهان وشو پس له ياسه | فتح الباب وُ په تحويل دَ سرطان
دَ اسد تر نويشتمه ورَځ په ورَځ شِي | په باران سَرَه نهال شو درست جهان
پدا کال چه شاه عالم راغي له هنده | صلح وشوه دَ مغلو دَ افغان
دا سږ کال چه ئې تاريخ رحمت[1] تم دئ | په وګړي مبارک دَي په هر شان
يَو دا کار هر ګوره سخت پکښې پيدا شو | چه هلک پکښې نه ونيو شول طوفان
ډېر دَ موږ دَ خېلخانې هلکان ومړل | داغ دَ زړه دَئ عبدالله دَ يحيیٰ خان
په نيکنام پسي که زړه دَ رانې چَوِي
دَ بهاکو خاطر خوشحال شو په کامران

کښُي کښُي ځما ځان لَره بلا شول | چه پيدا دِي همګي ځما له ځانه
که پنځوس دِي که شپېته دِي داغ د زړه دي | يو څو لا پکښې آفت شول تر دا ميانه
چه ئې ورځ و شپه پما باندِي يَوه کړه | درېغه درېغه جټ و بازو صدر خانه
څو ګردش دَ زمانې سَرَه څرخېږي | زنده سر به پاتو نشي بې حزيرانه
چه دِ زه له ښو يارانو نه جدا کړم | راته وايه سود دَکوم وشو آسمانه
په يرغ په مصلحت په پرينِ[2] نه ده | آسماني بلا پرېوزي ناګهانه
چه همېش په يَوه حال دَئ هغه خداي دئ | په سړي باندي ورځي ګرانه آسانه
دَ سړيو حال که تل په يَوه شان وي | دَ سليمان ګُتې به نه تلَه له سليمانه

---

۱. ۱۰۸۸.

۲. پرينِ ته محشي په يوه قلمي نسخه کښې مصلحت ترجمه کښلې ده.

دَ دهلیٖ تخت که تل په یوه کس وي	تل به نه وُ بانديٖ بې شاه جهانه
هیڅ پدا خبره ځاي دَ بلي نشته	له فاني جهانه تلَل دِي له ارمانه

وَ عالم ته خوشحال زوړ زوي ئې ځوانان دئ	دَ زاړه بلا په سر دَ دیو ځوانانو
پلار ئې درسته ورځ په ښکار وژني آسونه	په پالکیٖ کښې ځي په رنگ دَ رنځوارانو
که په شمار په حساب دېرشو ته نژدې دئ	همه واړه دِي پشمار دَ نامردانو
په یوه کښې هونبره کار برکت نشته	لکه کار دَ نام و ننگ دَي دَ خانانو
دا دَکاڼي کاک د ما دَ عابد خان دئ	دَ مغل پلاو دَ نورُو فرزندانو
که دا هونبره نا خلف واړه خلف دي	نن به ما نوبت واهه دَ خسروانو
کم کُوترِي دَ لویو سپیو هنر آخلي	پیروي کا کشران دَ مشرانو
دَ دمړیو دَکنجکو حساب غواړي	په لیکه په جوکه[1] خیر دِي تر هندوانو
پجهان کښې چه محنت دَئ یا راحت دئ	په وار وار واړه ورځي پملوکانو
که خزان دَئ که بهار دَ نور چا ندَي	دواړه توکه دِي دَ باغ دَ صاحبانو
دَ آسمان وَگرزېدو ته ننداره ده	گُندِي وي چه پېره بیا راوړي یارانو
فلیل څوه رانځه نُکریځي ورته پېري	مشاطې غُندي خدمت کا دَ زنانو
خوي دَ پلار دَ نیکه هیڅ ور څخه نشته	په خصلت دي همګي د پراچګانو
د محنت دَ مشقت دَ تالاښ ندِي
دَ راحت دَ فراغت دي دَ ریحانو

شپږ اووه پېړي د ما و گور ته ولاړې	همګي په وینو رنگ په تېغ ورژلي
اشرفخان[2] به یَو پرهار پځان وانخلي	نه دا نور دَ ده دَ موره چه زوولي
تر څلوېښتو کالو تېر شو لا تر اوسه	دوه تېره اَغزي پرې نه دِي څرخېدلي
خو دَ پلار په نام ئې خوري چه مشران دي	نور دَ توري دَکار ندِي داغولي
خو حسد بخل نفاق ئې دئ په بخره	کله لویو لویو چاره وته زغلي
اکوړي شهباز په دوي پوري بد نام شول	دَ پدر په خوي و بوي ندي راغلي
مگر مور دَ دُوي باز رنگه پلار ئې باز وُ	پآشیان وُ سَرَه وداړه ورغلي

---
۱. جوکه یعني تلل، وزن کول.
۲. بهرام خان.

هیڅ تاوده ساړه په ذم په مدح ندي دا بې شرم مي څه لږ نه دئ غندلي
دَ پلاو دَ دوپیازو نازو نعمت دئ دَ چووې د ارکجي دي سپین سپیڅلي
دَ صندوق دَ بخچکۍ په غم اخته دي دَ روپۍ دادیلي خبر آخلي
روز نامۀ ئې چه حاصل خاطر نشاط شي بیا هاله ئې سترګي پټې شي څملي
دَ بکرۍ نه بخري پنډ پیدا کا دَ بتي بخري ندي چا لیدلي
حقیقت ور څخه نه تقلید دَ پلار کا چه تر پلار تر نیکه موږ یو خوربدلي
نه ئې مټ وي په غلیم نه ئې فیروز وي که زرګونه ور سَرَه وي سواره پلي
دَ دنیا به حرص غرق وي سر تر پایه په پدر په برادر نه دي ترلي
د کلاغ غُندي غل خوري څانګونه هسک کا چه څانګونه مي له غلو دي ساتلي

زه دَ غینې د لاسه چا وته فریاد کړم نمونځ د ما له لاسه ووزي چه کُس یاد کړم
پدرست کال په مخ ناولي کُس ته پروت وم په حیرت شم چه په یاد هغه فساد کړم
ځوانۍ حال مي ندي چه مي وَوې دا خبره دَ پېرۍ دَ هفتاد کړم
له پردیو مي توبه واړه پخپلو دَ ځوانۍ حال به هم درته پیاد کړم
کله لس کله زیات کم کله تر شلو دَ دخول وَیل و چا وَته تعداد کړم
چه ملا به بانګ نماز وې ما به کُس غو دَ روژې په ښه ثواب به ئې ناښاد کړم
نه په حیض نه په نفاس لما څوک خلاص وه څه دَ غینې ناسازي چاري په فریاد کړم
ورَځ و شپه راته مخ څټ وې لس پنځلس ګوي مګوي وَیل لږ ندي که ئې یاد کړم
په څوانۍ کښې مي کار لکه دَ ددَ وُ په پیرۍ کښې خداي څخو آدمزاد کړم
چه مي غینې دا هسي بد دَي ګمان مکړه ځکه خداي په ډېر اولاد کښې بد اولاد کړم
له ناپاکو نه ناپاک له پاکو پاک وي زه دا نقل دَکتاب دَ خپل استاد کړم
که څوک شته چه ئې دَ زړه په غوږو آوري
مخسرې مذاق مي ندي دا ارشاد کړم

دَکُشتن دي د زدن دي دَ تاختن دي یو وُرُکزۍ بل بنګښ دریم بولاق
دَ وُرُکزۍ دَ بنګښ دَ بولاق نشته یَو انصاف دویم حکمت بل اتفاق
خداي د ورک دَ پښتنو کا دا درې توکه یَو بد جهل بل بد نیت دریم نفاق
سردارۍ لَره بویه دا درې توکه یَو همت دوهمه توره بل اخلاق
څو دا زمکه دا آسمان شته دا به هم وي یو روزګار دویم وصال دریم فراق

دَ مغلو حال هيڅ نشته که ئې نه وِي يو دولت دويم شوکت دريم وفاق
چه له قومه نا اميد شوم ځکه زه يم يَو بې ملکه بل دلګير دريم فراق
په بد قام دِ نن دما له لوريه تل وِي يَو نفرين دويم لعنت دريم طلاق
دَ تيراه په ملک چه راغلم دا مي بويه يَو ډېر عزم بل ايلاق دريم قشلاق
په صورت په تيراه ناست زړه مي په يوټ دئ
يَو په ذکر بل په ياد دريم مشتاق

حقيقت دَ يوسفزئ راته معلوم شو کار و بار به ئې ښکاره شِي پدوه رنګه
يا به کور په کور اخته شي په ميرڅيو يا به ملک وَ مغل ورکاندِي بې جنګه
خداي چه ورک کا ښه مړونه په اولس کښې پېښوِي هغه اولس وته بيا ننګه
اوس په درست اولس کښې ښه ملک عبدل دي که ئې ژرکا خداي څهره په مرګ بدرنګه
حمزه خان هغه چمندر دَئ په جلګو کښې وړاندِي ورستو پړي پرېکا که غرزنګه
د طالي ملکي تِته آئينه دَه چه څهره پکښې ليده شي رنګا رنګه
طالي چرګه نرښځي دي پديدن کښې لوي چارخويل لکه دَ چرګ په هويو کړنګه
الهداد لکه لمڅي په جيفه ګرزي دَ مرداري بوي ئې ځي له دواړه چنګه
مصريخان مندړ دَ غاړي ماهي آخلي سګ لاهو غُندِي ځان ژغوري له نهنګه
مصريخان مندړ پټ شخوند کِوي په وره کښې لکه پېغله جل په حيض کښې روژه ړنګه
نوم ئې څه دَکشرانو په خوله آخلم چه ئې واړه ملکان وينم بې ننګه
مختصره وينا دا دَ بارزار سپي دي په ډوډيو پسي درومي څو فرسنګه
بس دا هونبره نور څه مه وايه خوشحاله دَ خټکو لښکر نلرې دَ څنګه
نه حميد شته نه کجي شته نه کاچو شته څه له نورو سَرَه سر وَهې له سنګه
که دَ سوات په هوا خوښ يې پکښې ښکار کړه اوکنه روځني تښته په فرسنګه
دَ بي بي په کور ئې ووري ګټ ګټ کاڼي چه دَ سوات زلمي بېلېږي له پالنګه
لس به مله سَرَه و نه وينې په ننګ کښې
که درست ملک سره پره ګړې تر تورسنګه

دَ اومو خاورو کندو دئ تا زيبا کړ په څو رنګه
عجب زړه دِ په کښې کيښې تا دانا کړ په څو رنګه

دَ ثنا ژنه د ورکړه تا گويا کړ په څو رنگه
معرفت دِ پکښ کيښ تا آشنا کړ په څو رنگه

وخت دَ اورنگ شاه دئ دَ هر چا تسپې په لاس دي
خداي ځني خبر دئ په اخلاص که په لباس دي

په هر چا دَ سپيني ږيري حرمت ډېر دئ خو په جونو قدر نشته دَ سپين ږېري
همگي واړه خريداري دي دَ مښکو يَوَه نشه چه کا فور په بها پيري

تفاوت دَ خپل پرَدِي ور باندِي نشته که ئې گورې اورنگ زېب بادشاه گمراه دئ
مستجاب غريب ئې ووژي په ظلم دَ خوشحال منصب ئې واخست کوم گناه دئ
دَ منصب په اخسته څه دلگير نشو د خوشحال خاطر خوشحال دئ خداي گواه دئ
په منصب پوري خوشحال خټک نوکر و چه منصب ور ځني ولاړ شه اوس بادشاه دئ
اوه مياشتي دِي چه لار دَ کابل بند شوه حال احوال دَ خلايق واړه تباه دئ
دا لا څه په هندوستان توره تياره دَه په هر ځاي دَ ده دَ خويه بويه آه دئ
دَ اورنگ پادشاه په دور آرام نشته چا وَيل چه جهان ځاي دَ آرامگاه دئ
لکه مخ دَ پاسه تور سياه ليده شِي اندرون ئې هغه هسي تور سياه دئ
که زينت وته ئې گورې بويزيد دَئ که طاعت وته ئې گورې اهل الله دئ
دَ ده خير واړه ده وته بخښلي
خو له شره به ئې ډار کا چه آگاه دئ

په ښادئ سره شريک دِي اولسونه غم يواځي دَ خوشحال خټک دَ ځان دئ
چه په آن و آن په مزکه په آسمان دي په غمونو په ښاديو کښ انسان دئ
دا يوه چمچه دَ ځان ويني بلا شوې چه سرې سَرَه ئې غم په هر زمان دئ
دَ نامرد دَ مرد پدا تفاوت وشه په نامرد شرم آسان شه پمرد گران دئ
مست هاتيان خوني مزري توري وکښلي که د سر تر وېره تېر شِي کار آسان دئ
کشکي ته پډېر احتياط هميشه پايې په احتياط احتياط کښ ډېرعالم طوفان دئ
که دَ ځان که دَ ايمان بدخواه مي ډېر دِي ما پخداي باندِي سپارلي ځان ايمان دئ

ننګيالي چه دَ اخلاص توره تر ملا کا    ډېر لښکر ئې تر همت پوري کاروان دئ
تر اوله تر آخره چه روزګار شته    چه عالم باندِي غوغا کا دا جهان دئ

اته ویشت لَرم زویه    نشته یَو دَ بل په رنګ
اشرف مي لایق زوي دئ    دربغه نه وَي پخوي پړنګ[۱]
صدر د نور څه نه دئ    خو ئې غواړي په پالنګ
بهرام هغه خنزیر دئ    چه لایق دي دَ تفنګ
خانان هغه شاهین دئ    چه ئې سرَه په وینو چنګ
باز پلاس دَ عظیم کام دئ    یا مزري دئ یا پلنګ
نظام وریښمین رومال دئ    پوري غوټه موتي بنګ
یحیي خالد دا واړه    بوالعجب لَرِي فرهنګ
په واړو کښ آزاد دئ    هم دَ روغي هم دَ جنګ
بخت ناک هغه زلمي دئ    نشته بل دَ ده په رنګ
مالو جلو دا دواړه    ژک ژوندي پمزکه رنګ
نور غشي اغزین دي
سر اغزي دَي یا خدرنګ

د ما پلار په ګور ئې نُور شه    یَو رښتني وُ هر ګوره
تل[۲] دَ خپل غزت دَپاره    تېر تر سر وُ تېر تر کوره
دَ بادشاه زیاتي ئې نه وړه    سر ئې خلاص نه وُ له شوره
تل پخیال دَ مړنتوب وُ    څو چه وَرَغي تر ګوره
یا ګټل یا ئې بخښل وُ    چار ئې داوه نوه نوره
څرخ ئې زر دخل ئې یو سو    تل په خلاص نه وُ له پوره
بل په غشي کم خطا وُ    دَ ښکار مینه وه پر زوره
چه دَ ده زویه نمسي دئ    دا خویونه پکښ ګوره
که دَ خپل بابا پرنګ دئ    ښه زوولي دئ له موره

۱. محشي پرنګ ته منافق ترجمه کښلې ده، پیس او مبروص ته هم وائي.
۲. بل.

تر اوبه ئې حلم زيات وُ — تېر په قهر وُ تر اوره
بل دَ دين پکار مَيَن وُ — له دنيا نه ئې خوا توره
ناروا که ښاپيرۍ وې — پرې ئې نه وه دَ تن سيوره

اورنگ چه عدل نکا — ظالمي ئې کړه ښکاره
که خداي پدا راضي وي — دَ خوشحال ترو څه چاره

پځواني چه پرهېزگار شي — دَ جنت دَ بڼ طوطا دئ
پدا وخت کښ چه لر بر شي — ندامت ورته زېبا دئ
په پيري کښ چه بدکار وي — که ابليس غواړې هم دا دئ
په سړي کښ هر هر خوي شته — چه په څو رنگه پيدا دئ
دَ فرښتو خصلت پکښې دي — دَ شيطان پکښ ماوا دئ
په ښه خوي تر فرښتو ښه شي — په بد تېر تر شيطان لا دئ
دَ فرښتو سرَه شماره دئ — هغه کس چه تل پارسا دئ
چه ئې تل دَ بد و خوي دئ — هغه کس تر شيطان لا دئ
که لږ بد کاندِي ډېر ښه دئ — سړي توب باندِي روا دئ

نه دَ سوال په هنر پوه يم — نه طالع لرم دَ پور
نه زاهد دَ شکرانو يم — نه ملا يم زکوة خور
نه دهقان نه سوداگر يم — نه حرفت لرم څه نور
ځاي گهي لرم په سر کښ — په ميرات دَ تورو شور
و هفتادو ته نيژدې شوم — هر نعمت راځي په کور
که پکور راشي زر گونه — هسي درومي لور په لور
خپل روش به اوس نور نکړم — که مي نور کړ مخ مي تور
که د ما تر لاسه راشِي — خزانې دَ درست لاهور
تار پتار به ئې خپرې کړم — ځان به نکړم دَ پېغور
زر دَ نوم دَپاره ښه دي — هيڅ په کار نه دِي په گور

سراي هر گوره بد ولد دئ      چه په حال ئې شوم خبر
دېرش د ما لس دَ قاضي[١] دئ      واړه يَو تر بَل بتر
مشران مي لا بلا دِي      کشران دِي لا لچر
مصطفىٰ وته وگوره      په بهرام وکړه نظر
چه دا هسي ځني زوول      تو په پلار هم په مادر
زه پځان کښ که سړی يم      کوټه سپي مي شول پسر
قاضي خود لکه غځکي وُ      له غځکي پيدا شو خر
ښه پټي غنم غنم کا      بد پټي ئې کا جودر

پدا هم لا راضي من يم له آسمانه      نندارہ دَ اباسيند له مير کلانه
په تيراه پسوات په خوړه دربدر شوم      بيا مي کوم لوري ته ته بيائې اسمانه
لکه گوي هسي پحکم دا چوگان يم      درست وجود پرهار پرهار يم له چوگانه

ښه غزت ښه اعتبار      ښه ئې زيست ښه ئې روزگار
دَ نادان بخره خواري ده      عزت بخره دَ هوښيار
نادان هسي څه ښکاره کا      چه خپل ځان کا خواروزار

که څما ژبه پښتو ده      په پښتو وايم خبري
يَو پښتون رانه ښکارېږي      چه پرې پوه شي تژدې ليري
په خوږوالي کښ ئې فرق دئ      ښه تر گوړو دِي شکري
گبينه لَرِي مچۍ      ډنبکَي لري بنبري
له يوه دريا به خېژي      مرغچيمي مرغلري
تفاوت ئې تر منځ ډېر دئ      په قيمت دِي سَرَه ليري

جهانونه څه لَږ ندي      ته ئې نه وينې نادانه
گوره څو دِ هسي زمکي      گوره څو هسي اسمانه
واړه ځاي دِي ستا په زړه کښ      اې تر عرش لويه انسانه

---

١. محشي ليکي چه مطلب قاضي ولي محمد دَ خان معاصر دئ.

آئينه دَ زړه صيقل کړه
که دِ دا ننداره وشي
چه ئې ووينې اې جانه
جدا نه بې له سجانه

لکه موږ دَ رزق مشتاق يو
که څله حرص دِ نه وِي
هسي رزق دَ موږ مشتاق دئ
رزق به رسي خداي رزاق دئ

چه فاضل دَ زمانې دِي پرې به پوه شي
سگ مگس خو سگ مگس دئ نور به نشي
پدا شان مرد دَ درم مرد دَ درم شي
دَ خوشحال ختټک دا شعر مزه ناک دئ
که هر څو آړوې کا واک کا واک دئ
که ئې وگورې پدا رنگي بيا کاک دئ

که جمال دئ که ډېر مال دي
دا په هر لوري لږ ندي
که صفت کړې دَ ښه خوي کړه
دَ ښه خوي منصب باقي دئ
که ډېر علم ښه نسب
هنرُونه بوالعجب
په ښه خوي کوَه طرب
باقي ندَي بل منصب

دوه سر کَښ لَرم پکور کښ
که هر څو ئې جلب نيسم
دواړه پټ ندي څرگند دئ
دا راتب غواړي دَ شعر
چه مي تل لَري په تبهَ
نه سهېږِي بې راتبهَ
يو ذکر دئ دويم ژبهَ
هغه کوزه عجائبهَ

دَ بهرام له حاله څه وايم وَ چا ته
هم فضول هم مزور هم مذبذب دئ
په يوه ذره کښ پاسه په اسمان شي
دَ خپل خوي په گردابونو کښ غوټه خوري
حال دَ خپل زويه ښکاره دَي وَ بابا ته
هم يکرنگ وَيل به نکاندي و چا ته
په يوه ذره کښ ځِي تحت الثرا ته
دا عادت به ئې رد نشي تر مماته

په ځنګلو کښ چه ګرزي　　په لګهيو[1] کښ چه پزري
په اغزيو به خوږيږي　　په ژور په لوړ به پرزي
وېره کا له غور کماني　　په اسمان چه مرغه ورزي

و جاهل وته چه وايې　　نيمه ږېره دِ شي چاله
و احمق ته چه وَيل کړې　　درسته سپينه شي خوشحاله
چه جاهل درته څه وائي　　ځواب ورکړه ځما لاله
چه احمق درته وَيل کا　　ورته تف کړه بې مقاله
و جاهل وته اميد کړه　　ګُندِي واوړِي له افعاله
له احمقه طمعَ پريکړه　　نور به نشي په سل کاله
جاهل درومي په تور تم کښ　　ځکه چار ئې ده محاله
په احمق باندِي ورَځ شپه ده　　و به نه وزي له اشکاله

يَوه ښه ديني عورته　　خوښ صورته خوښ سيرته
بل ښه آس بله ښه توره　　بله زغره پر قيمته
پجهان کښ دا پکار دِي　　نور همه وهه په لتَه
که تر دا باتو څه نور شته　　نشته بې له ښه نګهته
چه بهتر تر دا همه دي　　نشته بې له عبادته

چه زر لرِي په کور کښ　　هاله شِي ښه سرداري
درستي ئې بده چار ده　　بده نده زرداري

دَ بنګښ په توره مات نه يم باور کړه　　دَ کُښت پجنګ مي ماتې آسماني وه
نه بنګښ وُ نه ئې توره نه ئې زور وُ　　د ميشکو د سينو شيطاني وه
چه و غره وته ئې تيښت وکړه بې جنګه　　دَ ځيني تُنبه له ځايه نقصاني وه
چه مي ښه سواره دَ ځان د وړاندي نکړل　　هم پدا سبب را پيښه پښيماني وه
چه مي ټول دَ وړاندي نه تلل په جلب کښ　　همګي دَ حسن خيلو ناداني وه

---

۱. لګهٔ يعني خوږه مځکه.

سل رحمت دَ مهمنديو په تُنبه شه　　چه دَ ديو چار لما سَرَه جاني وه
برتويو توري لرونه په وَهل کړې　　په مردي دَ هر يوه جانفشاني وه
چه په توره ئې شيرخان پرېوست له آسه　　په ميدان دَعا بدخان پهلواني وه
چه سردار دَ بنگښ پرېوت خټک مات شه　　پدا هسي رنگي چاري حيراني وه
عابد خان چه په مردي راغَي له جنگه　　و خپل پلار وَته ئې ښه ارمغاني وه
پړوکي پړوکي ئې دَ سر شالونه ولاړل　　په سرو وينو ئې څهره ارغواني وه
لاس پلاس ئې انتقام دَ بابا واخيست　　پدا کار باندِي سزا ثنا خواني وه
چه ئې جنگ پميدان کړه يَو څو سپاره وه　　نور دَ واړو بخره تېښت تن آساني وه
دَ خټکو په سپرو باندي لعنت شه　　په يوه جلو ئې تيښته ځان ځاني وه
چه اوله ماتې گډه په سپرو کړه　　په سپرو کښ چار دَ جت دَ عثماني وه
ښه ځوانان چه دَگُنبت پميدان ومړل　　دا هر ځان پزړه کښ ننگه افغاني وه
همگي ځوانان د ما دَ زړه ارمان دي　　په کښ ښيله دَ عبدل تانده ځواني وه
دَ غليم سره په آس غاړه غړي شو　　دَ عبدل دَ مړنتوب بخره کافي وه
ما دا هسي جنگ هر گز ليدلي نه و　　څو مي عمر څو خټک څو مي خاني وه
ځوانان جنگ تمامه ورځ کا نه ماتيږِي　　په يَوه لحظه لمحه ماتې آني وه
نه په طمعَ په اميد نه شرم ترس وُ　　دَ لښکر مي سر رښته الماني وه
يا لښکر دَ نام و ننگ وِي يا دَ زروُ　　ځما دا ټوله دَ ننگ نه وه ناني وه
همگي په يوه سير را سَرَه ټول وه　　په يوه ساعت ئې ځکه پرېشاني وه
چه نه دين وِي نه دنيا جنگونه څوک کا　　مگر سهله جانبازي جانستاني وه
چه په خواست او په ضرور سَرَه ټوليږي　　دَ هغو لښکرو کله وداني وه
چه مي دا ځله غليم له ډکې خلاص شو　　پرې يکباره دَ فلک مهرباني وه
لکه ښاړي چه و باز وته ځان ځير کا　　هغه هسي دَ غليم پر افشاني وه
که زه روغ پځاي وَلاړ وَي غليم څه وُ　　دَ پرهار په کار مي درسته ويراني وه
که طالع مي په ظاهر مدد وَ نکړ　　توجه ئې په ما ډېره نهاني وه
زه دَ عمر دَ ښادئ دواړه اميد کړم　　دَ غليم که مي څو ورځي ښادماني وه
دا څه مړه ځما ځوانان ندي پجنگ کښ　　دا ځما دَ ننگ پکار کښ مهماني وه
که مي خپل که مي دښمن مري پدا کار کښ　　په هر توکي مي حاصله کامراني وه
مخالف مي په دا کار کښ پاتو نشو　　چه فاسده انديښنه ئې وجداني وه
سل څلويښت ځوانان مي قتل پميدان شول　　دَ اختر په عرفه کښ قرباني وه

دَ هجرت دَکال غفو¹وُ پحساب کښ | په غره واوره وريدلې نيساني وه
چه بې زحمه له ميدانه ځي نامرد وِي | زه زخمي لاړم دَ ځان نګهباني وه
يَوه تېښته نامردي بله مردي وي | و دانا وته دا دواړه عياني وه
انتقام وته مي تېښت وُ له ميدانه | نه مي ياده دَ دنيا زندګاني وه
تل خوني مزري هم جنګ کا هم ځان ژغوري | دَ مزري دَ تېښته څه بدګماني وه
پيغمبر چه له کافرو نه فرار کړ | وَکافر ته ئې پزړه کښ تبغ راني وه
که ظفر که هزيمت بيا مي ميدان دئ | چه دَ پلار نيکه مي بخره ميداني وه
که ژوندَي په دنيا پايم خود به ګورې | چه په تيغ مي څه وراني څه وداني وه
د خوشحال اختيار تر واړه بنګښ تير دي
که څه ننګه دَ ختېک دَکرلاني وه

---

١. ١٠٨٦.

یا سردار لَره خپل عقل　　یا زویر صاحب تدبیر
که هر څو ئې عقل ډېر وِي　　بیا هم بویه ښه وزیر
که نه دا وِي نه هغه وِي　　په ژوندُون ئې بویه ویر
ښه سردار لَره دوه کاره　　دایم بویه په ضمیر
یَو دِ هسي رنگ بخښښ کا　　چه پکښې نه وي تبذیر
چه بېځایه تربیت شي　　دَ تبذیر لري نظیر
دَ تازي دِ تربیت کا　　په کوټه دِ نشي خیر
باز دَ چرگ چوگ دَدانو دئ　　ښه دِ پوه شي پدا ځیر
بل چه ننگ ته تیاري کا　　په دښمن دِ شي خبیر
که لښکري یگانه وِي　　بیا دِ کا دَ جنگ تدبیر
کله جنگ وَته هوس کا　　چه آَشتي مومي بشیر
که په صلح کښ روزگار شي　　څه حاجت دَ تېغ و تیر
پدنیا دِ سر ښندل شِي　　هورته هم نشي تقصیر
که نه څوک نیسي ځان تېغ ته　　نه شلغم دي نه پنیر
چه نیولي په عقرب کښ　　نوي باز وِي بې نظیر
یاوه میر ښکار ئې مړ کا　　وائي مړ شو په تقدیر

چه لاف وهِي دَ شعر　　نن په دا دور دِي ډېر
خداي دِ نکا چه به وایم　　حال دَ دویو تېر و بېر
څوک پاوي څوک نیم پاوي دئ　　قلندر پکښ نیم سېر
دَ موږه په حساب دئ　　هیڅ مي ندي واصل هېر
بل دولت فقیر درې پاوه　　زه ترې څو سر شاهي تېر
چه په سراي کښ به پیدا شي　　پس له قرنه پوره سېر

پدا هونبره قباحت اشرف عاق نشو　　چه بهرام دا هسي عاق شو څه حکمت دئ
چه و عقل ته دَ دواړُو نظر وکړې　　پروت د دواړو په وجود کښ حماقت دئ
دَ بهرام تېري پدا دَي په بدي کښ　　چه لړلي دَ دنیا په محبت دئ
خداي دِ دا علت نصیب دَ هیچا نکا　　دَ دنیا محبت سر دَ هر علت دئ
لکه نیتَ دَ بهرام څه وُ هسي وشو　　دَ سړي دَ چاري کل مدار په نیت دئ

پدا هسي وخت چه دَور دَ فساد دئ   پلار ناحقه دَ فرزند په تربيت دئ
چه خپل پلار شړي په تورو په لښکرو   پدا هسي زويو سل ځله لعنت دئ
که څوک شته چه په دا چارُو نظر وکا   ځاي دَ پند دَ نصيحت ځاي دَ عبرت دئ
زوي له پلاره نه ويزار شي پلار له زويه
قباحت دَئ قباحت دَئ قباحت دَئ

چه مي ښه به زړه کښ فهم فکر وکړ   احمقان راته ښکاره شول پخويونو
يَو هغه سړَی احمق بللي بويه   چه باور کا دَ غليم په سوګندونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه پاړو شي دَ لړمو دَ مارونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه په سپينه ږېره خيال کاندي دَ جونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه دَ ښځو سَرَه پاڅي په جنګونه
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه دَ خسر کرَه به اوسي په کالونه
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه وېښته به تورَ وِي په خضابونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه بزرګانو سَرَه خير شي په جنګونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه يکلخت به اعتبار کا په تربرونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه په هر طبيب دارُوُ کا دَ رنځونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه به بې توري دعوا کا دَ ملکونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه به جنګ وته پرېکړي ځي تر ملونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه لوئي کا په لباس په کسوتونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه به دَئ غواړي لوئي په نسبونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه دَ تېښتو ګمان ورک کا له مرَيونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه به مال دَ دنيا نخوري په کورونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه بدخواه سړَی به پرېږدي په رويونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه بې ځايه زغلوَل کا دَ آسونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه پيران به کښېنوي پخپلو خونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه بېحده تکلف کا په ځايونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه خبري کا په سترګو په لاسونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه به لوړي دَ سړَيُو په سرونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه   چه دَ غوښتو کَر به کاندي به ډاګونو

بل هغه سړَي احمق بللي بويه		چه به سود او سودا کاندي دَ بازونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه		چه برمنډه کونه لانبي په سيندونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه غوږ نکا دَ خوشحال پدا حرفونو

پرېږده کور او ودانيه راته څه ستايې ته ښځه		سر دَ هغي ښې ښځي ووړ ووړ کړي په تښځه
نيک و بد به هر څوک فکر کا دا خپلي چاري		فهم کړه خوشحاله که څوک بد درومي ته ښه ځه
که په مينه دَ صديق وَلاړ صادق يم		هسي ما ګڼه په مهر دَ عمر
په عثمان باندي به څه وايم چه څو يم		په هزار رنګه مَيَن يم په حيدر
محبت دَ خاندان لرم په زړه کښ		دولس واړه امامان مي دِي بصر
پاکيزه سني مذهب يم نور څه نه يم		چه مي نور څه ګڼي خاوري ئې په سر
رافضي خارجي دواړه توکه ښه دي		دَ يوه سترګي په سيخ د بل ځګر
زه خوشحال چهار ياري يم خوښ له خدايه
چه سني راغلم په دين دَ پيغمبر

پڼړا ژړا سيلاب دئ يا درياب دئ		قراري مکړه يَو دم ځاي د ژړا وُ
سترګو تاسو پشماره څاڅکي را توي کړه		دَ نظام دَ آشنائِي درد خو دا وُ
دَ اورنګ په تفرقه کښ چه غوغا وه		پارمان وَمړ له پلاره نه جدا وُ
خدايه وبخښې نظام ځاي ئې جنت کړې		که دَ پلار په رضا شي ځني رضا وُ
په دريمه خور کښ ومړ کال غفو[1]وُ
شپږويشت کاله ئې دَ عمر وُ برنا وُ

په نباس نه دئ چه راغلم		په نظر راغله سارس
په بل لوري مي نظر کړ		راته ږغ وکړ طاوس
ويې غم ښادي خوشحاله		دواړه توکه دي تس پس
پرون ورَځ دِ مخ په کروه		نن دِ بيا په خپل اولس
حکايت شو ځني پاتو		نه ماهي شته نه يو نس

---

۱. ۱۰۸۹.

آفرين دَي په انصاف دَ عالمگير
چه پدا هنر کښ نلَرِي نظير
نه په غله نه په رهزن نه په پاسبان دئ
څوک دِ وِي چه ئې کښېنوزِي په زنځير

مور زادِي کم عقل هيڅ نه هوښيارېږي
که په ياد لولي څلور واړه کتابه
که هزار زمي صابون ور باندي مږي
دَ توروالي رنگ به نه ځي له غرابه
لکه رنگ چه دَ چا ښه شِي دَ چا بد شِي
عقل هم هسِي عطا دَه له وهابه

يَو تازه دولت موندلي
بل ځواني دريم شراب
چه دا هسي کس حاکم شِي
عالمونه کا خراب
بهتر سړی هغه دئ
چه ئې هيڅ نکا ځواب
چه خلاص کړِي خداي له بنده
اوس خوشحاله څه شتاب
اعدا دِ شرمنده شوه
لوي کرم وکړ وهاب
اشرف دِ پځاي کښېناست
خداي ئې تل لره کامياب
ته ناستَ ئې په آگره کښ
دا هم بويه په حساب
کړ ته گرزه يَو څو ورَځِي
سير څه وکا شهاب
خو دا درې دِي بله نشته
اوس آخر دَي پېچ و تاب
يا خواه ناخواه منصب دي
يا يو کنج پلاس کتاب
يا بږغ دَ سپيني توري
کوهستان مرجع مآب

دوه پرهاره ښه دِي پر لوئي دَ مرد و زن
يَو پرهار دَ غيږ بل پرهار دَ غاښ پمخ
زه خو دا يم بند شوم اوس نه دا شته نه هغه
چه دواړه ورته جوړ وِي د هغو زلميو سخ

چه له خلقه ليري ووزې
و خالق ته نيژدې کېږې
زړه له وارو خلقو پرېکړه
ايمان دا دَي که پوهېږې

پس له بند دَي دا عزم
دَ خوشحال دَ خاطر جزم
يا نيولي مخ مکې ته
يا مغلو سرَه رزم
يا يو کنج دَ غره نيولي
نمونځ روژه دَ لوستو بزم

مولینا عبدالحکیم      دَ دنیا دَ دین حکیم
دَ جوګیانو وَګروه ته      په تعظیم وُ په تسلیم
چا انکار ور باندِي وکړ      ویې هیڅ نه یې فهیم
د هر چا سَرَه سلوک کړه      دا صراط دَئ مستقیم

چا په وخت دَ ځکندن ووې مجنون ته      وخت آخر دَي پزړه یاد لَره خپل خداي
ده وې زړه مي دَ لیلي په یادو ډک دئ      پکښ نشته دَي دَ نورو یاد و ځاي

ته لا اوس دَ الف بې سبق آخلې      ټکي هم په دورغجنو غشیو ولې
بیهوده لافي دَکنز دَ قدوري کړې      په ناحقه دَګاوزو په ښکار زغلې

که د مکر مکارت شته      خود به وَ ویني خپل حال
را ښکَاره دِي ستا مکرونه      را ښرګند دِي ستا پېټال
ته ګرم نه یې په سیرونو      زه ګرم نه یم په مثقال

که ښې دِي خو فرښتې دي      چه نس نلَري خوشحاله
هر چه نس ئې و چا ورکړ      خلاص به نه وِي له جنجاله
چه هر څوک سَرَه ویزار کا      دا دنیا دَه بې مآله
که پخوا تر دا اخلاص وُ      اوس څه نشته بې تېټاله
قیامت را نیژدې کېږِي      بد ترینه کال تر کاله
باور هیڅ نشته په زویه      وایم څه دَ بل له حاله
چه پخوله کلمه لولِي      زړه ئې درست په قهر ځاله
چه احوال دَ خلق دا دَي      ولي نه پاڅې دجاله
یا خو تلي له زلق تشي      یا څه نکړي بې قتاله
که شیخان که عالمان دِي      نور څه ندِي بې له قاله

نن مي وکړه له استاده نه څو سوال      سر افراز ئې پځواب کړم دَ هر سوال
وېمي څوک دَئ چه همېش په یوَه حال دئ      وَیې تل په یَوه حال دَي ذوالجلال
وېمي څوک دَي چه همېش په بل بل حال دئ      ویې خوار بني آدم لَري دا حال

ويې سر دَ فراغت دي دا درې څيزه     تندرستي او ايمني دَ دنيا مال
وېمي کوم سَړی لایق دئ دَ یارۍ     ويې هر چه دروغ نلَرِي ټېټال
وېمي ځوان دِ پځواني کښ کومه چار کا     ويې هر زمان دَ علم اشتغال
وېمي زوړ دِ په زوړوالي کښ کوم کار کا     وېې جوړ دِ کا له علمه خپل اعمال
وېمي کوم سَړی به تل وِي پحرمت کښ     ويې هر چه له چا نکاندي هيڅ سوال
وېمي طمع قطع نه بويه له چا نه     ويې هر چه ښه ئې اصل ښه خصال
وېمي څه دِي دَ دنيا دا ښې ښې چاري     ويې واړه افسانې دِي خواب و خيال
ويمي کوم بخت و جدل دئ چه تل ښه وي     ويې دا دَ علم بخت دَي جدال
وېمي کوم رښتيا چه ووائِي پرې سپک شِي     ويې خپل هنر چه وائِي دم درحال
وېمي کوم يو بې نوا ببلي بويه     ويې هر چه ئې پغاړه ډېر عيال
وېمي کوم سړی نیک بخت بللي بويه     ويې هر چه سخاوت کا په اموال
وېمي کوم سړی لایق دَئ دَ ستاينې     ويې هر چه په بخښلو شي خوشحال
وېمي خلاص به شم په څه له بده ياره     ويې تل ځني غوښتنه کړه دَ مال
وېمي ډار او ترس له کومه شخصه بويه     ويې هر چه ورته يَو حرام حلال
وېمي څه څيزونه گران پمرد تر ځان دئ     ويې دين او بل دانش دَئ دَ رجال
وېمي څه دئ چه دانش پرې ضائع کېږي     ويې لافي دا دروغو قيل و قال
وېمي لافي هوډ په څه تر سره کېږي     ويې زر بويه ځوانان بويه قتال
وېمي څه دئ چه نښان دَ ځوانمردي دئ     ويې عفوه په هنگام دَ استقلال
وېمي څه رنگه به والوزم آسمان ته     ويې دا شي دَ همت په پر و بال
وېمي کومه چار بهتره تر هر څه ده     ويې هر چه نيک عمل کړې نيک افعال
وېمي څه کړم چه محتاج دَ طبيب نشم     ويې لږ خوره لږ دخول کړه لږ مقال
وېمي څه کړم چه هر څوک په ما مين شي     ويې مه وايه دروغ مه کړه جنجال
وېمي چا سَرَه تدبير کوَم په کار کښ     ويې هر چه رسېدلي تر کمال
وېمي چا سَرَه نيکي دَ کړلو نه ده     ويې هر چه ابلهان دِي غير سال
وېمي کوم سړي دښمن بللي بويه     ويې هر چه په ښادي د شي ملال
وېمي چا سَرَه خويښي دوستي دَ کړو ده     ويې هر چه تر تا کوز لَرِي احوال
وېمي کوم سړی مؤمن بللي بويه     ويې هر چه راضي نه وِي به وبال
وېمي کومه چار جنت دَه پدنيا کښ     ويې ژگه چه هم ئې خوي وي هم جمال

وېمي څه دي دَ خوشحال خټک خبري
ويې واړه دُرِ گوهر دِي عقيق لال

که بد گناه څوک وکا
ته گناه ورته معاف کړې
نښان دَ مردئ دا دئ
چه زړه درست ور سَره صاف کړې
که بيا دِ بد پزړه وِي
نور ناحق دَ مردئ لاف کړې

يا زه څه لېوني شوم
يا دَ خلق روش نور شو
ځوانمرد په ځوانمردي کښ
دَ هر چا دَ سترگو تور شو

زر په بده ورَځ پکار وِي
هوښيار ځکه ساتي زر
دَ زر دار بلا په زرُو
دَ نادار بلا په سر
چه سپر وِي گذار په سپر شي
چه سپر نه وِي لاس شي سپر

په بهار کښ رنگارنگ تاروگي گوره
چه په گلو را پيدا شي لور دَ لوره
خود بخود له يوه لوريه را پيدا شِي
نه اثر دَ ديو له پلاره نه له موره
چه دا هسي رنگه حال په سترگو وينې
پدويم ژوندُون څه شک کړې ځما وروره

دا څو څيزه که ونخورې
هم څربېږي پرې سړَی
چه ښه جمال ته گورې
بل دانا سَرَه ناستي
ښه بوي جامې مهيني
چه دَ جنگ راوړي بري

سرود هورته دَي روا
چه نه غاو وِي نه غوغا
سامعان ئې صاحبدل وي
نه ئې نفس وِي نه هوا
اوکه نه دا هسي نه وِي
آرويدل ئې دِي خطا

دَ شرع حکم دوه دي
يَو جواز دَي بل افضل
که مرد بې له جوازه
وَ افضل ته وهه زغل
که دواړه سَرَه نه وي
سړی نه يې ته بيتل

راشه وغړوه سترګي — دَ جهان ننداره ګوره
چه ښایست لَري په ستوریو — دَ آسمان ننداره ګوره
دَ دې خپل وجود په باغ کښ — په هر شان ننداره ګوره
چه هر ګل وته نظر کړې — دَ باغ وان ننداره ګوره

ما دَ خپل بابا هډُونه پمړو پټ کړه — په هر هډ به ئې شل مثل دي ما غوښتلي
که دَ چا له لاسه وَمرم ګمان مکړه — چه بهرام سدر به روغ کا دَ چا ځلي
چه نه ننګ نه ئې غیرت پدا حیران شوم — چه خداي څه لَره پیدا کړه دا غوولي
چه حیات پدنیا ګرزي هم اموات دي — دَ ژوندیو نه مړه لږ نِدي زوولي

په خویونو کښ ډېر فرق دئ — که سړی پرې خبردار شي
ځني هسي خوي آغاز کا — چه خپل هم ځني وېزار شي
ځني هسي خوي آغاز کا — چه پرَدِي ئې خدمتګار شي
که څوک خپل خصلت دَ ښو کا — تر سرو زرو به رویدار شي

خپل شاګرد وته طبیب دا نصیحت کړ — رنګ ئې ګوره چه رنځور دِ دارُو خوري
دَ هغه رنځور دارو کړه چه رغېږي — دَ هغه رنځور دارو مکړه چه مري

چا ته سهل نظر مل کړه — په هر سر کښ سِر دَ خداي شته
دَ مزري څخه که زور دَي — دَ لونبړي څخه راي شته
زیرکي دَ کارګه ګوره — کروفر که دَ هماي شته
هیڅ مکان ترې خالي ندي — په هر لوري کتخداي شته

دَ هر چا دَ زړه مرهم شه — که نیکان دِي که بدان
خپل عمل وته ئې پرېږده — ته به څه کړې تر دا میان

خو چه خوله کا سَرَه وازه — حال دَ دواړو شي څرګند
که جاهل دَ کوهستان دئ — که دَ شهر دانشمند

په وَيَل کښې يَو پرېشان ځي    بل ويَل کا بند په بند
دَ جاهل وَيَل خوند نکا    دَ دانا وَيَل کا خوند
د جاهل وَيَل سرکه دئ    دَ دانا وَيَل دي قند
خاموشي ور لره سود ده    که جاهل مي مني پند

په باران چه دداني دَ درست عالم ده    په باران سَرَه که خونه دَ چا ځاځي
د باران په وريدلو راضي نه وي    که دا نور عالم همه په باران پاځي
په هر څه کښې دَ سړي دا خپل غرض دې    چه پزړه کښې ئې جنبش دَ کار را پاځي

خبر دار شه په ابدالو    که په وينښ دِي که په ناست دي
په حواس ئې زيست روزگار دئ    تر حواس وتلي ناست دئ

بې تا واړه ودانۍ دِي ورانۍ    درېغه درېغه بيا به را نشي ځوانۍ
په پيرۍ کښې فکرونه اندېښنې دي    چرته ته ولاړې دَ ځوانۍ نادانۍ

يوه بيړه[1] دوهم قهر    په سړی پرېباسي قهر
که څوک دا خويونه ورک کا    تل به خوښ اوسي په دهر
دا هر چا لَره بلا دي    لا ملوک لره دِي زهر

اندېښنه که په غره کښېږدي    غر به هم لکه وېښته کا
خوار سړَی ملامت ندي    که په غم کښې خان اوبه کا

د ملک او دَ دولت ښنتن خطا کا    چه به مخ نيسي په خمر په خمار
چه خداي پچا دَ چا حکم روان کا    څه اسان و سهل ندي دغه کار
که يوه پښه دَ گوډ ماته شِي په لار کښې    خداي به دَی پوښتي په ورځي دَ شمار

---

۱. راحت زاخيلي بيره په معنا دَ هجوم ليکي، مگر دلته ښه نه ور سَرَه لگېږي، حل غواړي.

و هغه وته په قهر نصیحت کړه
چه پخپله سروَ ملوني وته اوړد کا

چه په نرم نرمي پندونه بند کېږِي
هغه آس مي کله بند په کمند کيږِي

هر څوک دِ خپل يُون کا
څوک چه خپل هنر بدل کا

که کارگه دَي که کوتره
خپله چار کا نِدي اوتره

ښه ده دا خبره
داد په خروارُونو کړه

که ئې پند کړې دَ خوشحال
حساب کړه په مثقال

په هَرَه چار کښ عقل قاضي کړه
دَ هَرِي چاري چه فتوا درکا

ورچني غواړه روايتوُنه
تر خوله وباسه هغه حرفونه

څلوېښت کاله کښ چيني شي
کودي منگي په ورَځي سل شي

پرې ښندلي شي درې سپيني
خود ئې قدر قيمت ويني

خوشحال خټک زوړ شو
د آسمان په دَور نَوړِي
چه ډېر کاله پرې تېر شِي
چا پرې گوته يښې نه دَه
په هر بازار چه ورشِي

عيب ئې کوم دئ گيدي خرو
بوي دَ مښکو دَ عنبرو
بوي لا ښه شِي دَ اگرو
دَ زوړوالي په گوهرو
قدر نه ځِي دَ سرو زرو

دَ سيالانو په جرگه د ناستي نکا
چه وَنه وَهي په دواړُو لاسو توره
چه تر سر و تر مال تېر نشي په عشق کښ

چه له سياله نه ئې ندِي خپل گټلي
چا ملکونه په ميراث ندِي موندلي
څوک دَ جونو په پالنگ نه دي ختلي

چه دَ بل قاضي مفتي د کتاب نه دئ
په سولي ئې کښېنوه په اور ئې سيخه

دَ خوشحال سبق له چا دَي له منصوره
انا الحق وينا به نشي ځني دوره

دَ جهان په حال اول خبردار نه وم — دا یم اوس په سپینه ږیره خبر دار شوم
چه هر چا به راته لافي دَ یارئ کړې — په اخلاص به تر هغه سړی ځار ځار شوم
چه مي ولیدل چه واړه دَ پل زړه دي — دَ همه واړه جهانه نه وېزار شوم
چه مي یار دَئ یا قلم دَئ یا کتاب دئ — اوس له دې یارئ پاتو به ابصار شوم
د بازونو ښکار مي هم دمه دَ زړه وه — د نظر په کمي کم دَ باز په ښکار شوم
په طاعت په عبادت که څه حاصل وي — شکر دا چه وطاعت وته وزګار شوم
زه خوشحال ختټک حیران یم نه پوهېږم — چه دَ څرخ دَ لاسه څه وم په څه شمار شوم
یو ستم دَ اورنګ زېب بله پیري شوه — پدا دوه توکه دا هسي خوار وزار شوم
که دَ زویو مي لښکر دي هیڅکاره دي
لا دَ دُوي له غمه هسي تار پتار شوم

تر هغه نه به بل بد پجهان نه وي — چه ته راز دَ زړه وَ ده ته کړې آغاز
دَئ د تا په کمي پاڅي ستا بدخواه ته — یکایک واړه بیان کا هغه راز
قیامت به چه جزا د خبل عمل وي — دواره لوریه به مخ تور وِي دَ غماز

په هر کار کښ مصلحت شته — که دَ سترګو اَړَول وي
نادان پرې نه پوهېږي — پرې پوهېږي چه عاقل وي
هر چه کار په مصلحت کا — هغه هر کله خوشدل وي
کار چه کا بې مصلحته — په غمونو کښ خښ تل وي
فرض واجب سنت شته نفل — مراتب ته بې کتل وي
دَ دین کار په سرښته دئ — چه به وحي پر نازل وي
هسي کار دَ دنیا هم دئ — چه په عقل ئې موندل وي
چه ئې عقل پوهه نه وِي — دَ هغو چاري باطل وي
یا دَ نفس په هوا درومي — یا ګمراه ګرزِي جاهل وي
راته څه وایې خوشحاله
دا دِ چا وته وَیل وِي

تر مشرقه تر مغربه — درست جهان واړه خبر دي
زیست روزګار دا واړو خلقو — چه راوخېژي په نمردي

ښاپېرک ور ځني تښتي  دَ نمر کوم خلل خطر دي
ړوند ئې نه ويني پسترګو  ويني نمر چه سترګور دي

چه مغل وته مي وتړله توره  درست پښتون مي و عالم وته ښکاره کړ
خټک کله په شماره په حساب ياد وه  خټک ما دَ اولسونو په شماره کړ
اتفاق په پښتانه کښې پيدا نشو  ګنې ما به دَ مغل ګريوان پاره کړ
څه په عقل په تدبير په توره نده  حواله مي مرشدکار په ستاره کړ
خپل تدبير توره مي کښېښوه په ګندو کښې  دا دَي ځان مي له عالمه کناره کړ
اوس مي نور غمونه نشته غم مي دا دئ  چه اولاد مي خداي دا هسي هيڅکاره کړ
سرَه يو تر بله اخته دي پخپل کور کښې  په نفاق ئې غم و ما ته اجاره کړ
دَ مغل په منصوبونو غره ګرزِي  يکباره ئې مخ په نفس اماره کړ
ما دولت ورته ګټلي وُ په توره  دا ځما دَ توري نقش ئې آواره کړ
خو دَ خداي فضل و کرم وته اميد دي  ګنې حال مي دَ زامنو ننداره کړ
په منصب چه غلول نه کا نور په څه کا  مغل خداي و پښتنو ته بيچاره کړ

ښايسته عالم خانه ده  پرې ټکه ئې واړه ستادي
ورته ګوري حيرانېږي  چه دَ چا سترګي بينادي
په هغه مي رحم ګېږي  چه هيڅ نه ويني اعمادي

چا و ما ته نصيحت کړ چه زر ښه دي  ټولَول به کا دَ زرو چه خبر دي
چه په کور کښې خزانې لري دَ زرو  هغه کس که يک تنها دئ زورور دئ
هر بادشاه چه خزانه ور څخه نه وي  عاقبت ور څخه تار پتار لښکر دئ
هر سړی چه پنام لوي پدولت کم وي  په معنې بدرنګه ښځه سپين څادر دئ
په مثال ئې دَ هغې مرغۍ مثال کړه  چه سينه ئې کشاده تن ئې لاغر دئ
ګوره ما دَ هغه څرنګ ځواب ورکړ  چه به پوه شي هر سړی چه دانشور دئ
ما وې مرد لَره خو نام بويه نادانه  نه دَ زرو ټولول چه بد هنر دئ
که هندو څخه انبار انبار مهران وي  په مهرانو به ښه نشِي مختصر دئ
که په خره باندي دَ زرو صندوق بار کړِي  خر به هيڅ په دا ښه نشي خو خر خر دئ
چه هنر ئې دَ لوئي ونيو پلاس کښې  دَ هغه وجود پارس شو واړه زر دئ

یَو دَ بلَ زده کوي دَ دنیا دود دئ — چه شاګرد نشي استاد نشي سړی
زبوني به ئې په دین کښې پیدا نشي — که زبون په اعتقاد نشي سړی
خواست دعا په آساني کله قبلېږي — دَ تقوا پکار څو را دِ نشي سړی
دَ زحمت علاج ئې کله طبیبان کا — څو په آه و په فریاد نشي سړی
که لږ خوري لږې خبري لږ دخول کا — په زحمت به هرګز یاد نشي سړی
که ئې زړه ندَي په خپلي رسوائیِ — راضمین دِ په فساد نشي سړی
مکافات دَ هر عمل شته په جهان کښې — دَ بدیَ پکار دِ ښاد نشي سړی
زمانه به ئې دَ باد یستنه نه کا — که شناځ غنُدِي پُر باد نشي سړی
په خالي وَیل به نه آدم زاد کېږِي — په عمل چه آدم زاد نشي سړی
که په عمر صد ساله شي لا آدم دئ — چه سیاح دَ هر بلاد نشي سړی
په اولاد کښې ئې اثر دَ اصل وشي — دَ بد اصلو دِ داماد نشي سړی
لکه ښه غنم چه وَکَرِې جودر شي — په دنیا دِ بد اولاد نشي سړی
دَ ورورۍ به ئې هیڅ حلاوت نه وِي — چه وَ ورور ته په سداد نشي سړی
چه مددِ آسماني نه وِي له بخته — لوي په اصل په اجداد نشي سړی
بیدادي به دَ هیچا باندي ونشي — پخپل ځان کښې که بیداد نشي سړی
که کوښښ کا په اخلاص زه ئې ضامن یم — که کامران پخپل مراد نشي سړی
لا به چاري دَ ځوانیَ ترې پیدا کېږي — چه په عمر کښې هفتاد نشِي سړی

بهتري دَ خوي خصلت بویه خوشحاله
خام طمع دِ په نژاد نشي سړی

که ژوندي شي افلاطون — په سوات کښې ونسي سکون
اکوزیو ته بیان کا — کتابونه دَ فنون
هدایه کفایه دواړه — په پښتو کاندِي موزون
دوي به وائِي چه دا څه دئ — مخزن[1] ښه دَي دَ اخون
نیشکر به غوایه څه کا — په واښه ئې دئ ژوندون

۱. د اخوند درویزه مخزن الاسلام.

چه دَ وره په ملک کښې ښه پښتون یادېږي | نن مهمند بنګښ ورک زئ ِ افریدي دي
دَ مهمندو سپي بهتر دي تر بنګښ | که هزار ځله مهمند بتر تر سپي دي
چوهړي دَ آفریدیو نه ورک زئ ِ | آفریدي که همه واړه چوهړي دي
هر چه ښه دَ پښتون خوا دئ حال ئې دا دئ | هغو بدو ته ئې څوک وائي سړی دي
له ژوندیو پشتنو ښېګړه نشته | هر چه ښه وُ هغه کل دَګور بندي دي
نن دا واړو پښتنو بهتر مهمند دي | هفه هم وَواړه خلقو ته څرګند دي
چه مغل ورته ووائِي"دولتخواه است" | نور حرام شه که پخپله کونه بند دي
پښتانه دِ ننګه وباسي له دله | اولس تړلي دَ مغل دَ آش پخوند دي

که آزاد دي هغه مرغونه دي | چه هم بې رنګ دي هم بې الحانه
په بند که بند دي خو هم هغه دي | چه هنر ئې پاڅېده له څپله ځانه

چه تا نه وینم په کور کښې | اور به پوري په درست کور کړم
که مي لاس پځان رسېږي | ځان به هم تر بلا هور کړم

خوي دَ هاتي دا دئ | چه خروَر شِي دَ وړاندي
که نه غړېږي له ده نه | دئ ترې ځاَن کناره کاندي

یَو کاڼي دَ بېدیا | تر تندي لاندِي کړ عیسٰي
چه هغه فهم ئې وکړ | هم ترې بوي ته دَ دنیا

شریعت دَ وني بیخ دئ | طریقت لکه ښاخونه
حقیقت دَ وني پاڼي | معرفت مېوه ګلونه

چه کُښل کا سپیه توره | دنیا لوني بازینه
تیمرُ غُندِي که نشي | دَ عنبر غُندِي دِ شینه

که توري که توبري دئ | که مزري دئ که مارونه
دا همه واړه آفت دي | ژبه لا دَه ګوناګونه

یو ښه مخ دئ بل ښه آواز دئ　　چه ځان له تنَ خبرله زړه وړي
چه دا دوه توکه سره سره شي　　ځان و زړه مي دواړه سَرَه وړي

مجنون چه ومړ په ګورکښ پرېوت　　فرښتو ترې سوال کړ چه څوک دِ خداي دئ
ده وې په نور څه خبردار نه یم　　دَ لیلي خیال مي پزړه کښ ځاي دئ

چه نادان چېري غلط شي　　ورته ووائِي نادان دئ
خداي به واړي چاري ښې کا　　دَ هر چا سَرَه شیطان دئ

چه اشرف میر باز دِ هم غلوي خوشحاله　　ور سَرَه لا دَ یحییٰ غُندي دهن
کا دَ بلي هوښیارۍ پاتو نشو　　اوس یا مرګ دَي یا مکه ده یا دکن

چه مي ولیده وګړي دَ دنیا　　تر قضا پوري اَصَم دي هم اعما
دانائي عقل دَ هر چا حبطه شي　　په هر چا باندِي چه رایشي قضا

څه کم عقل نادانان دِي　　دا ړانده بې بصارته
نعمتونه پخپل کورکښ　　مري له لوږي له هیبته

بهرام غر دَ خیرآباد په حماقت دئ　　آب سیند دَ خیرآباد دئ په دروغ
دا نړا د خرونو نده پوري خاندي　　چه په څو سَرَه پیوند کا روغ ناروغ
دَ خبرو ئې فروغ نشته دَکار ئې　　لکه پيِ دَ اوښانو واړه دوغ
په خبرُو کښ ئې کُچ دَ رشتیا نشته　　هم پدا سبب اصلاً نشه فروغ
پدا هسي قباحت چه دی پیدا دئ　　دا سړی نه به هم بل پیدا ویي بوغ[1]
دَ ده سر دَ سردارۍ دَ دستار نه دئ　　دَ ده سر لَره پیدا شوي الچوغ
بېګانه غلیم پروا ور څخه نه کا　　خو پخپلو باندِي دانګي دَ ده توغ
خو ځما له ځانه نه وِي پیدا شوي
زه خوشحال ئې په جهان کړمه تور و روغ

---

۱. دا کلمه په یوه نسخه کښ یوغ ده، بوغ په پشتو کښ دَ لرګو ښانک او چوبي پیالې ته وائي.

چه څاربه مړونه جُغدي کښېږدي مردان دئ — تويه وي په سپينو وريژو ژيړ غوړي
مربه اچار شربت[1] پخو څو رنگه — و مېلمه ته مهيا گړي گړي
مرد به تل دا مېلمانه خدمت پځان کا — تفقد به باندې کا گړي گړي
څوك په زور مېلمه و خوني وته بيايي — څوك په زور مېلمه له خوني نه شړي

بد خوئي را سَرَه يار شوه — خداي دِ امن ځني را کا
چه تش وَگورم وَ چا ته — نور د ما جزا سزا کا
که لږ ووي وَبَله وکړم — په مانې شي راته شا کا
مگر بخت په ميان کښ راشي — چه ئې ما سَرَه پخولا کا
هيڅ ځما په رضا نه وِي — څو چه شي خپله رضا کا
چه مَيَن شوې قبلَوه ئې — که هر څو جور و جفا کا
دا دِ يار ندَي خوشحاله — دا خپل زړه چاري پتا کا

خپل مزاج دَئ کُښي کُښي — هر څوک کار پخپل انداز کا
چه قدرت لَرِي دَ پرونو — پرنده هونبره پرواز کا
مجال نه رسي دَ چتِي — هغه ځاي چه دورې باز کا
سپی دُرمه چيچي دَ غشي — پړانگ حمله په تير انداز کا

لکه غشي تر سپړ پرېوزي — تر هوسۍ که هسي پريوزي
لوي مقصود به دِ حاصل شي — په عجب خوښي به کښېوزې

که څوک دا وينا و تا ته کا معلومه — چه دَ نوح دَ طوفان مأ راغي له کومه
ورته وايه نه دَ ارض نه د سما وې — هغه ماء دَ نوح له اوښيو وې مخدومه

چه په کور کښ دِ گمان د مار لړم وِي — له هيبته دِ په خوب چېري رضا شي
دَ دوږخ مار و لړم دِ په يادنه دي — په قراره قراري دِ نمونځ قضا شي

---

۱. په دوهم بيت کښ گړي گړي يعني منگي منگي او په دريم بيت کښ په معنا دَ ساعت دئ.

دَ مجنون په نظر کښېوته ارهنډه[1]
سر تر پایه سَرَه درسته کنډه کنډه
وَ ارهنډې وته ډنگ په سجود پرېوت
په دا حال کښ دَ عالم په نظر کښېوت
ورته ووې چه دا څه کړې لېونیه
مجنون ورکړ دا ځواب چه اې زلمیه
دا ارهنډه په ما ونه دَ جنت ده
که سجود کړم ورته ځاې دَ عبادت ده
یوه ورَځ په لارِي تلم له خپله کوره
لیليٰ ناسته وه د دې وني تر سیوره

سودي قرض له چا څه غوښتل
تاخت و باخت هرزني غلا
دا تا واړه ناروا کړل
ما هم پرېښول ناروا
وائې زه دَ رزق ضامن یم
خود به وگورُو چار ستا

یَو یو ځوان دَ سپیني توري حق پېځاي کا
که نه هر کیډَي ئې وتړي په ډوډي
واړه زویه برابر نه دِي زوولي
زیات[2] که وَگورې اورنگ دئ د مور چوډي
ځان دَ خلقه سَرَه خلق کړه خوشحاله
دا زیاتي[3] خبري ومنډه په گوډي

ملائي په ډېر تحصیل شي
شاعري دَه له حکمته
ملکِي خو بادشاهي ده
خاني هم له سلطنته
پېري لا لویه پایه ده
دَه له ډېره ریاضته
مفت آسان گنې دا واړه
پښتانه له جهالته
هر سړی ورته ملا وي
چه په یاد کا څو آیته
چه پیرو[4] هغه شاعر دئ
قافیه غلطه کته
هغه سگ ورته ملک دئ
چه کلمې وړي له محلته
خان هغه چه تر کُس پرېوزي
په زانگو کښ وهِي لته
پیر هغه چه پسي درومي
څو سر توري په دالته

١. یعني دَ بېځنځیر ونه.
٢. زیات که گورې رنگ دَ مور لَرِي مور چوډي.
٣. دَ حکمت خبري.
٤. یعني مقلد.

آفریدي په خوي پردَي دئ
په یارئِ ئې نفرین
څه تیراه څه ئې وګړي[1]
څه ئې ملک څه ئې آئین
دوه درې ښځې غله واخلي
څوک چه ښه وکا سادین[2]
نه ئې نمونځ نه ئې روژه شته
دَ شیطان لري تلقین
ځکه هسي اولجئي دِي
چه نه رزق لَري نه دین
يَو لعنت په آفریدي شه
سل لعنت ئې په دیشین
آفریدئ لا څه پرنګ دي
دیشین لا دي ترې بېدین
خداي دِ دواړه قومه ورک کا
په دا ژر ورَځې آمین

چه زړه دَ چا ژوندي وِي
هغه مینه کا په ښکار
له ښکاره ئې څه کار دئ
چه پزړه نه وِي بیدار
که ښکار کا دَ مرغونو
دَ بازونو دَئ په کار
دَ سپي په ښکار هم درومه
که میدان دَئ که کهسار
دَ غشي ښکار ډېر ښه دئ
که باتور وِي په ګذار
که ښکار دَئ دَ ټوپک دئ
که پرې ته وکړې تلوار
نن خوشحال پدا دوه کاره
په چهان کښې دَي اوځار
دَ باز دَ توپک دواړه
هم پدا دا دي مینه دار

لویه چار دَ پښتانه له لاسه نشي
مګر چار ئې آسماني ده کمه کوزه
که هر څو ئې سمَوم رانه سمېږي
چه کاږه دي دَ بدبختو څو وربوزه
په فساد کښې هیڅ فائده نشته خوشحاله
دَ فساد په اور کښې سېځي واښه دروزه
هغه چار چه عاقبت لَره ښه نه وي
دَ هوښیارو په مذهب دَه لایجوزه
یوسفزئِ ننګیالي پښتانه نه دي
دَ بې ننګو پښتنو له منځه ووزه
یا دَ بنوُ په لور درومه ټوله وکړه
تر خوشا به پوري ملک کړه شنه ډېوزه
یا په کنج کښې دَ عزلت کښینه طاعت کړه
یا مَلې لره ځه بس دا درې رموزه

---

۱. څه تیراه څه ورکزئ.

۲. یعني پټې او دَکر مځکه.

دایم راغلم په دا عمر | چه مي سپین شو تور وېښته
یا خاورِي دِي یا کاڼي | راته واړه سپین اوسره
هیڅ کار نشي بې له زرو | چه پرې وپوهېدم زه
گرم نه دي دا وگړي | که پرې وباسې لېمه
چه سپین وسره پرې ورکا | هغه کُښل کا سپینه خوله
هم زر دِي که ئې گورې | چه به غره بیايي اونه
که هر څو لتا زړه بد وِي | بیا په زر رغېږي زړه
خداي رسول سرَه خپلېږي | په زر نوري چاري څه

کُنِي کبر مزري یاره وړي هم دا دوه شهوره
صحبت مکړه له ښځي که په رنگ ده ښځه حوره
که لنده ده که ورغومي دا دوه شهره هم ځان ژغوره
چه پیدا دَ نرگس گل شي له سینې ئې مکړه دوره
څو لا گل شته په گلزار کښې ني ومَي معشوقه واړه
که دِ لاس باندِي رسېږي لحظه مشه بې سروره

ستا به څه یاد کړم تیراهَ | چه دَ زړه وکړم پرینې
هر بیگاه به دِ باران وُ | په شېبو شېبو ډېر گڼې
دَ ورک زیو آفریدیو | په هیداد باندِي درونې
لو نښتر لوئي څیړیَ | بې مېوې نابوده بڼې
دَ پوزیو کمي خوني | سپی سړی پکښې سجڼې
دَ رنځړو دَ بوي ډکي | پمن والي پکښې گڼې
خسي ورغومي پکښې کوپټي | خاوري سري درست انگڼې
چه په شک پکښې سړی وُ | یو احمد وُ بل چندڼې
واړه چڼې دَ تیراه ښې دي | لا اوبه دَ بَتَهڼې

زلفي ستا نافهٔ ناب دي | لب دِ شراب دِي دَ فرنگ
کښلي مخ دِ نسترن دي | ستا باڼه تازه خَدنگ
په مخ ډېره ښایسته یې | لږ دِي کښلي ستا په رنگ

تل تل غم بادني نایاب دئ　　　　ځاي دَ خواب دَئ ستا پالنگ
ښاپېریه مې ګڼلې　　　　دَ څړېَ دِ ښه ژرنګ
په تا ښائي چه آخلې　　　　دَ پَرَیو نه قلنګ
بدن سیمه خوبا ته يې　　　　قلب دِ نه دئ دی دي سنګ

ختهک چه په آس سپور شي　　　　درسته وَتَړي په کونه
شمله دَ دستار پرېږدي　　　　په تندي کښ اُوږده پلَنه
سایه دَ شملې ګوري　　　　دَ خپل اس په ترَپَونه
جنجو[1] ته کا ښکنځلي　　　　پکو لک کاندِي پوښتَنه
دعوا دَ خانۍ واخلي　　　　په فساد کاندِي جستنه
حسد بده بلا دئ　　　　دَ سړی په ورکوَنه
دَ هیچا څه و نه کا　　　　حاسد شنه کا خپله ینه

ناګاه به دِ پکور باندي غوغا شي　　　　چه فلانه تر جهان تېر شو فلانه وخت
دَ غسل دَکفن زېرمه ئې کانې　　　　وکفن لَره ئې راولَي ښه رخت
په ګور کښ به دِ کښېږدِي زویه وروڼه　　　　بیا به کوره وته رایشي یکلخت
حساب به دِ دَ مال کاندِي پزړه کښ　　　　پدا کار کښ ګرفتار وِي واړه سخت
ملګیري به دِ پګور کښ څوک و نکا　　　　که دِ مل خو به عمل وِي هغه وخت
خپل عمل به دِ په ګور کښ پکار کېږي
په عمل کښ که نیکبخت وې که بد بخت

دَ بادشاه د سره[2] لعل په ښکار کښ پرېووت　　　　چه شغلې ئې ځلېدې تر بله اوره
ناګهانه دَ شپانه په لاس کښ کښېوت　　　　ژر وَ مور لَره شپانه راوړ تر کوره
یو ګهوري ئې په خونه کښ عادت وُ　　　　دَګهوري ئې په غاړه کړ اې وروره
هغه لعل دَ جوهري په نظر کښېووت　　　　په بها ئې ځني یوړ په یوه توره
لک روپۍ دَ هغه لعل قدر قیمت وُ　　　　نادیده عالم په توره ورکړ ګوره

۱. په واده کښ دَ ناوي پلار ګني جنجي بولي.
۲. له تاجه.

دا دَ سر په سترگو مه گوره خوشحال ته
دَ باطن سترگي پيدا کړه ته ئې گوره

سړي وباسي له کاره
پکار نه دَي ډېر ځربښت
ناقابل زويه لوي مشه
لا تر ډېر ځربښت دئ زښت
تربيت دَ قابل ښه دئ
په ښه مزکه سبه شي کښت
ناقابل دَ ښورې کښت دئ
تربيت ئې دئ کاهښت
چه ناکس مي تربيت کړ
ما خپل ځان ته آفت غوښت
دواړه توکه ئې بلا شوه
هم ساتَنه هم نوشت
بل علاج نشته بې صبره
اوس مي صبر دَي بالښت

څه خو شرنگ زېبا گلونه
له ديو خاورُو نه پيدا شي
بيا په څو ورځو معدوم شي
پدا خاورُو کښ فنا شي

حبش په مکه راغي
چه مکه کاندِي ويرانه
قريشو جنگ ونه کړ
تار پتار لاړل له ميانه
چه وخت دَ محمدﷺ شو
عرب سلوم شول په مړانه
مدار په ښه سردار دئ
نور څه مه وايه اې ځوانه
چه مير دَ لښکر مرد وِي
گرانه چار شي پر اسانه
که صبر که همت دَي
فتح يو سي له ميدانه

حمل ثور دا دواړه فروردين اُردي بهشت دي
پښتو به درته وايم اول وَري دويم غځکي
خوزا سرطان خرداد و تير دي پحساب کښ
پښتو ئې ځينور[۱] اوکني کبر حساب دئ
اسد سنبله دواړه امرداد شهريور دي
پښتو سنبله ويږي اسد وَگړه مزري
ميزان عقرب دواړه مهرآبان سَرَه حساب کړه
پښتو تله، لړم دي دا دِ ياد لَرِي سړی
لينده ورغومي څه دي لا دا واروه درته وايم
يو قوس دوهم جدي دواړه دا دِي آذز دي

۱. دَ جوزا معنا په پښتو غبرگولي دئ، ځينور ما ندَي اروېدلي، عيناً وليکل سو، تحقيق غواړي. د هجري شمسي د دريمي مياشتي نوم (درياب).

چه دلو حوت ووائِي يَو بهمن بل اسفندار کړه
پښتو له ما نه واروه يو بوگه دوهم ماهي[1]

کډو مي دَ چنار په ونه وخوت
و چنار ته ئې آغاز کړه دا مقال
چه ته دَ څو کالونو يې چناره
راته ووايه خپل عمر خپل احوال
چنار ووې چه دَ دوو سو کالو زه يم
بحساب کښې گنُدِي کم وِي يو نيم کال
کډو ووې هاي خو ته په مدت لوي شوې
دا يم زه در سَرَه سم شوم دم درحال
چنار ووې ښه چه وخت سخت دَ څله راشي
زه او ته به سره زده کړو هاله حال

هوښيار به پرې پوهيږِي
هيڅ باور نشته په بخت
که په بخت کله باور وَي
تل به يَو ناست وُ په تخت
بخت باران دَئ چه وريږي
چرته نرم چرته سخت
که وَوَرِي په کاڼي
که وَوَرِي په درخت
بخت خوشحال سَرَه غليم دئ
چه لري دَ هنر رخت

درست عالم تېر شو بخري حساب کړه
هغه تېر سَو بخري واړه ناکسان دي
په شپېته کښې پنځوس بخري هوښياران دي
پدا هونبره کښې لس بخري غازيان دي
درست جهان په پوهانو سَرَه ډک دئ
ولي زيات که په کښې وگورې افغان دي
هوښياران يگان يگان په هر مکان شته
چه کثرت ئې دي په ملک دَ خراسان دي
چه داخل په جمع خرڅ ندِي پدا کښې
هغه واړه جتې هندکي دَ هندوستان دي

که فرزند غواړې له خدايه
چه لَرى حيا وفا
چه له حيضَ پاکه نشي
دخول مکړه دَ نسا
که له حيضَ پاکه نه وِي
بد فرزند شي ترې پيدا
که دليل غواړې لمانه
لاس په لاس دَي دليل دا
وَ بهرام وته نظر کړه
هم وفا هم ئې حيا

---

۱. په پښتو حوت (کب) بولي، ماهي پارسي دئ.

په يَوه باران کښت ورک کا خلقې کا سَرَه خواري
زهزنان باندِي تعيين کا مسافر وژني په لاري
يسيران کا تندي اوړکي چه له لوږي وهِي ناري
ناوي زنې سَرَه ښېل کا دَ مرگوتي په چيغاري
خداي عادل دئ ظالم ندي نه په ظلم دِي دا چاري

پډېر رنگه فضيلت شته پجهان کښ دا يَو څو به درته ياد کړم زه خوشحال
فضيلت دَ ښه نسب دَ اصالت دئ فضيلت دَي دَ ښه حسن دَ جمال
فضيلت دَ شجاعت دَ مرتوب دئ فضيلت دَ سخاوت دئ د ډېر مال
فضيلت دَ ډېر هنر دَئ دَ ډېر علم فضيلت دَ ډېر اولاد دئ دَ عيال
نه دا کل فضيلتونه منونه منونه نه چه بخت دَ چا څخه وِي يَو مثقال

لږ خوراک تنگي کلمې بويه دَ ښځي مرد هغه چه ډېر خوراک کا ډېر خړي
چه ځاربه مړونه جُغدي کښېږدي مردان دئ تويه وي په سپينو وريژو ژېړ غوړي
دَ هغو دنيا نابوده نه دَه څه دَه چه پيسې په کور کښ ږدي اوگرې لړي
مرتبې دَ هر چا راغلې بېلي بېلي سَرَه نه دِي برابر واړه سړي
څوک په زور مېلمه وخوني لَره بيائي څو په زور مېلمه له خوني نه شړي

په اتم دَ سنبلې منتهي شِي دوه څيلې
اباسيند په تِه کښ کښېني په تن وچي شِي خولې
وږي وَخېژي دَ شولو کار ښکاره شِي دَ غلې
هونهائيِ وَ غره ته جوړ شي دَ خپل ښکار په مشغلې
زانې وَوهي غږنگي لور په لور هورې دلې

که ئې کښېنوې په باغ کښ مرد به و نکا آرام
څو پوره په غليم نکا هَرَه چار دَ انتقام
فراغت کا خبر نه دئ نامردان په ننگ و نام
بهرام وته وگوره درست بنده دئ دَ خپل کام

دَ صورت په زور قوت غر نه ماتېږي | که خبر ئې دَ کوهکن پزور قوت
چه دَ روح قوت پيدا شِي قمر شق کا | په هر لوري ئې په مخ درومي نصرت

که هر څو باندِي باران دَ بهار ووري | گل سنبل به ترې پيدا نشِي له سنگه
امتحان لَره ځان خاوري کړه وگوره | چه گلزار لتا پيدا شي پښو رنگه

که کل واړه جهان په لاسو راوړې | دَ قارون تر خزانو دِ گنج بسيار شي
دا کل واړه مي تر دا پوري هيڅ ندي | چه له لاسه دِ ناحق سړی آزار شي

پلار هرگز په بدو زويو راضي نه وي | ولي بد زويه آخر دَ پلار بدخواه شي
چه دَ پلار په بد راضي شِي هغه زويه | په محشر به ئې بېشکه مخ سياه شي

نن چه په جهان باندِي لاس ستا دئ | دَ نيکیِ تخم کرَه څو دِ پدست شِي
ستا پخوا دَ دې دنيا صاحبان نور وُ | بس لتا به هم دَ نورُو بند و بست شِي

په کوم گرداب کښې گرزې | گردابونه صد هزار دِي
په هسي درياب ډوُب يې | چه موجونه ئې خونخوار دِي
راشه ځنِي وَوزه | دا واته ځني پکار دِي
نه غم نه ئې اندوه شته | چه وَتَلي په کنار دِي

د مغلو سرَه گډ په زيست روزگار کښې | غوريه خيل دي يا ترين دَ قندهار
که سودا دَه که خوېښي که نوکري ده | نور پښتون دي له مغلوُ نه وېزار
پدا دَور چه کوټونه پکښې ساز شول | يوسفزیِ تر دا دواړُو دي مردار
کشميري به هم دا هسي رنگه نه وِي | چه تر ښځي دَ مغلو خدمتگار

دَ يوې ښيښې شراب دِي | سرَه گرزي د مست پدست
چه اصيل سړي ئې وڅښي | نه بدگوي شِي نه بد مست
سل ناسازي په لاس واخلي | چه بدذات شِي مَي پرست
دَ شرابو گناه کوم دي | گناه ستا دي هر چه هست

څو زه پايم په دنيا کښ ــــ دا دوه خواست کوَم لتا
يَو مي روغي لَره سترگي ــــ بل مي ټينگه لَره ملا
ښايسته وُو لَره غواړم ــــ دواړه توکه هغه دا
که دا دواړه توکه نه وِي ــــ ما هم بيايه له دنيا
هر څوک پلار دَ لونړو مشه ــــ پلهږر غم شِي مبتلا
څو چه لونړي وِي پکور کښ ــــ په کور وِي هونبره بلا
ځما پکور کښ دېرش دِي ــــ که تر دېرش دي ډېرَي لا
که غم وُ هم دَ دي وُ ــــ را سَرَه سبا بيگَا
پخپله خداي واده کړي ــــ چه له سرايه شوم جدا
چه ته کړي واړه ښه کړي ــــ يَوَه خدايه ربَّنَا
تر کار دِ نَرَسېږِي ــــ عقل فکر دَ هيچا
که چارده هم هغه ده ــــ هر چه پسندي وِي پتا

د زړي ښځي په کُس کښ ــــ دَ جلاب جمال کوتړه وي
بند په بند ئې سَرَه بېل کا ــــ غوئې رغښته تر کوتړه وي
په کمر دِ درد پيدا کا ــــ په کښ دا هونبره تروتړه وي
رنگ ئې مه گوره په سترگو ــــ که ډنگره که موتړه وي

مسلمان سړی به څه لَره دروغ کا ــــ چه په کفر کښ دروغ دئ هم ناروغ
که دِ سر ځي که دِ مال جي دروغ مه کړه ــــ اعتبار دَ سړی لاړ شِي په دروغ
دروغجن که په دروغو په تخت کښېني ــــ هم به نه درومي دَ ده په مخ فروغ
چېري هم دَ ده په مخ کښ روښنائي ځي ــــ رونگزېب په دروغ بلند کړ توغ

يو ښه باز ئې خپل بابا لَره را نغَي ــــ دَ اشرف مرغي که ډېر دي تر ورغو
په جنگل کښ مگر ښه بازُونه لږ دي ــــ پلار ئې دا واړه شمارلي په هغو
يا به هسي حبطه شِي په مغلو ــــ يا به ومرِي يا به گرزي په رغو
دَ خوشحال به دَ گاوزو غُندِي ښکروُ ــــ که ښکرونه دَ چا زو وَي په مرغو

ترې نيست وته نيژدې دئ     ځکه نَلَرِي هيڅ بود
که خورم که دريش خيل دي     چه په کښې دِي څوک موجود
که ورکېږي که زياتېږي     نه ئې زيان شته نه ئې سود
درست ميري لکه وړي دي     دَ شړيِ تار و پود

نه ئې زر ځما په کار دي     دَ دنيا نه نور مالونه
په اوه کاله دا نه يم     لا پخوا په ډېر کالونه
لکه هسي رنګه کار دئ     سکه په څه دا جنجالونه

چه دايم په يَوَه حال دئ هغه خداي دئ     په سړی باندِي وردر وي څو حالونه
دا څلور عنصره تل و بله جوړ وِي     دا پنځه حواسه جوړ وِي څو کالونه
دا چه ته وايې ځما دِي دا ستا نه دي     که دِ ځان دَي که دِ ملک دَي که مالونه
ښه هغه چه ئې خداي فهم فکر ښه کړ     بد هغه چه ئې باطل دَ زړه خيالونه

چه په ځان سړی تورزن وي     بل کار نشته تر دا ښه
که مَين دِي په تورزنو     خود نامرد وِي هم لا ښه
که نه دا وِي نه هغه وِي     هغه څه وِي وچ واښه
چه دَ اور لمبه پرې راشِي     واښه سېځي بلا ښه

چه قضا ورباندي ورشي     عاقلان به غوږ کانه کا
که هر څو ورته وَيَل شِي     و هر چا وَته غوږ نه کا
په بينا سترګو ړانده شي     چه بلا باندِي خاته کا
څه سړی څه ئې بنياد دي     په هر څه کښې خداي خپل کړه کا

هَرَه چار چه په تقوىٰ په فتوي نه وِي     زه ئې حکم په الحاد په ارتداد کړم
دَ شيطان په بند بندي وَم پځواني کښې     په پيري کښې ئې له بنده خداي آزاد کړم

در به وښَيم دَ خپل دَ پردِي رسم     پدا کار کښې تجربه لَرم ښه رسم
چه په ښه دِ ئې زړه ښه شي هغه دوست دئ     چه په ښه دِ ئې زړه بد شِي هغه خصم

په دوستي په غلیمي کښې پرَدِي لا ښه دِي تر خپلو
خپل که ښه ښه شه که بد شه دَ زړه رنځ دِ شي تر تلو
پرَدِي ستا په کرم ښاد دِي په حذر دِي له ښکنځلو
چه په ما باندِي بې خپل کا حاجت نشته دَ وَيلو

پښتانه واړه بد خوي دِي کور به کور کاندِي غورزي
يَو چه سر کاندِي په پورته بل ئې ووهي مغزي
دَ مغل دَ سترگو ته يې اې خوشحاله نن اغزي
راشه فکر کړه دَ وخته يَو ځاي ونيسه رغزي
که دِ دا فکر ونکړ دروِمه دَرَغي لغزي

ته لا ښه پرې خبر نه يې زر کوځې لَرِي دا ښهر
که په هَرَه کوځه گرزې په کښې دروِمې پهر پهر
لا به هم پرې خبر نشې بې رهبرَ تله دِي زهر
که د ما په نغوته دروِمې لويه لار نيسه دَ ښهر
درويشان لکه ماران دِي هم مهره لَري هم زهر
په آزار ئې راضي مشه چه اخته نشې په قهر

مياشت دومړۍ خور ده چه داخل شوم په ميدان
کال څه وُ هفغ[۱] وُ بيا تحويل دَ سرطان
هسي شان ساړه وَ لکه نرم زمستان
سرې اوربشي لَو وې غنم ډاډه[۲] تنکي شان

چه دَ پلار دَ مرگ مي تېر شو پوره قرن دَ صفري په مياشت ومړه د ما مور
پوره زر آتيه کلونه دَ هجرت وُ چه دَ مور پخوا مي ومړ مشر کور
چه د مور تر مرگ مي ومړه وړاندي وروستو يَوَه لور دَ شاه بانو وه پسې خور

---

۱. ۱۰۸۵.
۲. يعني نينه.

خداي دِ باغ دَ جنت ځاي کاندِي دَ واړو        چه به باغ دَ دنيا نه وه ويني نور

په جهان کښې څو سړی دي        څلور قسمه دي پيدا
زده ئې زده ئې چه مه زده وې        دا فرق دي مقتدا
زده ئې نزده چه ئې نزده        خبر دار کړه دَ ايذا
زده نزده مي موږه نزده        دَ تعليمه دي پيدا
زده نزده جه زده مه        تر شيطان بتر دي دا

حمزه خان دَ رستم باد دي        چه پڅو رنگه پېرې کا
کله هسي خوږ را پاڅي        چه مشکي کوڅې ډېرې کا
کله هسي را پيدا شي        چه عالم ورته ښېرې کا
آخر باد دَئ پدا څه شِي        که په گرد ږيري سپېرې کا

کلمې دَ سړی خوږ شي        هم ئې نه پريوزي خړ
شوده دِ ځښې دِ مېږي        چه په نس کښې دِ شي اړ
دارو دَ سنا بويه        يا دِ وِي دَ حنظل جړ
که ژر دارُو ونه کا        دَ مور رنگ به ئې شِي ژېړ
اړ چه لرغوني شي        پرېکَوِي دَ کلمې سر

لگړ دَ ښاروينو په سيل گړ شو        له هيبته ئې درست سړل شو تار پتار
ټپوس له بله لوريه را پيدا شو        په يَوه باندِي ده هم وکړ گذار
خوشحال خټک حيران شو ورته پاتو        چه ئې وليده دا هسي رنگه کار
په ځنگ کښې يَو هوښيار سړی وَلاړوُ        دا خبره ورته وکړه غه هوښيار
چه هيڅ ورته حيران مشه خوشحاله
تل په مات لښکر سوپري کاندِي گذار

دَ تيراه په ملک کښې نشته        دَ اذان الله اکبر
دَ خپل غين منت را باندِي        چه مي ويښ کاندِي سحر

چه بهرام ځني پيدا شو ما وې عينِ مي دئ کافر
هونبره ډېر کافر هم ندي په تيراه کښ شه پچر

دَ دنيا دَ دولت وېش دَ چا پلاس دئ چه ئې ورکا په اړاو وګيدي خر ته
که د ما پلاس و دست دَ دولت وېش وي ما به ورکړې يَو چونګ خاوري بې هنر ته

هر فن کښ چه مي غواړې هغه زه يم قرينه مي به بيا را نشي په قرنه
په دا هونبره ډېر هنره لکه زه يم يَو هنر ئې فلک ور نکړ پسرنه

ناديده ګواهي مله هم له حقه نه وېزار يم
حلال نه دئ زه ئې خورمه دَ فتنو ئې مينه دار يم
دا څلور کارُونه کړمه خداي دِ نکا چه بدکار يم
که په ما باندي څه وايې زه هم تا وَته تيار يم

چه وزېرِي له تا نه بيائې تاته درځِي عيب له ځانه د پيدا شِي په ګندګي کُښي حيات
دخل دَ ساعت په طبيعت دئ دَ سړَيو چه بد زېږي له نيکه له نيکذاته نه بد ذات
که نه دئ که څلور دئ کار ئې چا ته ښکاره نشو سر درګُم درياب دئ دا آباد و امهات
قدرت دَ هغه خداي دئ چه قادر برکمال دئ خاموش اوسه خوشحاله تر دا دم مه وهه زيات

که دِ توان رسي خوشحاله تقوی مه پرېږده له لاسه
او که نه په فتویٰ کار کړه مخ له شرعي مه جار باسه
که دا دواړه توکه نه وِي سکه بتر يې ترکناسه

که بادشاه له تخته پريوزي ګدائِي واخلي په لاس
که دَ خداي سَرَه اشنا وِي زړه به نه کا کوز و پاس
تر غنا نه فقر ښه دَي نه ئې غم نه ئې هراس
دَ ژوندُون اساس په باد دئ څه ژوندُون څه ئې اساس
که ژوندُون دَئ هم هغه دئ چه ئې نه وِي هيڅ وسواس

ما په عمر مدح نه دَه دَ چا کړې
چه دَ مدح ځښتن يَو نه وُ پيدا
په غندل مي پوست دَ ډېرُو دَي وکښلي
چه دَ هجو لايق ډېروو هويدا
په صفت مي دَ هغو کړه ږيره سپينه
چه ئې زه وم په سپين مخ باندي شيدا

خدايه مه وي هسي ذکر
جه ئې خلق سر هوا کا
دروېشان د "لا" په توره
همېش لو دَ ماسوا کا
ديو دَ "لا" توره وکښلې
پوو دَ غېلو يا دَ غوا کا

عمر ډېر وُ عقل لږ وُ
عمر لږ شو عقل ډېر شو
يَو ژوندون وُ پجهان کښ
پدا شان سَرَه تېر بېر شو
دَ ځوانۍ ساعت خوشحاله
خوب وُ وليده شو تېر شو

زه چه زوړ يم حال مي دا دئ
دَ ځوانانو به څه حال وي
درسته شپه دَ غين له لاسه
درازي په ما محال وي
ورَځ او شپه مي دا فکرونه
که واده مي کال په کال وي
تر اويا کالونو تېر شوم
واويلا مي ښه جمال وي

راشه هونبره جور ظلم شتم مکړه
دَ دردمنو آه سرد دَ خداي بلا دئ
ځوک چه درد رَسَوِي چا ته دردور درومي
چا ته مه رسوه درد دَ خداي بلا دئ
چه انصاف عدل تميز ور څخه نه وي
رنګ ئې ورک شه هغه مرد دَ خداي بلا دي

عيسٰی يَو نادان هوښيار نکړ په عمر
په اعجاز ئې که ړانده بينا کوَل
ځوک چه خداي په ازل نه وِي بينا کړي
کار دَ چا دي دَ نادان دانا کوَل
چه نادان په سبق زده کا حال ئې څه وِي
په خضاب سَرَه زاړه برنا کول

مار په مثل دَي دَ ښځې
دی په سوړه کښ بهتر
چه له سوړي نه بيرون شِي
خلاص به نه وِي له خطر
چه له سترګو ښځه وَوزِي
نور پرې وار شي دَ ذکر

دَ نوروز په دولسم    میاشت صفر کال دَ غفظ[۱] ؤ
غله ګرانه کښت زبون شو    په عالم نازل سخط ؤ
لوي باران وشو په خلق    دَ وګړي وار غلط ؤ

هیڅ ناکس به په تعلیم سَرَه کس نشِي    دا خبره دَ دانا شوه را په یاده
سر اغزي به نور څه نشي سر اغزي دئ    که په باغ کښ ئې پیوند کړې له فرصاده
اُوم دېوال به په کهګل سَرَه پوخ نکړې    که هر څو باندِې هنر کوې استاده
دَ نادان دَ غلطۍِ عیب کوم دئ    غلطي خو دَ هوښیار بده بلا ده
لا دَ حرف دَ عبارت غلطي پرېږده    رسوائي په زېر او زور کښ دَ ملا ده
چه حاذق طبیب په چار کښ تېر او بېر شي    پښیماني دَ زړه اندوه ئې پدا لا دَه

ما تازه ګلونه ولیده په باغ کښ    همګي به رنګ و بوي سَرَه زېبا
ما وې تاسي غُندي هسي ښه ګلونه    له د یو هسي تورو خاورُو نه پیدا
وئې هر چه خپسر خاوري کا خوشحاله    مرتبه به بهَ بیا مومي تر دا

که همه عالم پعقل زیست روزګار کړي    هیڅ بدي فتنې به نه وي پدا میان کښ
حماقت جهل ګنده خویونه بد دئ    شور غوغا بلا پیدا کا پجهان کښ
واړه نفس دَئ چه په موږ کا فسادونه    ګڼه کومه ګمراهي دَه په شیطان کښ

چه سړی لَره ور درومي عیب عار    په هیڅ رنګ دِ سړي نکا هغه چار
چه سړی له عیبه ځان ساتِي که ښه کا    لا دِ وِي دَ دین پکار کښ استوار
دَ دنیا چاري فاني دِي باقي نه دِي    همېشه به تل باقي وِي دَ دین کار

بې دَ خولې دَ کلمې تفاوت کوم دئ    پدا دوَر په هندو په مسلمان کښ
سل دانې تسبیح په لاس زر ګناهونه    دَ هغو به څه ښادي وِي په ایمان کښ
په توبه په استغفار په پنځه وخته    ورځ او شپه دَ معصیت فکر پځان کښ

۱. ۱۰۸۹.

په باین کښ زیست روزگار شي    اوس خو پاتو یو طلاق دَئ
کجي ښه دَه پحال پوه شوم    نور د ما لتا فراق دَئ
و هغه ته ورکړه کونه    چه دَي تل د تا مشتاق دئ

نن دا پند پخاطر راغَي زه ئې وایم    څوک که پند څما مني که نه مني
دَکم ذات پآشنایۍ کښ سود نشته    په درُمي کښ کله خوند وِي دَگني
دَ ټوپک گوله پخوله خوړلې ښه دَه    نه چه وخوري څوک نمرۍ دَ دَنِي
بېوفا سړی بتر تر کوټه سپي دئ    چه ژغرۍ کا دَ روغ دَ لېوني

دَ آسمان په کجرَوي    چار په ما وه دلنشینه
غر فرهاد په تېشه غوځ کړ    خسرو بیا مونده شیرینه
یَو لاشه خوري دَ مچۍ    بل خواږه له انگبینه

یَو دولت ته رسېدل دي    بَل دولت تر سرَوَل دي
دَ نادان سرَه گډوډ شي    دواړه توکه دَ عاقل دي
بخت خو آس وَ سړی ورکا    گران دَ آس تېڅل ساتل دي

په ذره کښ روغ رنځور يي    په لحظه کښ ښاد غمجن
بځن ستا په کبر خیال شه    پدا هونبره بادي من
درست غفلت خودستايۍ    لاف و شاف دَ دروغجن

بهرام ښځه دئ بدرنگه    رنگارنگ زېور پرې پوري
که زېور ور ځني واخلې    نور به نه پېږي په توري
که احمق پدولت ښه شي    که ترې ولاړ شي خود به گوري

څوک چه سپینه ږیره رنگ کا    بیا ځواني غواړي په زوره
پمثال کښ غلکي سپی دئ    په گټوه وربوز توره
که قوت دَ مرد پځاي وي    سپینه ږیره څه پیغوره

دَ دې دَور شیخان ډېر دِي لور پلور　　اورنگزیب بادشاه دَ واړو دَي انځور
په هغه چاړه قلم ساز کا قرآن کښي　　په هغه چاړه ښهرگ پریکا دَ ورور
په رکوع کښ تسبیحات دَ پلار دَ مرگ کا　　په سجود کښ زوري ځبله مشره خور

خدایه واخلې هسي ذکر　　آلوده پهډېر غفلت
خداي دَ ځان دَپاره بولي　　په عالم کاندِي منت
په اللّٰه اللّٰه وَیَلو　　تاخت تاراج کا درست محلت

کلیه دمنه چه لولي　　دانایان گڼي ځپل ځان
که پدا کښ څه فایده وِي　　بند به نه وُ شاهجهان
چه آسمان فتنې برپا کا　　هورته څه کا دانایان

منجم که درته نحسه آدینه کا　　یا طبیب و تا ته بدِي کا شکرِي
په جمه به و نمانحه وَته ونَوزې　　لکه شکرُو به هم گرزې لیري لیري
په قرآن کښ چه شراب دِي منع شوي　　ته ئې ولي لکه پیِ دَ مور نغرې

دَ مغل په طباخ ډېر یوسف مندړ دئ　　لکه وړي مچ ډېرېږي درنگ تردرنگ
که کعبه که ئې قبله ده خو تڼگه ده　　په پیسه پسي به درومي تر فرسنگ
که پیسه دَ ملنگۍ په لباس مومي　　مصلې به دَ گیدړ کا پسي لنگ

چه ښه وخوري بیا ښه کښېني　　ښه خوب وکړي په پالنگ
که په اصل نامرد نه وي　　تل به لوند لري خپل لنگ
که دِ دا صحت نصیب شِي　　دَ طبیب مه گوره رنگ

کافري لکه بیزو دئ　　دا مثل دئ دیرینه
چه جفتي شي له ناجنسه　　ضائع کېږي قرینه
چه اولاد له بیزو وشِي　　نیم آدم نیم بوزینه

چه نظر مي دَ دنيا په روزګار وکړ　　بل خصلت مي ښه و نه ليده تر جوده
ورپسې مي ښه وَيَل دَ عقل خوبښ شوه　　دا هغه واړه بې ځايه دِي بې سوده
جود هغه دَي چه اسراف ور سَرَه نه وي　　ښه ويَل هغه چه نه وِي بې مقصوده

چه اُوبه په ځاي حصار شِي نو رخسا شِي　　صفائي ئې هم په دا دَه چه بهېږي
کاڼي زر که سَرَه وګورې يکرنګ دي　　فرق ئې دا دَي چه په زرُو زړه رغېږي
هغه زر تر کاڼي لوټي لاٰ بتر دي　　چه ئې ومندي په مزکه نه خرڅېږي

آل اولاد چه دَ آدم دئ　　ښه ئې خوي دَي ښه ئې روي
هندکي آل اولاد دَکوم دئ　　چه نه روي لرِي نه خوي
خو دَ طمعِ يا دَ ډار دئ　　دَ وفا ئې نشته بوي

دَ دې دَور روش دا شو　　چه په مړه پسي ټاپ نشي
نه خوېښي شته نه خپلوي شته　　په خپل سود دَ هر چا زړه شي
نه حيا شته نه وفا شته　　ټاپ په چا پسي په څه شي

که اوبه سړي په تنده په خواړه څښي　　دَ باړې اُوبه خو نر ناحقه وڅښي
پسته وني پلو سين باړه ما تري　　دَ تيراه دَ پاره غاښي ماښي ومښي
يَو جوزا دويم خرچنګ مزري بل وړي　　پکښې هوښره مدت تېر کړي نور ترې تښي

خداي مم ذات سړی دَ علم څښتن مکړه　　دَکم ذات دَ علم چار هسي ليده شي
چه کم ذات ته څوک ښَيَنه کا دَ علم　　په خمتا باندِي دَ زرو کښيده شِي

مَشکي چه لَږ سوري شي　　وار په وار کا اوبه توئي
په کور کښې فتنه لږه　　را پيدا کا فتنې لوئي

چه بل څراغ سړی په ساهه سَرَه وژني　　دَګداي دَکچکول ټوک خوري لږ بسيار
يو اودس په چار چوبي کښې څوک چه کاندي　　درې څلور کارونه منعه دِي په شمار

نمر را وخېژي سبا بېگاه پرېوزي
چا لوئي خوبي تر سَرَه نه ده وړې
چه کمال لري زوال ور لرَه تل دي
اوږمکه کله پوره کله نیمگړې

یا یاري له هیچا مکړه
یا چه یار شې دَ چا ته
ښه خو ښه دي که یار بد کا
هم ئې ونیسه په ښه

که په مال دَ مالدار زړه نه دئ تړلي
په دا خه که کوټه کوټه سَرَه پرېوزي
تر ببړیِ لاندِي نه دي اوبه بدي
بدي دا که دَ ببړیَ په منځ کښې کښېوزي

که ملحد سړی مالدار شي
مال به خرڅ کا په فساد
مسلمان څخه مال ښه دئ
چه ئې مال شِي دَ دین زاد

که عزیز دئ که ذلیل دئ
په خپل خوي کښې دئ مدار
په خپل خوي دَ باز قیمت دئ
په خپل خوي دئ ټپوس خوار
یَو په لاس دَ بادشاه ناست دئ
دویم گرزي خوار بېکار

که دَ سر مي دستار نشته
که دَ آس مي نشته زین
هونبره مال هونبره مي زویه
دا په چا باندِي نفرین

برائي په ما آواز وشو له غیبه
چه ډېر مشه په فکرونو ممتحن
چه دَ دوست سره دِ دوست دَئ هغه دوست دئ
چه دَ دوست سَرَه دښمن هغه دښمن

سړی پېري که کل توري نېزې شي
که همه واړه جهان شي د یو و دد
چه تا نه وِي دَ چا سَرَه بد کړي
لتا به هم څوک نه وکاندِي بد

رسم دَ دوستیَ شرط دَ یاریَ
ندَي دا چه ته مي عیب راته هنر کړې
شرط دَ یارې دا دَي که څه عیب مي ووینې
ته به راته وواېې په غه عیب مي خبر کړې

رښتیا کړه له هیچا نه مه ویرېږه    رښتیا سړی له هرې بلا خلاص کا
شب گرد دَي چه ئې ډار شي له عسسه    خونیان دِي چه به ویره دَ قصاص کا

اې چه دَ سرو بخملو په نهالیو پروت ئې    دَ ښو زربفتو په بالښتونه
پاڅه له خوبه ویښ شه سر پسجود کړه    که دا راحت غواړې په بهښتونه

که ښه دِئ خو هغه مرغونه ښه دئ    چه نه ئې رنگ شته نه آواز شته نه مړانه
په بلا که گرفتار دئ خو هم هغه دئ    چه هنر ئې پاڅېده له خپله ځانه

چه زور لَرِي دَ لېچو    زور دِ نکا په ناتوانو
اوکه نه تر هر چا لوي دئ    سیال نه دئ دَ ضعیفانو

مېلمانه وته یا شا کړه    یا ئې ښه وکړه خدمت
یا په تورو ورتله مکړه    یا ښکاره کړه شجاعت

سر مي خوړ شِي له کمینه    مه کمین وَي مه ئې مینه
دَ د مړیِ ورکوَل کا    دَ مهرانو منت بړدینه
مگر سگ وِي سړی نه وِي    چه به دا منت څوک وړینه
دَ مرادانو روش ندَي    چه خپل ور کړه یادَوِینه

چه سبا سبا اُوبه څښي دَ انارو    زه حیران یم چه هغه سړی په څه مرِي
که له مرگه چاره نشته و به مرینه    باور وکړه پزحمت خو به و نه مري

ژبه بند کړه له گفتاره    لاس خوندِي کړه له آزاره
نور غم نشته نه اندوه شته    فراغت گرزه بې ډاره

چه تور مښک را پاتو نشول    سپین گوهر نشول را پاتې
نور به هیڅ نشي را پاتو    کیسیَ نشته کمي زیاتې

هسي خوي مکړه خوشحاله　　چه خپل هم لتا وېزار شي
ولې هسي سلوک نکړې　　چه پرَدِي دِ خدمتگار شي

هم دا ژبه دَه چه غم دَه　　هم دا ژبه ده ښادي
که څوک خپله ژبه ښه کا　　نور ئې هیڅ نشته بدي

چه څه غم شدت را رسي　　همگي شامت د ما دئ
چه څه عیش فرحت مومم　　واړه فضل و کرم ستا دئ

پخپل زړه که سازېدي د هر چا کار　　هیڅ حاجت نه وُ په منځ دَ کردگار
په زمان په سړی هسي چار شي پیښه　　چه دَ چا په فکر نه وِي هغه چار

که کیدلي پخپل زړه دَ هر جا کار　　سکه حاجت نه وُ په منځ دَ کردکار
چه رضا دَ کردگار وِي هغه کېږي　　دَ سړي فکر تدبیر گنه بېکار

هیڅ زار دِ ځني نه کا　　چه له غیره څوک آزار شي
دا هم دَ میني کار دئ　　چه له یاره نه ډېر زار شي
واړه سپي خوړوني بد دي　　چه دِ وَخوري څه بدکار شي
چه خپل سپی دِ سپینه پرېکا　　هغه لَا یو کوټ کوپار شي

چه په هو په نه پوهېږي　　پوره مرد گڼه هغه
هو دِ هو وِي نه دِ نه وِي　　یاره نه وِي هو دِ نه

خواست په هیڅ توکي ښه نه دئ　　چه ئې زوي کاندِي له پلاره
چه په خواست سَرَه څه مومي　　تر دا بخره نشته خواره

ته په کوم توکي دماغ کړې　　خپسر وگوره چه څه یې
چه ئې حیض وبول بولې　　هغه وینه زَوَه ته یې

چه هاتيان ساتي پيدا کا لويه خونه　　چه هاتيان پرې نَنَوزِي هسي ور
گيدړ هر چرته خپل وخت ساعت بدل کا　　لوي ځنګل بويه مزري لره يا غر
لوي نهنګ لَره عمان و قلزم بويه　　په بېله کښې ئې تمام شِي اوبه خور
هر مهتر چه حاجت مند شي دَ کهتر　　که باور کړې دغه مرګ دَي د مهتر
که حاجت ئې پوره نشِي ورته شا کا　　دغه کار ګڼه تر مرګه لا بتر

دَ احمق سړی زړه نه دئ په کوګل کښې　　زړه ئې ځاي لري په ژبه کښې تر تلو
چه ئې څه په زړه کښې ور شي يا څه واروي　　خپل پردي وته نور سر شي په ويلو

بادامي دي را آلوزي　　په هر لوري دَ بديو
چه پخپلو زړه ښه نه شو　　ښه به نشي په پرديو
خپل پردي واړه وهلي　　که ياران وي د غديو

اصيل توب په نور څه ندئ　　اصيل توب دئ په خويونه
په مريونو کښې اصيل شته　　په اصيلو کښې مريونه

دَ فرعون دَ جادو ماران باطل وُ　　دَ موسیٰ دَ معجزې دَ مار دَ وړاندِي
عاقبت به فضيحت او شرمنده شِي　　دورغجن چه له رښتينو حجت کاَندي

له هيڅا نه طمع مکړه که هوښيار يې　　چه طامع سړی تر هر چا پوري خوار دي
طمع درې حرفه لَرِي واړه بې ټکيه　　هر يَو حرف ئې غړوَندي وته تيار دئ

دَ بخيل سړی کار بد دَي په دوه رنګه　　که په زړه کښې فکر وکاندي يارانو
په هغه جهان حساب دَ تونګرانو　　او په دا جهان معاش دَ نادارانو

عاقلان به په وَيَل کښې　　زړه رهبر لَري دَ ژبي
اول فکر دَ زړه وکا　　بيا کيسې کا عجائبي

دَ هوښیارو ژبه پټه وِي په زړه کښ
راز به نه وائي آشنا وَ نا آشنا ته
لېږ او ډېر وَیَل به نکاندي بې ځایه
هیڅ باطل وَیَل به نه وایيِ و چا ته

دَ هندکي په زړه کښ مکر حرکت
لکه پیاز پکښ دَ پیاز گنده نگهت
لکه خوند دَ هریړې په هریړه کښ
هسي کار دئ دَ افغان دَ جهالت
که هر څو پکښ دَ نیکو بوي پیدا شِي
له مغلو نه به لاړ نشِي ظلمت

چه لښکري یگانه نه وِي پجنگ کښ
هغه کس به و دښمن ته وِي مقهور
چه لښکر ئې یگانه وِي غم دِ نکا
په غلیم باندي به دَي وي تل منصور

و ناپوهه ته ډاډ ډېر ورکړه په غم کښ
عاقلان پخپله پوهه مردانه وي
و هلک چه دلاسا ورکړې قرار شِي
بیا ئې بل زمان ژړا په بهانه وي

غم ئې هیڅ مکړه خوشحاله
که هر څو په گناه ډَک یې
آدم یې نفس در پوري
نه چه پاک پیدا ملک یې

چه دَ چا سَرَه فلک په کمي پاڅي
واړه چار په لاس واخلي بې تدبیره
دَ ترږِۍ چه دَ خوارۍ ساعت راشِي
د هلکو په پړکه کښېني په ځیره

گهړیالي دَ شپې له حاله خبر نه دئ
چه گهړیال وهي بې وخته بې هنگامه
د خوشحال د سترگو کړه د شپې پوښتنه
چه بې خوبه پرې ېرېږي شپه تمامه

که شیخان که زاهدان دي
توري خاوري ئې په سر
که قدم کښېږدِي بې شرع
په خلاف دَ پیغمبر

هر نعمت دَ خداي له لوریه
په سړیو عنایت دئ
تندرستان دِ شکر کاندِي
تندرستي یو لوي نعمت دئ

که شیخان که عالمان دئ          واړه ښه راته ښکاره دئ
په هر څه کښ عشقبازي کا          عاشقان ګرېوان پاره دئ

دوه ښادئ د جهان دي          یا ښه زویه یا یاران
چه دا دوه ښادئ نه وي          څه نر ښځه څه آسمان

هغه یار چه بېوفا وي رنګ ئې ورک شه          تر یارئ نه ئې ښه دَه نه یاري
سپې چه ځان سَرَه آشنا کړې لتا نه ځي          بېوفا په لږ ماڼه کا وېزاري

که هر څو چه مړَني وي          چه وسله نه لَري مرد
دَ ښځو سَرَه ناست وي          نداره کا دَ نبرد

عاقلان چه دَ دنیا خصلت ويني          دَ دنیا دولت و دُوي ته لکه باد شي
دا دنیا لکه زندان ورته ښکارېږي          په واته له دې زندانه پزړه ښاد شي

دَ بهرام په لښکر مه ځه          په ورتلو کښ درنګ نکا
خو چه څخو تور برېښ وشي          نور دَ تېښتي نه ننګ نکا
مګر هورته ئې برَی وي          چه څوک هیچېري جنګ نکا

هسي غله راګډ شول پدا دور آخرین کښ          چه فیل له انبالئ پُټَوي پخپل آستین کښ
زر داني تسبیح لَرِي شملې دَ وروستو پرېږدي          لوي کتاب په لاس کښ بل سیال نه ګڼي په دین کښ

دَ پردې په پرېکونه          دَ پردې شِي پټېدنه
یا ځما تبر پخ نه وُ          یا خو سخته نه وه ونه
هسي رنګ په ونه ولاړ شو          چه ئې نه وه کشرېدنه
دا چیستان عجب چیستان دئ          که ئې حل کړې عقل منه

په جهان کښ ګرزېدلم          په طلب دَ یوه یار
ښه چه رنځ مي ضایع نشو          په لاس راغي ښه نګار

دَ مزري غُندي ځان ژغوره    مه شرزه شه سرغنده
مزري ځان په وقار ژغوري    شرزه تېښت ته پړنده

ملک په مثل لکه غوا دئ    چه ټندان ور باندي جنګ کا
هر یو ټند چه زورور شي    ټند غیمه هغه تر ښنګ کا

تر دیوال دننه ښځې وي    چه په کور کښې لکه خم شي
چه بیروني تر دیوال شي    ښځه نورزن دَ مردم شي
اول ښځې له پسه ندي    خو د رنګ دَ واړو ګم شي
دا حدیث دَ پیغمبر دئ    لکه کَر هشي دروه شي
ښوک چه بد ندي پخپله    هیڅ بدي به پرې و نه شي

که په ملک ځېري پیدا شي هنرور    دَ هغه په کمي سر شي بې هنر
که دَ تخت دَ پاسه کښېني بادشاهي کا    آخر بیا دَ بې هنر خاوري په سر

دَ خوشحال دیوان دوکان دَ جوهري دئ    پکښې واړه لعل و دُر یاقوت الماس دئ
دَ جوهر و قدر چا زده جوهري زده    نه هغه چه مرغچیچي ئې په لاس دئ

اور خو هونبره چه دَ چا په زیست روزګار شي    چه په هر لوري لمبې شي خیر کوم دي
دَ خانانو زویه وروڼه واړه اور دي    ښو دَ اور لمبې ډېرېږي کار معلوم دي

چه غرېږي له بلا نه    له بلا نه امن مومي
هغه سړي داړه شي    چه په پړانګ باندي ور دروي

دَ سړي چه قضا نه وي    دَ غلیم په زهرُو نه مري
چه قضا دَ سړي راشي    دَ طبیب په دارُو ومري

دَ ځوانمردئ روِش در وښیَم    که ته ځوانمرد یې پرې به عمل کړې
چه دِ کف دِئ هغه به کف دئ    چه یَو سر بل سر شو څه پسي زغل کړې

دَ غفا[1] په بوګه پرېوتې په غرونه     تر کابلَه تر اټکه شپيني واوري
شکر ژر به درست جهان سَرَه ګلزار شي     دا بد کال په سر خو بيا شوې توري خاوري

څو ژوندي په جهان ګرزِي     خوري خوړل کا دَ چپړو
دَ مزري د ستور دا ندَي     چه جوته خوري دَګيدړو

که دعا ده که توبه ده که دارُو     و خوشحال خټک ته خداي ورکړه شفا
پدوه کاله دَ اسهال په رنځ اخته وُ     ترې خلاصي په ذوالحجه وه دَ غفا[2]

په جهان کښ دِي دوه توکه     ښه آواز دويم ښه مخ
چه لري دا دواړه توکه     دَ هغو کسانو سخ

که ته هر څو کينه کښ يې     دَ غليم وهې ورمېږ
و ګردش وَته ئې پرېږده     سره ګوره لېوه مېږ

لکه زلفي دَ دلبري پيچ در پيچ دي     په صفت ئې زه هم هسي پيچ در پيچ يم
نه پخوا دَ پښتو شعر وُ نه اوس شته     په دا کار کښ خو يو زه لغت په هيڅ يم

که يار غواړې خوشحاله     چه درست سر تر پايه ښه وي
ورځه بې ياره ګرزه     سکه دا هسي يار نه نه وي

په وريځي مي کار نشته     که آسمان وريځ وريځ شي
له باران سَرَه مي کار دئ     که په شپه شي که په ورَځ شي

دَ صحرا ښه دي دوه توکه     يو ژورَه دويم لوَړَه
په لوړه کښته ننداره کړه     په ژوره کښ ئې رغړه

۱. يعني دَ ۱۰۸۱ کال د دلو په مياشت.
۲. ۱۰۸۱.

په سپین مخ باندِي تور خال | آرایش دَئ دَ جمال
په تور مخ باندِي چه خال وي | هغه نلَرِي هیڅ حال
دَ ښه مخ تر سیري څه دي | لکه تندرَه دَ هلال

چه په حکم دَ حکیم کاندِي انکار | تر هغه نه به بل نه وِي ناپکار
دَ نادان دَ هوښیار فرق وي پدوه رنگه | چه نادان به محتاج نه وِي دَ هوښیار
دَ هوښیار څخه که ډېره هوښیاري وي | بیا به دَي دَ نصیحت وِي طلبگار

خسا جوتہ مردار هڅُونه | سپی گیدړ شرمښ کفتار خوري
دَ مزریو هنر دا دَي | چه یا صبر یا خپل ښکار خوري

چه ئې واخلې ورته کښېنې | درته گوري ورته گورې
دا لذت په جنت نشته | چه هم ښوري هم پر ښورې

اوس دوه څېزه لتا غواړي | یو ساتنه دویم سپور
چه دا دواړه توکه نه وي | نه په غره شه نه په کور

ځوانه ښځه لکه باد دَ نو بهار ده | دَ بهار په باد دَنه زړه خوښېږي
زړه ښځه په مثال دَ مني وخت ده | چه علت او رنځوري ترې حصلېږِي

رنځوران مري په درې رنگه | ځني وَمرِي بې طبیبه
څوک ناقص طبیبان وژني | دَ چا مرگ وِي له نصیبه

نه پینډِي برکت شته دَ هندکیو | به دَ توري برکت دَ ایرانیو
دواړه توکه مسلم دِي که ئې گورې | پدا ملک کښ په افغان په تورانېو

خداي دِ سترگي دَ بدخواه سرِي ړندې کا | ستا گلونه به اغزي ور څرگندېږِي
که په باغ کښ دِ یَو گل وِي زر خارونه | دَ نیکخواه به دِ په گل سترگي لگېږي

چه لباس کا چه تقلید کا چه ټېټیال — را ښکاره شو وار په وار دَ هر چا حال
که شیخان که عالمان که زاهدان دئ — له هیچا نه زړه روغ ندَي دَ خوشحال

لافي دَ هنر کړه — چه تر هر څه ښه هنر
څو وايې له زور — کاڼه مه وهه په سر

هغه يَو چه مړنتوب کا — دغه دوه دِي دَ ده ملي
يَو حيران دَي پتورتم کښ — باندِي تل وهي حملې

چه ئې ووینی په سترګو — دَ خوړوني حرص زیات شِي
چه ووَته له خوني — نور دَ ښځي اودس مات شي

ښځه چه زړه شوه — ور پلا کړه نور څمڅه
وایه چه دا ته یې — دا نغري دَي دا اوګره

صغیره کبیره هر ګناه چه وشي — هر ګناه لره راځِي به کار توبه
هم توبه له بدُو کړم هم ګناه کړم — له دې هسي شانَ توبه هزار توبه

یو حریص بل دروغجن دئ — هم احمق هم ترسنده
دا څلور کسَ سړي دي — دَ یارۍ پکار ګنده
که یاري ور سرَه وکړي — زر به تا کا شرمنده

دَ دې زمانې زویه — چه بې بدو نور څه نکا
که ئې وګورې له پلاره — دَ مور غوګټي که څه کا

يَو باز چه ښه آلوزي — نه ګنده بازونه لس
یو باز چه ښاه آلوزي — هم هغه در لره بس

په قلم مي رضا نده چه خبربړِي　　دَ رازمنو به رازونه روبرو شي
په زړه هونبره پرتې ندِي چه ئې شمار شته　　اوس ئې بيا ورته سپړنه موبمو شي

چه اصيل سړی کم ذاته ښځه کاندِي　　به مثال سَرَه گڼېږي غوړي تيل
بل د ليل به تر دا بِه در لَره راوړم　　دَ سرو زور سره ويلي سر ويل

هيڅ باور پرې نشته　　ترين واړه منافق دئ
دَ پښو شپينو تورو　　واړه تور او سپين لايق دئ

چه پرې رايشي حيران شِي　　داروگر دارُو دَ چا کا
دَ دې کلي رسم دا دئ　　روغ رنځور واړه زگېروا کا

چه ئې ټوله کا پکور کښې　　پرېشاني به ئې هغه وِي
عاقلانو نه کړه جمعَ　　پرېشاني به ئې په څه وِي

بنگ شراب درباندِي ځکه ناروا شول　　چه په بدو چارو نشې مبتلا
نه بنگ خورې نه شراب څښې بې مستۍ　　آلوده يې په هزار اَلاَ بلا

دويم دَ محرم ورَځ دَ شنبه کال د غفج[1]　　نه غشي وُ نه توري چه مغلو وکړ بج
شنواريو آفريديو دَ ډکې خوارو مهمندو　　روپي ئې په خرواريو وړې مهران واړه په حج

آفريديو شنواريو زړه په اُلجه ښه کړ　　ايمل خان مهمند په ننگ په اُلجه دواړه
دَ خوشحال خټک په خبره خو يَو ننگ دئ　　تر نظر پوري ئې هيڅ دَه دنيا واړه

ما له عقل له تميزه　　ښه بد بيا موندل دوه څيزه
ښه تر ورکړو نور څه نشته　　بد تر غوښتو اې عزيزه

---

١. ١٠٨٣.

واړه سرچټان دِي که واړه دي که غټان دي
کوم دئ چه اقرار دئ چه دَ ماشنو بې تروې دئ
ځان په ځان وېزار دئ يا لېوان دئ يا کفتار دئ

شرم ننگ ئې نشته دَ لوړ دِي دَ وندري
څوک به هسي وايي چه وَيل مي خاوري سري
لويه چار ئې ززده دَ اړخۍ دئ دَ ژوري

لنډ ورمېږ اوږدي پنډي
نور به څه گورم وَ تا ته

لويه خوړنده لکۍَ
دَ بازونو لانکي ته يې

چه ئې سر تر پايه درست په غم کښې لېو کړم
دَ هجران ورځي چه کښې پشمار عمر

راته وائِي اوس خوشحال اوسه څه غم کړې
دَ قضا کاتبه عدل که ستم کړې

ابدال پدا څلور خويه ابدال دئ
کم ناستي کا په خوارک کا کمه مينه

کم ويل کا کم دَ چا سَرَه گډُون
پدا شان ئې په عالم کښې وي ژوندون

هر څوک هسي وائِي
کار دَ هغه ښه شِي

چه که ښه وي ځما کار
چه خپل بخت ور سَرَه يار

نيت دَ هر چا سَرَه ښه لَره خوشحاله
شمشير خان ترين چه تا سَرَه بدي کړه

دَ خپل نيت نتيجه رسَي و هر چا ته
خپل نيت وَ جوړېده دَه ته ستا وَ تا ته

حلاوت دَي دَ جهان په ښو سړيو
ښه کچړي لره غوړي پاکيزه بويه

حلاوت دَ جهان واخلي بد سړي
دَ کچړي لذت گنده کا بد غوړي

دَ بدانو سَرَه کم کښېنه که ښه کړې
راشه نمر وَته نظر وکړه چه نمر مي

دَ بدانو صحبت پاک سړي پليد کا
په څو يو ذره ئې ابر ناپديد کا

مېږي لا په بلا ياد دِي
هنج خو هنج دئ مښک به نشي
خر به نَرَسي تر آسه

چه ور پوري شي وزر
که څوک سل وايي که زر
که هر څو درومي ژر ژر

شیطان لکه مچان دئ | چه ناستي په چرکین ځاي کا
په پاکانو ئې کار نشته | حفظ ئې تل کرم دَ خداي کا

که بد خوي له مځکي ولاړ شي و آسمان ته | په آسمان ئې دَ فرښتو سرَه روزګار کا
نه به ځنډ نه به لارغه وِي چه بد خوي ئې | هورې هم په سل غمونو ګرفتار کا

که دَ نظم که دَ نثر که دَ خط دي | په پښتو ژبه مي حق دئ بېحسانه
نه پخوا په کښ کتاب وُ نه ئې خط وُ | دا دَي ما په کښ تصنیف کړل څو کتابه

که هر څو دَ صفت دئ | که مخ ښه لري ګلشن
دَ مور تر کُس دِ تېر شي | یار چه نه وِي مهرجن

که ته په ګور دَ مهرویو راشې | بیځي ئې واخلې دَ لحدونو
نور څه به نه مومې دَ دوي پګور کښ | بې تورُو خاوره سپینو هډونه

سپی چه ورډي وِي ډېر بد وِي | شو کوي واړه مرداره
څو چه موړ وِي هونبره ښه وي | بله نه کا بده غاړه

دَ مجلس ښایست په څه وي | په نغمه او په شراب
له شرابو مي تونه ده | زه ماهي یَم نغمه آب

چېري نه وِي چه دلګیر شې وار خطا کړې | که په تا باندې محنت دَ سفر ډېر شي
که سفر دَ ډېرو کالو وِي غم مکړه | دَ سفر عمر کوتاه دَي زر به تېر شي

چه وبرېښي سپینکیَ | د لنډ پریو[1] شورهار شي
یَو یَو مرد بویه خوشحاله | چه پځاي باندي قرار شي

---

۱. یعني غشي.

چه بږغ شي فلانه ومړ　　خلق ژاړي زه خندا کړم
ډېر غم مي دَ ځان وکړ　　څه به اوس اندوه دَ چا کړم

هغه کار چه غره توب وي　　ته ئغ درست پرېږده له لاسه
په خپل ځان غلطي مه کړه　　نور به هم وِي ستا دَ پاسه

خپل کار وَسپاره و خداي ته　　نور خوشحال کښېنه خوشحاله
دَ هغو چه وکيل خداي شو　　لاړل خلاص شول له جهانه

دوه کاره دي په سوات کښې که خفي دي که جلي　　مخزن دَ درويزه دئ يا دفتر دَ شيخ ملي
دواړه نشته په سوات کښې څوک چه وائِي يا علي　　الصَّا لحوُنَ لِلّٰه و الطَّالحوُنَ لِي

چه و هر سړي ته وگورې نظر کړې　　چه تر واړو پښتنو ئې دي ډېر کلي
درې څلور تکبيره وَوايه ترې تېر شه　　دَ مرده وو هديرې دئ دَ سوات کلي

کله مار وکا حمله په سمساره　　ترې پيدا شي مار بخړي په انځاره[1]
ولي نه ئې مار مهري وِي نه ئې زهر　　نه ئې توان دَ نمر دَ باد نه دواوره
چه دَ پلار نښان ئې نه وي زوي دِ څه وي　　لکه مار په سمساره جوهر سپاره
عشقه ته يې که څه نور عيب و علت دي　　چه په مرد کړې رڼا ورځ توره تياره
لکه مار په زور په هر څه باندي سپور شي　　دَ خوشحال غُندي هم شته ځني سواره

# مسدس

مکړه روخ دِ ندَي دَ غمزې په تېغ خونونه　　خون دَ عاشقانو خون بها لَرِي لکونه
ته چه را ښکاره شې په وربل يښې گلونه　　تر ناحقه لافي دَ ښايست کا نوري جونه
ته چه په گلرنگو جامو درسته شې گلگونه
سرې لمبې کړې بلي دَ حيران عاشق پخونه

---

۱. يعني انځور او نقش.

خوله دِ غنچه گل دَه تیاربږي شګفتن ته      تور بانه نېزې لرې دَ زړونو و سفتن ته
مه پرېږده زلفیني په عذارو آسشفتن ته      ورځ دَ عاشقانو نژدې کېږي و خفتن ته
ته چه پَلَو واخلې دَ جمال و نهفتن ته
ولي هسي کار کړې چه بې اوره سېځې زړونه

سترګي دِ دَ باز دي و خپل ښکار ورَته نیولي      شونډې دِ مهرې دي و بېمار وَته نیولي
زلفي دِ زندیِ ګرفتار وَته نیولي      زنه دِ منه دَه وَ خپل یار وته نیولې
سپینې لېچي توري و ګذار وَته نیولي
سرَه دِ دَ عاشق په وینو لاس تر مړوندونه

هیڅ ګناه مي نشته وېره وکړه له آزاره      واچوَه له مخه بیا پَلَو دَ خداي دَپاره
برنده راته کښېنه چه دِ ښه کړمه ننداره      ته څه هسي نه یې چه جفا کوې له یاره
واړه غمازان دي چه بلا ئې کړه دوښاره
مه لیدي په سترګو دَ غمازو تور مخونه

ورځي دِ محراب دي دَ عاشق وره سجود دئ      مخ دِ سپین کاغذ دَي دَ خط کښلي پر درود دئ
خال دِ چه دَ وروځیو په پیوند باندي نمود دئ      واړه دَ آهونو په لوګیو تور کبود دئ
درست دِ سر تر پایه ننداره سره وجود دئ
ونه دَ جائفلو واړه ګنج وړي وېخونه

ناز دِ عاشق کُش ؤ اوس دِ خال باندي ثاني شو      رنګ دِ وداني کا خوي دِ خیر په ویراني شو
تا ګیسو پرېشان کړ درست جهان په پرېشاني شو      تا چه مخ ښکاره کړ درست جهان په حیراني شو
خلق ځان ځاني شو دَ خپل ځان په آساني شو
څوک دَي چه به آخلي دَ خوشحال خټک غمونه

# ترکیب بند

دل آرامه که د ما دَ درد دوا کا[۱] سکه اول د هم دَ مهر دارُو را کا
دَ دلدارو هوا دار له درد او دوکه د ما دم دَ آهِ سر د سَرَه وا وا کا
دَ وصال سودا سودا دَ سرو مال ده هر گدا کله دا سودا و دا سودا کا
دَ آدم دَ آل اولاد سره گُل مکر که دَ دَور رسم دا وُ اوس هم دا کا
درومه درومه گله مکَوه له دَوره کله کله دَور هم مراد ادا کا
دا مهر و ملو که وگوره له اصله
کله دې و مرد مراد ورکړه له اصله

دل آزاري که دِ څه له ربَّ ډار دئ زړونه مه آزارَوه روي دَ دا دار دئ
ته چه ژاړې په زار زار ژړا دِ آرومه دا دِ واړه درد و دوک زړه دِ آزار دئ
دواړه وروځي دِ دلداري پڅه راز دئ چه دِ زار پزړه دارو شه دَ زړه زار دئ
چه اول دِ دَ زړه داغ وته آرزو وه اوس ور درومه زړه د ښه شه چه داغدار دئ
دَ زړه درد که په زاري په زور او زر وي اي دَ زړه له درده روغه پدا ډار دئ
چه دَ زړه له درده روغ دَي په زړه روغ
دا چه ژاړي ژړا ښه دَه په دروغ

تا چه کړې له هر چا سَرَه ياري ده[۲] ښکاره کړې دِ له ياره طراري ده
ته چه ځان کښې دلداره اې دلداره کله چا لتا ليدلې دلداري ده
ستا دَ قهر طاقت هيڅ را څخه نشته راشه قهر له زړه ليري کړه زاري ده
دا چه کله عاشق خاندي کله ژاړي دا ئې تللې له خاطره قراري ده
که دَ سر ښندنه گرانه تر هر څه ده چه له ياره سر ساته شي اغياري ده
ته چه سر ساتې له ياره اغياري کړې
شيرين ځان تر آشنا ځار کړه که ياري کړې

---

۱. په دې بند کښې صنعت دَ لزوم غير منقوط مراعات شوي دئ.

۲. په دې بند کښې صنعت دَ طباق او تقابل راوړي شوي دئ.

زه زائر یم ځانه ستا تر تَله تَله[۱]
تر تا ځار شم ځانَ ډېر ښه یې تر بله

چه د غم په گزه دِ زه زهیر شهید یم
تل تل خانده تَل تَل خانده ته قاتله

چه تل تل په قهقه خاندې زهېرېږم
څو نا نرخه تویوې دَ خوږ وتله

یو په شله ښایسته دَ جونو خانه
تا به ستا یم تا نه ستا یم یو په شله

ته جانا ترَ تازه تر نسترنه
زه زهیر خسته جلیا یم تر بلبله

تر بلبلي جلیا زه زهیر خسته یم
چه بلبلي به غوغا زه فم بسته یم

نن ئې لوئي څڼې کج کړِ څو څو خمه[۲]
لوئي څڼې ئې خم خم تر قامت سمه

عاشق کله یَو ساعت بې جانا پائي
کجَ لوکه ماهي هم پايي بې یمه

مخ په مخ شه ما ته خانده چه خاطر مي
هوسي شِي په خوښي شي بې غمه

څو خوبۍ لري گل بري قد عرعري
په ښه مخ لکه لاله یې لا بر نمه

گل و مل چه مخ په مخ شي پرِحوښي شي
طوطا کله گویایي کا بې موسمه

گل خوښي شي په موسم گل نرگس
څو لاله بالا لولو کا غالم کس

# ترجیع بند

ستا له لوریه که هزار څور و جفا وي
له عاشقه به سل رنگه وفا وي

په عاشق باندي معشوقه عنایت کا
ستا مدام پخپل عاشق باندي عنا وي

ښه ما ومنل چه ته بېحد زېبا یې
په جهان به کم څوک تا غندي زېبا وي

ولي خداي چه ښه جمال و چا ته ورکا
نه په دا چه دَي بې مهره کبریا وي

که قضا په ما زړه سوي کا هم به ومرم
که یو څو ورَځي دِ جنگ و فتنې دا وي

که تل ما سره غوغا جنگ و جدل کړې
خداي دِ نکا چه لتا به تله ځما وي

ستا دَ در په خاورو پروت بېقدره ښه یم
په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه یم

---

۱. په دې بند کښې صنعت دَ رقطا سته یعني یَو حرف ټکي لري بل ئې نه لري.
۲. په دې بند کښې صنعت دَ لزوم دَ دوه حرفي سته دوه حرفي ئې سَرَه نښتي دي.

هونبره ډېره بدي مکوَه بد مَوړه    هونبره ډېره جفا ښه نده بد مَوړه
کوم ملا درته ښَيلي دا سبق دئ    چه بدي کوَه له يار سَرَه بد موړه
چه مي زړه ساتي هغه ته به زړه ورکړم    تا دَ زړه ساتَنه هيڅ نزده بد موړه
خو فتنې او خرخښې دِ وي په ملک کښ؟    که بې دا دِ هم څه نور څه شته بد موړه
دَ عاشق سَرَه تل جور هم ښه نه دئ    کله کله څه خو مهر کړه بد موړه
له هزار ځله فتنې او خرخښې کړې    زه به چرته ځمه ستا له وره بد موړه
ستا دَ در په خاورو پروت بېقدره ښه يم
په بل لوري که په تخت کښينم ښه نه يم

په چشمانو دِ مېَن يم راته گوره    دَ زلفينو دِ هندو يم مه مي پلوره
پدا شکل شمائل چه لکه ته يې    لا عجب که څوک زوولي وي له موره
په ښايست کښ دِ مخي دَ ښائست نشته    حيف خو دا دي چه بې مهره يې هر گوره
چه زه ستا له دوکه مرم راته دِ شا کړه    مگر مينه دِ دَ زړه شوه له ما توره
ستا له درده له درباره به لاړ نشم    که هر څو مي په جفا سيځې بې اوره
که هزار جور و جفا کړې گمان مکړه    چه له تا مي به دَ زړه مينه شي نوره
ستا دَ در په خاورو پروت بېقدره ښه يم
په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه يم

که په ما باندِي څوک زړه سېځي ښائنه    که په حال مي رحم کاندِي ځاي لرينه
کله څوک له خپله ياره هسي کار کا    چه هلک ئې له مرغیٔ سَرَه کوينه
ته ئې ولي له ازاره نه وېرېږې    مبتلا خاطر مي ستا له غمه مرينه
خبر دار دِ په جفا په جور نه يم    درست صورت مي آغشته شو ستا په مينه
په جفا په جور دِ هسي رنگ عادت دئ    چه خاطر مي ستا بې جوره نه پاينه
چه دِ زړه هسي جفا جور په ما کړه    اوس ځما ده ستا دَ ور خښته بالينه
ستا دَ در په خاورو پروت بېقدره ښه يم
په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه يم

زه چه تل ژړا زاري کوَم و تا ته    ته هم کله کله غټ گوره و ما ته
دا همه واړه ځما دَ بخت اثر دئ    گنه تا کله ترخه ويل و چا ته

چه به حسن په جمال تر نورو زیات وي　　په هغه باندِي دَ زړه مینه ویي زیاته
که جفا کړي که ستم کړي که عتاب کړي　　هر څه ستا په ما خواږه دي تر نباته
زه چه مرم څه به بل سره جفا کړي　　جګي جګي لا ژوندَی یم ستا جفا ته
ستا په کوي کښې لکه پروت یم پروت به اوسم　　عهد قول مه هم دا دئ تر مماته
ستا دَ در په خاورو پروت بېقدره ښه یم
په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه یم

ته هم څخو فهم کړه څما له آهه　　هسي جور په ما مکړه بې ګناهه
یکباره په خپل ښایست غلطي مکړه　　که په حسن کښې تېري لرې تر ماهه
که پتا باندِي زه نه وَي مېَن شوي　　خلقه به په تا هم نه وه آګاهه
چه مجنون باندي مېَن شو نوم ئې وشو　　ګڼه څه وه لیلې توره خانه سیاهه
محبت مي دم په دم په تا زیاتېږي　　په دا حال مي دا ده زیړه ګونه ګواهه
په دربار دِ دروېزګر دَ دیدن پروت یم　　یَو قدم به دِ وانخلم له درګاهه
ستا دَ در په خاورو پروت بېقدره ښه یم
په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه یم

دَ رقیب په وَیَل مه وژنه ما یاره　　دَ یاریِ حق پتا ګڼم بېشماره
که مي وژنې بل ګناه په ما ثابت کړه　　چه را ښه دَ رقیب زړه نشِي یکباره
که زه ستا له لاسه ومرم بختور یم　　خو وینا دَه دَ رقیب په ما دشواره
ستا دَ مخ محبت هسي په ما ډېر دئ　　لکه مینه دَ بلبل په ګل بسیاره
تل جفا دَ ښایسته وُ سرَه مل وِي　　په جهان کښې به هیڅ ګل نه وي بې خاره
که ته هر څو جفاکار او دل آزار یې　　زه خوشحال به دِ لاړ نه شم له درباره
ستا دَ در په خاورو پروت بېقدره ښه یم
په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه یم

# مخمس

گوره موږ به خه شو هيڅ خبر نه يُو له حاله　ورَځ او شپه چه درومي خالي نه يُو له جنجاله
موږ به په مرگ ومرُو که مو عمر شي زرکاله　گور لَره به ورشو ډک لړلي له وباله
بله تکيه نشته خو هم ستا ده ذوالجلاله

شِي دَ مرگ له لاسه پهر لوري طوفانونه　درومي په ساعت کښې دا کالونو سامانونه
پاتې شِي پزړه کښې په زرگونو ارمانونه　کانې يُو که څه يُو بلا سخت لره ځانونه
حال مي بدل نشي نه څه کم له خپله خياله

کله خيال دَ پولو دَ پټيو دَ باغونو　کله خيال دَ دښتو د لگړيو دَ راغونو
کله خيال دَ زرو دَ گوهرو دَ لالونو　کله خيال دَ عيش دَ عشرت دَ اياغونو
کهله خيال دَ کښليو دَ جمال له خط و خاله

لږ خيالونه نه دِي که ئې وايم پزرگونه　هر زمان را زېږي واړه ستا له اندرونه
ورځ او شپه پرې درومي دَ خيالونو کاروانونه　هم په بيدارۍ هم پشپه وينې خوابونه
ستا ده دَ زړه مېنه په خيالونو مالا ماله

کله کوز په مزکه کله پاس په آسمان شې　کله گدائي کړې کله ځان لَره سلطان شې
کله شيخي واخلې په حلقه دَ درويشان شې　کله دانشمند ملا دانا دَ درست جهان شې
سر شې په وَيَلو په څو رنگه قيل و قاله

څو رنگه ستاينَه دَ خپل علم کړې آغازه　هم له خپله علمه هم له زهده له نمازه
ته که غليواز يې خپسر واړه کړې تر بازه　نوري بازۍ څه دِي بازي خداي سَرَه انبازه
شرم حيا نه کړې نه صادم شې له افعاله

مار وِي هغه علم چه په تن دَ چا لگېږي　يار وي هغه علم چه وَ زړه وته رسېږي
درست تحصيل حاصل کړه چه خصلت دِ نه بدلېږي　خرې کتابونه په تا لښلي روانېږي
هيڅ دئ هغه علم چه خالي دئ له اعماله

کله درويشان دِي چه دَ خداي پنامه غواړي　در پدر جاروزي لکه خرونه هسي ناړي
هيڅ پوښتنه نکا چه څه مومي واړه نغاړي　کور ته چه څه يوسي پخندا خندا وَوياړي
تش خالي چه ورشي خوب ئې نه کېږي پساله

ښه سړی هغه دئ چه ځان کم گڼي تر بله　مکر دروغ نکا پرښتيا کښې وي هر کله
چار چه باندي ورشي بله لا ښه کا تر خپله　شکر په نعمت کا په بلا صبر تر بله
زړه ئې خالي نه وي همېشه له اشتغاله

عقل اسماني دَي ته ئې غواړه په مزکه　　ځاي دَ گومي راغي په حکيم په پنډت ځکه
خپله پوهه واړه شعريعت ورته کړه ورَکه　　سپک به شي بې شکه څوک چه شرعَ گوري سپکه
لار دَ شريعت دَه بې آفته بې زواله

څو رنگه عالم دئ خوښ خورم پخپل روزگار کښ　　هر چا ته چه گورم واړه ښخ دِي پخپل کار کښ
واړه خپل مراد غواړي په صبر پتلوار کښ　　سود گورِي مقصود گورِي په هَرَه هَرَه چار کښ
واړه خپل قسمت خوري دَ دنيا له ملک و ماله

ولي کناس نه دئ چه مالک دَ زرو پول شي　　کبر لوئي واخلي عجب خيال باندِي نزول شي
دئ که نا قبول دئ په هر چا باندي قبول شي　　کله ئې نظر دَ چا په فرع په اصول شي
څه به درته وايم زه دَ زرو له احواله

خداي ږوکه خبر وم چه دا هسي بلا دئ　　اوس چه پرې خبر شوم راته بد تر اول لا دئ
ځکه راته بد شول چه دَ هر سفله تر ملا وي　　مخ دَ هغو تور شه چه په زرو مبتلا وي
نام لره په کار دي که نه کم دِي تر سفاله

پاک دِي که ناپاک دِي دَ خپل ځان ثنا صفت کا　　خوښ له خپله ځانه پخپل کار کښ فراغت کا
هيڅوک محتاج ندي چه به غوږ په نصيحت کا　　خپل غرض ته گوري کار د زړه په مصلحت کا
ولي فضولي کړې دم پخود اوسه خوشحاله

# ترکيب بند ذوالقافيتين[1]

څه دَ بدو خوب وُ چه مي وليده سحر　　سترگي مه رُنې کړې ناقرار شوم په بستر
پاڅيدم له کټه لکه خوږ شي دَ چا سر　　هسي شان او تروَم نه مي لير[2] ليده نه ور
ولاړم تر مبرزه هسي راغلمه اوتر　　غسل مي په ځاي کړ په سنت دَ پيغمبرﷺ
درست خلق اوده وه واړه خوب کاوه خرخر　　هيڅوک خبر نه وُ اشرفخان مي کړ خبر
هر چه نصيحت وُ لکه بويه دَ پدر　　ما په کتابت ورته ادا کړ مختصر
جوړ شوم پيښور ته چه را درومي خيست جمدر　　ونږل سرو نازه به دوه ځله مکرر
ورَځ وه دَ جمعې رجال الغيب وه برابر　　تله مغرب رويه وُ پدا ما نکړ نظر

---

۱. دا ترکيب بند حبس نامه ده، خان د خپل حبس تفصيل ټوله پکښ کړې دي.
۲. لار.

څوک به وجار باسي مبرم حکم دَ داور | ډېر دِ فراست لري هنر گنج و لښکر
ولاړم تر مسجده نمونځ مي وکړ پگه تر | سپور شوم به سیلیٰ نور مي واچوَوه په لیر
هسي په هوا تلم لکه باد درومي صرصر | گنبي تنها تله په نور ښهر وخوت نمر
نه وُ لا دوپهر چه مي ځاي شو پېښور | واستاوه مغل ته ما هغه ساعت نفر
ویمي دایم راغلمِ ستا پخط ستا پخاطر | کوم ساعت حاضر شم پما کومه لرې چر
دا ځواب ئې راغَي چه راتله دِ وُ بهتر | کانده په دېوان دِ را ښکاره کړه خپل پیکر
درې ورځي شوې تېري دېوان نکړ گیدي خر | دئ په څو و ماته زه له ځانه بېخبر
شیخ دَگجرات دَ ده پېشدست وُ یو بشر | سر تر پایه واړه په دیدن کریه نظر
ده وې تر ما راشه چه کنگاش کړو مقرر | بیا به دِ نواب ته وَیل کړو زیر و زبر
ورغلم تر ده پوري زه پاک پخپل باور | ترونه مي نا اهل مغلي شوي پدا شر
لور په لور مغل تر ما چاپېر شو په هنر | مفت ئې په لاس کښېوتم پحکم دَ قدر
ږغ وشو په شهر دا خبر شو منتشر | هیچا نه پسندل پخداي پسنده وه مگر

کوز ئې کړم له کوټه چه ئې کښېوتم په حال
ژر ئې را په پښو کړې پنج سیریٰ بېړیٰ کوټوال

خپور شو په ملکونو دا خبر په درست دیار | درست عالم دلگیر شو لا ښتون یار وا اغیار
هر چه اُمرگان وه په صوبه کښې منصبدار | کل عالم حیران شو چه ئې ولیده دا کار
ولاړل په سبا دَوخته ټول شول پدربار | وئې وې دا هسي رنگ نېکخواه دَ شهریار
دا رنگه نیوه شي نواب ښه گڼي دا چار | چپه خوله شو پاتو هیځ ئې ونکړ گفتار
پاڅیدل له ځایه امرگان شول تار پتار | درې ورځي شوې تیري ځما ترونه ناپکار
ورغلل مغل لَرَه قبول ئې کړ مدار | آس او خلعتونه مغل ورکړه په اقرار
ملک ئې ځما ورکړل نالایق ئې کړل سردار | کور او خېلخانه اولس همه شو خبر دار
درست ختېک دَ دیوو کشتن ته شو تیار | ورح دَ دیو والووت په بلا شو گرفتار
ما و خېلخانې و قام ته ووې چه زنهار | مرگ کشتن نه بویه نه څه نور شر و اشرار
یو به دښمن ښاد شي چه ئې ورک کړ خپل تبار | بل به فساد کړ شي دَ بادشاه درومي اعتبار
دوي او درست اولس به زیارت د شیخ رحمکار | ټول شول له دې کار بقریب شول توبه گار
زویه مي نادان وُ په خطا ولاړل بسیار | مرگ کشتن که نه وي ددې مه پرېښوي وقار
دوي پزړه کښې دا وې چه که سل کړو که هزار | هر کله چه خلاص شي فلانه موږ یو پدار
بل فکر ئې نه وُ ور پیدا شو دَ ځان ډار | مرگ وته مي کښېناسته په لیل و په نهار
تېري شوې په بند کښې ځما دوه میاشتي پشمار | ملک واړه ویران شو خلقه شوه په کهسار

وغوښتې پنځوس زره روپۍ صوبدار	ما وې دربه نکړم یو پوچک نه یو دینار
دواړه لوریه وکړه سَرَه دا قول اقرار	یو مغل بې پته بل مي ترونه شرمسار
اوس خو بایده دا دئ چه ئې ځاي وي هندوبار	ژر ئې فکر بویه په تعجیل او په تلوار
زه په دا لا خوښ وم چه که ورشم تر دربار	دَ عمر دولتخواه وم دَ عزت وم طمع دار

هند ته ئې روان کړم بدرقه مي مستجاب
هم ملک هم خان هم د همه غوري ارباب

زه ئې کړم له ښهره په شتاب شتاب روان	راغلم نرم نرم په رباط دَ شابیگ خان
درسته شپه څوکۍ دَ محب خېلو پخپل ځان	بل وُ مصریخان د اووزیو ټول احدیان[1]
راغلم تر نو ښهره په سبا هم پدا شان	خلق په ژړا په ننداره راته حیران
څه به دَ نو ښهر دَ شپې زه کوَم بیان	درسته شپه زلزل وُ په هندو په مسلمان
صبح ئې کوچ وکړ پښتانه مغل لرزان	لور پلُور پوَزونه وُ ځما ټوله تر میان
ما وُ پیغام کړَي په اولس په اشرفخان	نه بویه دَ جنگ دَ خرخښې فکر سامان
موږه دَ بادشاه یُو قدیمي دولتخواهان	یَو مي نام بدېږي بل ستېږي افغانان
راغلمه تر سرایه سراي یکلخته وُ ویران	تا به وې هرگز نه وو میشته دا ځاي انسان
څه به درته وایم څه پېرې لرې آسمان	څوک ورته توارنېږي چه شدت کانِدي عیان
ډېرې گراني راشِي په سړیو په جهان	خداي و سړي ورکا بیا دَ هري چاري توان
گران ساعت هغه وُ چه مي ولیده عثمان	بیا راغي زینو دَ خېلخانې یَو څو ځوانان
راغله په ارمان ځله جدا شو په ارمان	زه او دوي دَ سراي حجر شجر واړه گریان
راغلو په نړې نندارځي مردان زنان	هسي رنگه ولاړ وُ لکه بې روحه بتان
راغلو په گرمي دَ خیر آباد پېچان پېچان	پوري که راپوري خلق واړه نندارچیان
هر چه را سَرَه وُ هغه واړه وُ ترسان	چا وې چه خټک به حاضر نشي په میدان
ما خو پیغام کړي وُ هم دا مي وُ گمان	اوس به را څرگند شي له یوه لوریه میدان
هسي جنگ به وشي پدا آخرالزمان	گوره څو به شمار شي دواړه لوریه کشتگان
جنگ جدل ونشو حکم دا وُ دَ یزدان	پوري شوم ترسنده په اټک شوم نگران
درست اولس مي واړه په غوغا حیران پرېشان	ویر مي په کورونو په هاي هاي مي فرزندان

راغي په خټکو باندِي هسي یَو ساعت
تا به وې نازل شو په جهان کښ قیامت

---

۱. دا کلمه عیناً ولیکه سوه، حل غواړي.

زه ئې له اټکه نه روان کړم په دا حال — ور ئې وړم په پړه په بابا حسن ابدال
بیا له هغه ځایه په پنډۍ په استجال — بیا له هغه ځایه تر رباطه وشو چال
راغَي په رباط کښې له نوابه یَو مثال — بیا ئې بیارته یووړم تر پنډې دم درحال
راغي په پنډې کښې یو خط پدا منوال — وانې ئې په وړاندې و دربار ته بې اهمال
ولاړم له پنډۍ شپه تر منځ دَ ککړتال — ولاړم تر لاهوره کوچ په کوچ پارتحال
زویه سعادت باقي میرباز پرېشان احوال — راغله په لاهور کښې را پسې دوي په دنبال
وړاندي تر ما ولاړل و دربار ته په ارغال — و ئې کړه بخښني ته له دیه حاله قیل و قال
زوي دَ میر جمله دَ میر بخښني په استقلال — ډېر مهر ئې وکړ دلاسا جوال جوال
وې ئې چه را وَرَسې دربار وَته خوشحال — نور به سر افراز شي غم ئې نشته یَو مثقال
زه هم په وسط دَ رمضان کوچمال کوچمال — وَرَغلم دربار ته زر څلور اویه[1] وُکال
ډېر رد و بدل شو پدا منځ کښې ځواب سوال — حکم دَ خلاصې دَ ضمان وشو په اجمال
ځاي په حویلي کښې تر خپل خنگ راکړ کوټوال — جوړ شو ضماني ته سید شمس دَ جلال
موږ پدا فکرت وُ چه پمیاشتي دَ شوال — راغي عرضداشت دَ سید میر پدا مقال
مه پرېږده خوشحال دَ ده پرېښول دي اختلال — بیا په منځ کښې پریووت دَ خلاصې ډېر جنجال
ملک منصب جاگیر ځما تغیر شو مال محال — دولس منصبدار مي تاپیني شول پایمال
نر ناحق په کښل دَ بدو ویل دَ بد سگال — وپسنده ظالم بادشاه پما ناندي اشکال
زه دلې په بند هورې ځما اهل عیال — تار پتار په غرونو په عذاب او په وبال
هسي چاري وشوې چه د چا نه وې پخیال — نشته دَ اورنگ بادشاه په عدل اعتدال
لور په لور خپرې شوې را لښکري دَ دجال — نشته یَو مهدي چه را ښکاره کا خپل جمال

دَور دَ اخر دئ سان گڼ شو لور به لور
یَو تر بل اخته شو جهان واړه کور په کور

خداي را باندې راووست دا همه واړه محنت — څو چاري سبب شوې درته وایم حکایت
یَو چه زه مغرور وم په راستۍ په خدمت — بل دَ مغل طمعَ ځما نه ورکړل عادت
بل مي ناشکرۍ بل دَ ورونږو حماقت — بل چه فرزندانو مي خطا کړ مصلحت
یو ځله هم نه خطا خطا کرت کرت — واړو مشرانو اشرفخان بهرام سعادت
و مي کړ اشرف وته دَ توري اشارت — هیڅ عمل ئې نه وکړ ځما په نصیحت
څه خدایار خلیل څه ئې حیا څه ئې حرمت — څه جگړام هندو څه دَ هندوانو برکت

---

۱. ۱۰۷۴.

یَو یَو ځوان پوهېږي دَ غلیم په حرکت
زهر کله‌وَل شِي دَ شکرو په شربت

زویه هغه زویه چه هنر لري حکمت
پوه وِي دَ دښمنو په فریب په خدیعت

ونیسي په لاس کښې سخاوت و شجاعت
نه صرفه پځان نه په جهان اعلي همت

دریغه اشرفخانه دستیاري هونبره قوت
درست اولس په لاس کښې هیڅ درونه شو جرأت

ورغلل مغل ته دَ اشرف وُ قباحت
هم ځما آفت وُ هم هر چا لَره آفت

ځو چه ملک ویران وُ دَ مغل وُ ډېر هیبت
وشوه وداني دَ ملک پوره ئې شو حاجت

وئې کښل بادشاه ته دَ جگرام مجرا عزت
بوت ئې و کابل ته اشرفخان په شرارت

باڅېده بهرام ته پدا منځ کښې یو غیرت
درست اولس ئې ټول کړ په نرۍ راوخت

تشي سر هوا غوټې دَ باز نه وي خصلت
باز نه وُ بازرنگ وُ چه ښکاره ئې شو حالت

زه وم په دهلي کښې گرفتار پدا زحمت
تېري شوې په بند کښې پنځه میاشتي زیادت

بیا دَ میر جمله زویه بادشاه نه په خلوت
عرض ئې ځما وکړ دَ میر خان په کفالت

دا ووې بادشاه فلانه به خلاص کړم سلامت
زن بچه که راولي و هند ته په سرعت

حکم ئې دا وکړ امیر خان ته وشول کښل
زه په بند بندي ځما کورُونه راوستل

واروېده دا حکم سعادت باقي میرباز
راغله یکا یک ئې حقیقت کړ را آغاز

میاشت وه دَ صفري چه درې واړه لکه باز
وئې کړ وطن ته په رخصت ځما پرواز

ولاړل تر وطنه په شل ورځي یکه تاز
یو پځاي را نغيَ چه د موږو سره راز

غرب وته قبله وه و مشرق وَته نماز
تله وه کربلا ته دَ حج لوري و حجاز

څه به درته وایم له دې حاله دورو دراز
کوټې کوټې حال دئ مختصر بویه ایجاز

واړه لوي هلک چه مي ساتلي وُ پناز
واړه په نعمت کښې پرورده ملوک شیراز

تار پتار خواره شول مبتلا په ډېر نیاز
دَور دَ گردون کړل دَ بلا سَرَه انبار

هره ورځ فلک لري تازه تازه طراز
هیڅ باور ئې نشته په نواخت او په نواز

وَ ولي پزمکه یو ساعت کښې سرفراز
پروت پتورو خاورو پزمان کاندي ممتاز

ډُوب کا په دریاب کښې چه محکم لري جهاز
وباسِي له مینځه چه ئې نزده وي شناز

څه کړم چا ته آه کړم هیڅوک نلَرم دمساز
چا وته ناره کړم څوک مي نه اروي آواز

درومم په بل لوري په فلک راشم باز باز
نه وَي دا فلک مه ئې دا هسي امتیاز

اهل په خوارۍِ کښې نا اهل په اعزاز
ځیري خت مېرمني خدمتگاري په پېشواز

هر چه ابلهان دي روغني خوري دَ خباز
هر چه دانایان دِي نان خورش نلري پیاز

نشته د رښتینو کره یو کُهنه پلاز
سره تېغر په کور کښې دروغژن لري غماز

نور مرغونه گرځي په باغونو په طناز — بندي دي هم هغه چه يا ئې رنگ نشته يا آواز
آس واړه شاخوړي په نشيب او په فراز — خر وهي خرتيزې په آخور کښ په رباز
څو به درته وايم حقيقت دي که مجاز — بس کړه دا خبره مختصره هم ايجاز

څه کړم نه پوهېږم دا فلک سفله پرور
لاس رسيدې دريغه چه پر سوړ کړلې ټټر

دوه ځله سراي مات شو يو ځما په بنديدل — بل د سعادت باقي ميرباز په رسيدل
يو ځله په ماتې تر هنگاله وَرَغلل — بل د اکوزيو په سيکري ننه وتل
نه ئې توره سره وه نه د سرو ماتيدل — زويه مې له ملکه له اَوَله وُوَتل
زه په هندکې بند وم اشرف خان وو په کابل — واړه زن بچه مې په سيکري کښ داغيدل
راغلل و بادشاه ته د کابل د صوبې کښل — ملک د سراي ويران شو پر بيحده وُشو زلزل
ځاي په ځاي فوجونه په څوکې کښيناستل — لار د سراي نيولې مسافر ئې چلول
جوړ شول يوسفزي خټک سراي ته په وهل — څو ټټوان ئې بوتلل په سحر تر وختل
بارې څه ختل وُ نه ختل وُ نه متل — بارې څه وهل وُ نه وهل وو نه مهل
نام ناموس مې لاړ شو چه اعتبار وُ د مغل — نوم مې د بدخواه شو چه نيک خواه وُم تل تر تل
ملک ئې وو راکړې په پنجاب کښ متصل — حکم د بادشاه وو صادر شوې په پريښول
ليږ دئ که محنت دئ که کشتن دئ که شړل — واړه په قمست کښ په سړي باندې نازل
دا چارې چه وشوې بيا تر منځ شو فکر بل — څوک ئې په چا نه کا د سړي دې نصيحت خپل
زه دَ يوسفزي په ځان زهر وم قاتل — بل مقصود مې نه وُ په خدمت کښ د مغل
ډېر شاهان ځوانان مې يو د بله ووژل — تير ساعت ارمان دې پشيماني نشته حاصل
دا په خيال د چا وُ يا په فکر جار وتل — خواست رضا د خداي وه په هر شان چه شوې شول
شاباش په هغه شه چه دَ ننگ وکا پالل — راغله يوسفزي لکه پيښ شو کار مشکل
يو وو بائيزې را نړيزې ور سره مل — لوئې هلک مې واړه تر درياب پورې وتل
لاړل تر سيکري ور سره مل کورونه سل — نور خټک مې واړه په خپل ځاي ودريدل
څه بلا د خداي ده د وطن جدا کيدل — رونړه عزيزان خويشان وَ بله بيليدل

يو هې هاي هاي وُ په ژړا وُ لوي هلک
درست عالم حيران شو چه څه کار شو په خټک

خداي خو خبر دار دئ که ښکاره نه دئ په چا — بند يم خلاص دِ نشم که دروغ وايم په دا
خپل وُ که پردي وُ که اشنا که نا آشنا — چا سره مې نيت دَ بدو نه وُ د جفا
هر چه مخامخ وُم هسي شان وُم پسې شا — بل فکر مې نه وُ نه د دُوي نه دريا

هیڅکله په ظلم روادار نه وم اصلا
هر چه ظلم کار وُ له هغه مي وه بلا

هر چه رعیت وُ څه غریب وُ چه غربا
دا مي وُ په نیت کښ چه آزار نشي له ما

زرکه زرینه که مال و ملک وُ د دنیا
واړه مي پیرزو په خیلخانه وُ د آشنا

بد وم له هغو چه مبتدع وُ نا صفا
درست په زړه مین وم په فضلا په علَما

قصد مي له هغه وُ چه مفسد وو بې وفا
غم مي له هغو وُ چه غلیم وُ د بادشا

عمر مي چه تیر شو په راستي په رښتیا
نه مي وه په کار کښ د مغلو هیڅ دغا

پلار نیکه مي ځان کړ د نمک په کار فدا
بل پښتون مي نه وُ په راستي کښ همتا

زویه مي په بند شه له وطنه شوم جلا
څو چاري را وشوې نه گناه نه مي خطا

تار په تار مي لاړې خېلخانې کجا کجا
واړه په ډېر غم کښ مبتلا جدا جدا

ملک واړه برهم ودان ښهرونه پوپنا
تار په تار له ملکه درست عالم په واویلا

څو میاشتې په بند وم په دهلي کښ په عنا
اوس په رنتنبور کښ بندي پروت یم یکتنها

هیڅ د اورنگ زیب بادشاه په دا نشته پروا
خلق که دده له ظلمه کاندي تل ژړا

گوښي په ما نه ده ډېره وشوه په هر چا
شل صوبې د هند دئ په هر لوري ده غوغا

هر چه کتګان دئ په صوبه کښ کد خدا
څوک په بند بندي دي څوک لا گرځي ناوِیسا

یو په رنتنبور کښ دوه سو ناست دي مبتلا
څو گوتړونه نور دئ پکښ بند دي بې احصا

ړومبي ئې تر داړه په خپل پلار سره کړه خوا
بیا ور پسې نور وهي چه دئ اعلیٰ ادنا

رنگ د هغو ورک شه چه آوتړه وائي دروغ
نشته څوک په ملک کښ چه له ده وي په زړه روغ

ده چه له دکنه نه را هسک کړ خپل علم
ورک ئې کړ په ظلم هم په مکر ډېر عالم

وُئې کړ اول له مراد بخش سره قسم
راغې په اُجیَّن جسونت سنگهـ ئې کړ برهم

بیا په آگره راغې په دارا ئې کړ تور تم
بند ئې شاه جهان کړ تر ئې بیل کړ درسرت حشم

بیا ئې مراد بخش د شاهجهان سره کړ سم
یوړ ئې تر ملتانه په دارا پسې پرچم

بیا راغي په بیرته په شجاع ئې وروست غم
جنگ وو په کجوه کښ چه شجاع شه منهزم

بیا دارا جنگ وکړ په اجمیر کښ بیش و کم
مخ په مغرب وتښ دارا شاه برهم درهم

وُنیوه جیونړ پنړي په کور کښ په خپل چم
را ئې وست دهلي ته دده سر ئې کړ قلم

بیا سلیمان شکوه د دارا زویه مکرم
راوست راجپوتانو گرفتار شو په اَلَم

لاړ شو شاه شجاع ته مشر زوي شو د ده رم
بیا ئې ځني بیل کړ په ډیر مکر په ډیر دم

بیا په شاه شجاع پسې دلیر وُ معظم
وې یوست له بنگه گوره چرته څکوي دم

را ئې وست په خونه د خپل پلار هسې ماتم
کار ته ئې حیران شو همگي عرب عجم

دا تَردد واړه په دوه کاله بیش و کم    وشه د دهلي سلطنت پر مسلم
وشوه اوه کاله زر اویا کاله دوه کم    ده چه د دهلي په سریر کیښوده قدم
یا آزار د پلار دئ یا اثر دي د قسم    یا ئې له غروره مبدل شو خوي شیم
یو هې هې هائې هائې دي په انواع انواع ستم    څو کاله له نور وي درست عالم به کا عدم
هسي په ظاهر صورت په مکر دي محکم    وایې چه پیدا شو ثاني ابراهم اَدهم
فعل ئې چه گورې هلاکو دئ یا اظلم    چا دي اورېدلي په اولاد کښ د آدم
پلار په بند تړلې قتل کړي ذي رحم    واړه ئې د خپلي خودکامئ لا په غم
هیڅ د خوار مظلوم په حال پوښتنه نه کړم    دواړه ورته یو به تفحص کښ گرم نا گرم

دا هسي بادشاه دئ دا انصاف دا ئې تمیز
خداي به نا انصاف په جهان نه لري عزیز

واوره دا خبره درته وایم ممتحن    واړه کار په بخت دي په طالع دئ نور سخن
چیري دارا شاه چیري دده جاه و مخزن    چیري د دهلي زمزمه زغرې جوشن
چیري اورنگ زیب څه ئې پایه څه ئې دکن    څه د ده سامان څه ئې لښکر خچن مچن
راغي په آگره د ده په سر ایښې کفن    تار په تار فوجونه د دهلي برهم زدن
بخت چه چا ته مخ کا د هغه چمن چمن    گل شگفته کیږي په ښوره کښ په گلخن
بخت چه چا ته مخ یا ور دِ بند کا په آهن    گنج ورننوزي تر دیواله تر روزن
بخت چه چا ته شا کا که دانا وي د زمن    خپله دانائي ئې سرې لمبې شي د خرمن
بخت چه چا ته شا کا مرغلرۍ د عدن    نه پیري د ده د مرغچیچو په ثمن
کار دَ دې اوو په هیچا نه دي مبرهن    دولس ځایه گرځي په ځاي ئې نه لري ممکن
هر لوري ته گرځي هم پاسبان دي هم زهزن    څوک تر خوف تیر کا د چا ووهي گردن
څه به درته وایم چه ئې څو دئ مکروفن    خلاص ئې له آسیبه نه دئ هیڅ نوي اوکهن
واړه یو نفس دي نتیجه ئې ما و من    واره په ټکئي دي چه ئې وُځي له دهن
ورک شو د یزید په هغه څو کاله دیدن    باتو شه پر لعن د حسین او د حسن
تل به د اورنک نه وي دا کروفر و فن    پاتو به په ده شي تل نفرین د مرد و زن
څه شو که دولت ئې آویزاند شي په دامن    بیا کله سفله دي دا عليٰ پائي څښتن
هر چه به فطرت کښ پیدا شوي دي خیرن    پاک اوصاف به نشي که ئې تل وینځې بدن
څه شو که د باز له ځاله والوزي زغن    بیا زغن زغن دي که هر څو دې پنجه زن

هر چه پاکیزه لري خپل اصل خپل گوهر
مه کړه خداي چه راض شي پۀ آزار د خپل پدر

خداي وکړې دا چاري په ما واړه وکړې زړه — څو چاري غلط شوم چه مي لوي کړ احمق تره
بل چه د ده لور مي امرا ته کړه واده — بل چه په کور کښ څه کښ نسول سپين او سره
بل مي چه کوټ محکم بنا نه کړه په غره — بل چه مي په توره په خدمت غرور کاوه
بل چه مي مغل په ورکړ مر کړه نه غلاوه — بل چه مي په وخت دينو ملک نه ولاړه
بل چه مي قوت د يوسفزيو ورکاوه — بل مي چه په اصل غوريه خيل پښتون گاڼه
وائي چه له ځانه په اولاد وي پيرزو ښه — خداي به کا رواني په اصلي ويلو اوبه
دا يو څو خبري چه ما راوړلې په خوله — بويه چه همه واړه وکښلې شي به زړه
نرد دئ که شطرنج دئ که چوپړ دئ وايم زه — دا واړه چه ئې زده شي نو ئې لوبه شي هاله
هر چه په دا کار کښ څوک اومه دي که پاخه — وکاندي پاخه په زمان چاري په اُومه
هيڅ په خپله پوهه هنر مه شه غره ته — هر چه تر تا بهه دئ عقل زده کړه له هغه
وائي چه په پوهه بوعلي چا وُويشته — بيا په ډيري چاري خَلَقو احمق باله
هيڅ سړی هغه دئ چه به ځي په هره خوله — کار په توکل بويه نه خلقو ته کاته
يار چه هسي ښه وي چه ئې ځاي کړې په ليمه — بيا ئې ياري مه کړه هيڅ غلطيده
څه بلا ډير ښه دئ د دوو سترگو تور باڼه — سترگي د رِندې کا مشه سترگو ته کاږه
مل هغه باله شي چه تير بير نه ځي تر مله — مل د خپل مقصود دي چه ئې وړاندي وروسته
نه وي د چا تر ستوني تير چيري ترخه — بوټي د سپلمئ د گنډيري گنډي خواږه
څوک چه په لوستو لوستو ملا نه زده کا څه — څوک د مور په نس کښ زده کا وزيري هاله

دوه سو شل بيتونه دئ يولس بنده ښه
ما په رنتنبور کښ د زړه تاو پر سړاوه

# مربع

د شهي تورو سنبلو — په سپين مخ ئې تسلسلو
پر غوغا کانړئ بلبلو — تل به وخت نه وي د گلو

له ما گرځي دُوره دُوره — نظر نه کا له غروره
نور که مري په تيره توره — زه ئې مرم په تغافلو

زه هغه اخلاص لرمه — ستا په سترگو سوگند خورمه
چه مانړې کړې له ما مرمه — مخ دِ تور شي د چُغلو

راته نه خاندې غمگين شم — ستا له جوره په زړه خوږين شم
نه به باز نه به شاهين شم — نه به راشې په منگولو

خپل انداز ور لره بس دئ — خوښ په خپل هنر هر کس دئ
ځان ته گل وائي له خس دئ — هر يو ست د خپلوط ملو

که مي زړه که مي دماغ دئ — نه ئې باغ پکار نه زاغ دئ
په دا بوي مي زړه فراغ دئ — چه ئې راشي له کاکلو

هميشه ورپسې ژاړم — په موندنه به ئې وياړم
که ئې مومم زه ئې غواړم — په اوراد د څلور قلو

شکر دا چه په پرواز يم — دَ ښکارونو وته باز يم
زه خوشحال د غرونو باز يم — چه په بند وم د مغلو

# معشر

ته خپل خوب کوه بتُا — که زه درسته شپه بې تا
سترگي سرې کړم په ژړا — نارې وهم په واویلا
چه تر کاڼي سخت دي لا — هغه هسي زړه دي ستا
څو لا پایم په دنیا — که زړه سوي دِ شي پما
نور څه نه غواړم لتا
مکړه دا هونبره جفا
که تیره توره وکښلې — راشې ته قهر نیولې
رقیبانو سنده ولې — دواړه لېڅي دِ غښتلي
بیا یو څو کلې وهلې — وکشتن ته جوړیدلې
ما دِ دا جفا مَنلې — خون بها مي در بخښلې
هونبره مهر وکړه کښلي
را ښکاره کړه خپل لقا
ستا دَ مخ په ارمان مرَمه — کوک په کوک نارې وَهَمه
دا آرزو په زړه لَرمه — که تر ځایه دِ درشمه
چرته دورمم څوک پُښتمه — چه و هر لوريَ ته ځمه
په سرونو قدم ږدمه — په لار ستړلي ودَرَمه
تل په دا طلب کښ خورمه
دَ زړه ويني يک تنها
هغه ورَځ چه مین کېږِي — عاشقان تر سر تېرېږي
که عالم ورته ويېږي — نه ئې ننگ وِي نه شرمېږي
نصیحت پرې نه لگېږي — له کشتنه نه وېرېږي
پوري خلق حيرانېږِي
له هر چا وِي شا پشا
نور ئې هيخ نه وِي په دل کښ — په سکوت او په وَیَل کښ
په خوړلو په نوشل کښ — په خلوت او په محفل کښ
په میدان او په ځنگل کښ — په ليدَل او په کتل کښ

پـه فروخت پـه پېرَول کښ　　پـه ولاړ پـه پريَوتل کښ
پـه آسان او پـه مشکل کښ
دَ خپل يار لَرِي هوا
که هجران وي که وسال وي　　دواړه ده وته يَو حال وي
که هزار غرُونه جبال وِي　　ډېر سيندونه ډېر اطلال وي
تر دا منځ پرده محال وي　　ور ښکاره دَ يار جمال وي
جلوه گر ئې خط و خال وي　　خوښ خورم دَ يار پخيال وي
هم پدا ليده خوشحال وي
نه کا بله تمنا

# مسدس

محبوبا پري رخساري　　سر تر پايه قلم کاري
دوه دِ سترگي دِي کټاري　　تل پـه لاس تېرې کټاري[1]
چه ئې واړوې بيماري　　خونرېزي کاندي خونخواري

دوه دِ ورُوځي دِي مهيني　　دوه دِ زلفي عنبريني
دوه دِ شونډې شکريني　　نازنيني مه جبيني
سر و قدي تن سيميني　　جفا جوئِي دل آزاري

تور گيسو دِ مشک افشان دئ　　پـه سپين مخ دِ پرېشان دئ
تارپتار پېچان پېچان دئ　　پـه هر تار ئې اويزان دئ
که شيخان که زاهدان دئ　　پـه هر چا دِ وکړې چاري

۱. محشي حنجر ترجمه ورته کښلې ده.

ډېر پتا پسې افگار دي — په فرياد او په کوکار دي
ستا دَ وصل طلبگار دي — صبر نکا نا قرار دي
عاشقان دِ صد هزار دي — ما به چا سَرَه وشمارې

بيا دِ ولي مهر نور شو — چه نظر دِ په بل لور شو
په کوګل کښې مي بل اور شو — قراق ډېر را باندي زور شو
رود د اوښيو دي را خپور شو — زه ئې څو لرم حصاري

څخو مهر ته دلبر کړه — نه تل جور سراسر کړه
په ما خوار باندي اختر کړه — له برقع نه مخ بدر کړه
ځما اوښيو ته نظر کړه — چه په مخ ځي لاري لاري

چه مي يار گانه يار نه وُ — بيهوده مي زړه پرې ښه وُ
په خپل راي وُ پخپل زړه وُ — ځما ډېر اميد په ده وُ
دئ دَ هر غماز پخوله وُ — تل پما پسندي دشواري

چه ئې بيا ترکښ پميان کړ — چه ئې عزم دَ ميدان کړ
چه سمند ئې پجولان کړ — واړه خلق ئې حيران کړ
بډغ ئې گڼه پدرست جهان کړ — خَلقې ئې کړې همواري

آرايش دَ خط و خال کا — ستايش دَ خپل جمال کا
تل تل کبر تل تل خيال کا — تل تل پېچمي تل نا خوال کا
څو ناسازي په خوشحال کا — سل فتنې لري تيارِي

# مخمس

و عاشق ته دوه قدمه بحر و بر دئ　　نه ئې گرد په لَمنَ پروت نه دامن تر دئ
په فریاد نارې وَهې په نارو سر دئ　　چه دَ عشق په ګرانه لار کښې ډېر خطر دئ
هر قدم چه په کښې آخلي ډار دَ سر دئ

عاشقان دَ شاه دَ خولې په جامې سپیني　　قلندر دي نه لباس جامې رنګیني
اندرون مي واړه ډک شو درست په میني　　که سینه مي سَرَه چاک کړې و به وینې
چه مي ستا له غمه وینې درست جګر دئ

ښایسته چه په ښایست کښې دلنشین شي　　دَ عاشق سَرَه ډېر مهر لږ ئې کین شي
نه چه تا غندي آفت دَ دل و دین شي　　ستا دَ مهر باران نه ووري چه شین شي
ما پزړه کَرَلې ستا دَ میني کر دئ

عاشقان په عشق کښې نکا دَ سر ویره　　دَ سر ویره اندېښنه دَه مختصره
که دَ راز پیاله دِ هر څو ده تیز تره　　ستا په راز به ژبه هم نکړم خبره
تل تر ژبې رسېدلي راز سمر دئ

نتیجه ئې سوړ سوړ آه سپیني اُوبه وي　　آبله دنَنَه زړه لېمه ئې سَرَه وِي
مشقت ئې هم پېځان هم ئې پزړه وي　　زه خبر نه یم له عشقه چه عشق څه وي
هونبره آروم چه له حسنه ئې اثر دئ

عاشقان په غم خوشحال دلګیر بې غم دي　　په هوا دَ یار دَ زلفو پېچ و خم دي
فارغ شوي له وجوده له عدم دي　　چه ئې عشق تر سره کړي هغه کم دي
په دا کار کښې لاف وَهَلې یَوهَ هر دئ

دَ بلبلې خوشحالي وِي په ګلزار کښې　　دَ عاشق دَ زړه خوښي وِي پدیدار کښې
څو به عمر تېروَم په انتظار کښې　　صبر مه غواړه له ما دَ عشق پکار کښې
جو دانه صبر په ما باندِي لوي غر دئ

اول مینه دَ یوسف په زلیخا وه　　بیا له پسه دَ مجنون او دَ لیلا وه
له غه پسه دَ وامق او دَ عذرا وه　　عاشقي لا زه ته نه وُ چه پیدا وه
نه چه ما او تا ګډ کړي دا هنر دئ

که پلَو له مخه لیري محبوبا کا | بېدلان به پروا نه بخپل لقا کا
تلل له ما سَرَه فتنې جنگ و غوغا کا | خو ځما طالع ښې ندي یار جفا کا
گنې کوم يَو په وفا تر ما بهتر دئ
يَو زمان مي خالي مه اوسه له خياله | په خوله گنگ اوسه دَ عشق له قيل و قاله
په ناله دِ که بتر شِي تن تر ناله | دَ عشق غم له خلقه پټ لَره خوشحاله
څه ئې پټ کړم چه عالم ځني خبر دئ

# مخمس

تل دِ ستايي پدرست ملک کښ کښلي سل څوک | يَو به نه وِي پدا شکل و شمائل څوک
حد دَ چا دئ چه دِ پَل ږدي په بورجل څوک | که زه نه وَي تا به ځان لَره بَلَل څوک
په پالنگ به دِ دا هسِي را ختل څوک
خداي ځما پزړه کښ ځاي محبت ستا کړ | نه چه ما پخپله زړه پتا شيدا کړ
کور پکور مي دَ زړه راز ميني رسوا کړ | واړه عشق دئ چه ئې سر راته گيا کړ
گنې زه پځان مين دَ سر ښندل څوک
عاشقان په عشق کښ خوار و بېچاره شي | لور په لوري په جهان گرېوان پاره شي
آواره دَ يار د مخ په نندارې شي | چه پتنک ته ورښنائي دَ څراغ ښکاره شي
نور له څراغه دَ ده غواړي جار وَتل څوک
که په زړه کښ مي دَ ميني ذره نه وي | هونبره ستا په مهر مينه غره نه وي
لکه زر دَ اور په تاو کښ سره نه وي | بدرقه که محبت را سَرَه نه وي
يکتنها به په خونخوارُو لارُو تلل څوک
راته وائي دَ رندئ پکار کښ سست يې | دروغجن په ميخوري کښ نادرست يې
ما په سر دَ دروغجنو خاوري لوستي | دَ ديو ميو پيالې ډېرُو دِي آخيستي
ولي ما غُندي به نه وي لايعقل څوک
عاشقان د دَ چشمانو مي پرست دي | همېشه دَ بېخودئ پيالې په دست دي
په مستي کښ له بلا سَرَه پيوست دي | دَ زنخ په څاه دِ بند دَ شونډو مست دي
روغ هوښيار به په کوهي کښ پرېوتل څوک

چه نا ترسه بې پروا راغلې له ځایه　　　نوري نشته لکه ته یې خود آرایه
خود آرایه خود پسنده خود نمایه　　　ته پخپله راته وایې چه ئې وایه
گڼه زه دَ میني راز ښکاره وَیَل ځوک

دَ مجنون او دَ لیلا وَیَل یادېږي　　　ځما ستا وَیَل په هر لوري زبادېږي
همیشه مي زړه په دا وینا ښادېږي　　　ښه خو دا چه دَ چا نوم پکښ یادېږي
په فاني دنیا به نه وي ژوندي تل څوک

واړه تا زده درته نه وایم چه زده کړه　　　لون لون طور طور کرشمه کړه
دَ غمزې توره لا ښه په څرخ تېره کړه　　　ته مي وژنه دَ قصاص اندېښنه مکړه
دَ خپل خون په تور نه وَنیسم یَو بَل څوک

بې لتا به دَ نور چا هسي شمشېر وِي　　　چه ئې بې قتل وکښتنه نور څه هېر وِي
بدا کار کښ ئې نظر تر هر چا تېر وِي　　　دَ سرُونو شمار حساب بویه چه ډېر وِي
نور دِ مري پدا میدان کښ پردي خپل څوک

خلقه دِ همگي واړه تر پښې شوه　　　ما وې اوس دِ دَ غمزې توره پکښې شوه
بیا دِ جنگ وته خونرېزه شمله پرېښوه　　　چه دِ توره دَ غمزې په غاړه کښېښوه
حق ناحق به دِ پدا توره ورژل څوک

ډېري سَمي کېږې آروم ځني مرمه　　　چا ته دم وهلي نشم غصې خورمه
چه دَ واړو ځواب وکړم توان لَرمه　　　دَ وگړي جفا ستا دَ پاره وړمه
که نه زه دا رنگ وگړي دا زغمل څوک

پدا شکر چه ئې هونبره خوبي درکړه　　　ته هم تل پخوار عاشق باندي نظر کړه
دَ رقیب او دَ غماز خاوري په سر کړه　　　تا پخپله سپینه خوله خوشحال ته ورکړه
گڼه دَي دا هسي شونډي کښلول څوک

# مربع

دریغه بیا مو دوه پدوه وبله راز وي    لا يَو راز وَيَلي نه دَ بل آغاز وي
ستا له لوريه واړه ناز لما نياز وي    په مزه مزه خواږه وَيل باز باز وي

همیيشه په هغه خوي کښ چه دِ خپل ؤ    هغه خيال چه دِ دَ زلفو دَ وربل ؤ
دا خسته خاطر مي هسي لکه تل ؤ    فراغت بې غمه تا سره دمساز وي

چه به تا پياله دَ ميو را کَوَله    ستا د شونډو دَ بوسې سَرَه مي څښله
زه هم مست وي ته هم مسته لايعقله    ميخوري دِ په سر تور په کرېوان واز وي

له همه واړه عالمه وَر تړلي    ستا له لاسه دمادم باده خوړلي
صراحيِ خندا کَړي شمعي ژړلي    په جهان کښ خو دا دوه توکه انباز وي

پدماغ کښ برنده ناسته وَي مخ راته    التفات دِ له خودئ نه کړي و ما ته
دَ ځواب پځاي چه سوال وکړي و تا ته    زه خسته دِ په ښکنځلو سر فراز وي

ښه آواز که دَ بربط دَ موسيقيار دئ    يا دَ چنگ دَ مغني يا دَ مزمار دئ
دَ رباب دَ چار تارې يا دَ بل تار دئ    مه وي دا ستا دَ چوړا ؤ ښه آواز وي

دَ وصال پکارمرانئِ دست رس وي    لکه وه تر هغه مينه يو په لس وي
په نېکخواه باندِي ښادي هوا هوس وي    پډېر غم کښ څهره زرده دَ غماز وي

چه ئې وليدې دَ يار پخط و خال کښ    په هزار رنکه خوښئ ئې په وصال کښ
هونبره غم بيلتانه کښېښ په خوشحال کښ    مه بيلتون وي مه ئې دا سوز و گداز وي